Pukhto.Net
پښتو

# ګلونه په شپېلونو



محمد زرین پَرېشان

ګلونه په شپېلونو

محمد زرین پَرېشان



خراش او تراش دَ فن دَ باریکیو نزاکتونه دی
ښهٔ فنکار د خپل فن دَ دُرخو نه ناوې جوړه کړی

مأ په هزاره کښې ورله ښهٔ سر څنه کړې ده
اوس په نوی ګُهول ده چې پښتو نه ناوې جوړه کړی

پَرېشان

حمنٔ پبلی کیشنز چارسده
HAMNA PUBLICATIONS

دَ کتاب نوم: ګلونه په شپېلونو
مصنف : محمد زرين پَرېشان
صنف: شاعري
وړومبے چاپ: ۱۹۹۶ء
دويم چاپ: ستمبر ۲۰۱۲ء
شمېر: ۵۰۰
ټائټل: ایکسپرټ ګرافکس پېښور
کمپوزنګ: حيات روغانے. نصير محمد لېونے
کره کتنه: قمر صحرائی. اختر جاويد اختر
محمد علي خپلواک. نصير لېونے
دچاپ ځائے: حمنٰی پبلیکېشنز چارسده
بيعه: ۲۰۰ روپۍ (سعودي عرب ۵۰ ريالونه)
درابطې اړيکې: عربستان: ۰۰۹۶۶۵۰۹۸۴۳۱۸۸
عربستان: ۰۰۹۶۶۵۹۵۸۲۳۶۸۸
پاکستان: ۰۰۹۲۳۳۱۹۲۹۵۹۷۲
پاکستان: ۰۰۹۲۳۰۱۸۱۴۱۳۲۷

دَ موندلو درکونه:

- سرحد بُک ډپو جمجائی بازار. بټګرام
- يونيورسټي بُک ايجنسي خيبربازار. پېښور
- ملت پبليکېشنز چارسده
- عربستان پښتو ادبي ترون. (سعودي عرب)
- قاري نسيم نيوز ايجنټ بټګرام

# ترون

## امير حمزه خان شينواری

ستا په اننګو کښې دَ حمزه دَ وينو سُره دی
تهٔ شوې دَ پښتو غزل خوان زهٔ دې بابا کړم

## اجمل خټک بابا

غټان غټان، نېکان نېکان پېدا دی
دوی خو له خایه جنتيان پېدا دی
ځئ هغې خوارو له جنت وکټو
څوک چې له موره دوزخيان پېدا دی

## رحمت شاه سائل

تار تار پروت دے، چا راټول نهٔ کړو سائله
دَ پښتون ګرېوان مثال دَ پښتنو دے

www.pukhto.net

# دَ ننده‌یاړ دَ غورځنګ شور
# شاعر زرین پَرېشان

شعر دَ درد، دَ ګلاب ژبه ده. دَ دغې ګلاب په پاڼو کښې رنګ هم وي، خوشبو هم. موسم هم وي، منظر هم. دَ یوُ فنکار دَ زړهٔ درد ډېرې خورې ورې رشتې لري. دَ کور، چم ګاونډ، کلی کلوښې نه واخله، دَ علاقې اوُ خپل وطن دَ پُولې پُولې پورې خورې دغه دشتې دَ ټولنیز ژوند په سُود اوُ زیان، هره مینه هره وفا، هر ننګ اوُ غېرت کښې نهٔ یوازې دَ ځان پېژندګلو کول غواړی، دا دَ هر قسم فعالیت ته هم پکښې هوسیږی اوُ ګواښیږی.

دَ شعر دَ ابلاغ زور دَ منلو دے. چې مونږ دَ لر اوُ بر پښتانهٔ ئې دَ یوُ بل سره پېژندګلو کړی هم یُو اوُ اشنا کړی هم. کنې چرته مونږه اوُ چرته دَ هزارې دَ بټګرام دَ غرونو، خوړونو اوُ سیندونو منظرونه اوُ رنګونه..... بیا په تېره تېره چرته مونږه اوُ چرته دَ هغې سیمې دَ مینې دَ ننګ اوُ غېرت نعرې سُورې. اوُ دَ یوې پښتنې رشتې دَ دردونو داسې فنی اظهار چې زمونږ په غوځو زړونو دې ؤلګی. داسې چې سره غاړه غټیې شی، یوُ بل ته ؤګوری، یوُ بل ښکول کړی اوُ دَ یوُ بل نه دَ خپل درد دَ رشتې اوُ دَ دغې رشتې دَ صورتِ حال تپوس ؤکړی.

ما چې دَ کله نه دَ خپل وطن دَ یوې دغسې علاقې دَ غرونو نه راوتې نغمې اوُ شعر اواز اوُرېدلے دے، زهٔ دَ دغې ژبې اوُ دغې شعر دَ یوُ داسې کېفیت سره اشنا کړے یم، چې ئې زما په زړهٔ اوُ ذهن کښې دَ یوُ نوی ژوندی پښتون پېدا کېدو اوُ دَ بېدارېدو اُمید پېدا کړے دے.

زهٔ چې دَ دغې ځائے دَ شاعرانو دَ شعری ژبې خوږو ته ؤګورم، نو ما ته ځان دَ پښتونخوا دننه دَ یوُ پښتون په حېثیت ډېر نیشت نیمګړے اوُ ناخبره ښکاری، چې مونږ دَ خپلو دغو پښتنو سره دَ پښتو پښتونولیې دَ یوې جوړې جارې رشتې باوجود څهٔ رشته لرو.



ما ته خو ځان دَ دې ځائے نورو پښتنو په شان پر اوُ ملامته ښکاری، چې مونږ دَ سیاسی تنظیمونو اوُ ادبی تنظیمونو لرلو باوجود دغه پښتانهٔ نهٔ پېژنولی دی اوُ نهٔ مو پېدا کړی دی. بلکې داسې ګنم، چې هم هغوی مونږ ته اواز کړے دے، چې "اے پښتنو! اے په پښتو مئینو! لږې سټرګې ؤغړوئ. مونږ هم دلته په هزاره کښې په بټګرام کښې دَ ننده‌یاړ دَ خوړ په غاړه دَ زمانو نه اباد یُو. ژبه مو یوازې پښتو نهٔ ده، لهجه مو هم هغه ده، په کومه چې ډېر پښتانهٔ پوهېږی. په دې حواله دَ زرین پَرېشان دغه شعرونه زمونږ اوُ دَ هغوی دَ دغې رشتې دغه ګیلې مانې یوازې ګیلې مانې نهٔ دی، بلکې زمونږ په کوتاهیې اوُ بې غورۍ پورې خندا هم ده، چې وائی:

> دَ بټه ګرام شډل شډل پښتانهٔ
> دَ هزارې په ژرنده دل پښتانهٔ
> دا خو زمونږه شاعری وه کنې
> زرینه! مونږ ته چا وئېل پښتانهٔ؟

اوُ شاید مونږه لا اوس هم نهٔ هغوی لیدلی دی اوُ نهٔ مو پېژندلی دی. په هر حال مونږ دغسې دَ ډېرو قامی اوُ اجتماعی المیو ښکار پاتې شوی یُو، چې یوه پکښې دا هم ده. زما یقین دے چې کهٔ چرې دَ دغه ځائے پښتانهٔ ملګری دَ خپل پښتون دَ وینې وینې تاریخ نه خبر وی اوُ دَ پښتنو دَ غلامیې دَ اوږدو اوږدو دورونو نه هم خبر وی اوُ بیا دَ دې نه هم خبر وی، چې دَ پښتون غونډې فعال اوُ ننګیال قام خلاف چې دَ نړیې کوم قوتونه ډېر زیات حساس پاتې شوی دی اوُ اوس هم دغه قوتونه دَ پښتنو نه قلار نهٔ دی اوُ غواړی چې دا قام ورک کړی اوُ تالا ترغه ئې کړی اوُ دوی به په دې هم پوهېږی، چې کهٔ مونږ دغو پښتنو ته نهٔ یُو رسېدلی نو دا به څهٔ ناشنا خبره نهٔ وی، ځکه چې پښتون قام په مجموعی ډول اوس هم توټې توټې پروت دے اوُ خپل کرېوان ئې لا دَ نړیې دَ غاصبانو نه ازاد کړے نهٔ دے. پښتون دَ خپل کرېوان کوم تار راټول کړی اوُ څنګه ئې ؤګنډی؟ شاید دغه فکر اوُ



www.pukhto.net

دغه غم زمونږ دَ ټولو شریک دے، خو مونږ دَ یوُ شریک درد په انګن کښې دَ اوسېدو باوجود یو بل نهٔ دی لیدلی اوُ یو بل نهٔ پېژنو. دا سوال به په شریکه حل کول غواړی. په دې تېرو ورځو کښې ماسخوتن کور ناست وُم. یوُ ماشوم را ته ؤوې، چې مېلمانهٔ دی. زهٔ چې حجرې ته راغلم، نو زرین پَرېشان سره نور څلور پنځهٔ ملګری ناست وو، چې اکثریت پکښې شاعران وو. دَ هغوی په اسرار ما هغوی ته خپل یوُ تازه غزل واؤروهٔ اوُ دَ هغوی نه مې هم واؤرېدل. بیا پَرېشان دَ خپل کتاب دَ چاپ خبره ؤکړه اوُ ما ته ئې پرې دَ څهٔ لیکلو دعوت راکړو. هغهٔ خپل کلام داسې وخت کښې راؤلېږلو، چې دا وخت زهٔ ډېر ناؤزګاره اوُ ناقرار یم. یعنې دَ روژې په نهمه ورځ. زمونږ دَ دې ورځو شپو په حواله زمیندار روبنه یوُ متل کوی، چې "دَ لوُ لور ورځو کښې دَ زمیندار مور مُړه شوه اوُ دَ کنډُو په سر ئې کېښوده"، خو دَ دغه ځائے دَ شاعرانو مینه هم ډېر ډُرنه وه اوُ حق ئې هم ډېر زیات. نو زهٔ ناست یم اوُ دَ هغوی په شاعرۍ دَ څهٔ ماتې ګوډې رائې اظهار کوُم.

ما په خپلو تمهیدی ټکو کښې وئېلی وو، چې شعر دَ درد دَ کلاب ژبه ده اوُ دَ درد په رشته کښې ډېر وسعت وی. ښاغلے زرین پَرېشان کهٔ یوُ طرف ته په بټګرام هزاره کښې ژوند کوی، چې دَ پښتونخوا دَ نورو لیکوالو سره ډېره کمه رابطه جوړېږی نو بل طرف ته دَ خپل کور کلی اوُ وطن نه لرې په ریاض (عرب) کښې دَ مسافرۍ ورځې شپې تېروی اوُ محنت مزدوری کوی، خو هغه دَ دې هر څهٔ باوجود شاعری کوی اوُ چې شاعری کوی، نو کهٔ دَ ننډهیاړ دَ چپو خوا ته اوسېږی اوُ کهٔ لرې په ریاض کښې، دَ درد اوُ دَ مینې رشته ئې دَ خپل وطن خپل اولس اوُ خپلې خاوُرې سره وی. دَ پردی وطن هر رنګ ورته پردے ښکاری اوُ دَ "پردی وطن" دَ عنوان لاندې وائی.

اختر پکښې پردے دے، محرم پکښې پردے دے
سحر پکښې پردے دے، هم ماښام په دې وطن کښې



دا دَ پښتو خوش قسمتی ده اوُ دَ پښتون خوش قسمتی هم ده چې چرته هم پکښې فنکار پېدا کېږی، نو دَ هغهٔ په ساه ساه کښې دَ وطن اوُ دَ وطن دَ خاوُرې اوُ دَ قام مینه وی. داسې مینه چې کهٔ چرې خاوُرې هم شی، نو په لاس کښې ئې دَ دغې مینې ګل پاتې وی. ما ؤلیدل، چې دَ بټګرام دَ غرونو دننه دغو فنکارانو تل دَ دغو غرونو، رغو، خوړونو اوُ سیندونو تصویرونه جوړ کړی دی اوُ دَ خپلې ویرې پښتونخوا ټولو حساسو پښتنو ته ئې دَ اوازونو په شکل کښې را رسولی دی. زرین پَرېشان هم دغسې یوُ تصویر تر مونږ را رسوی.

مونږ دَ نښترو چینارونو سیوری
مونږ دَ تورغر دَ چیل واؤرین بادونه
دَ بټه ګرام په مرغزارې خاوُرې
مونږ دَ ننډهیاړ دَ اباسین موجونه

یوُ مفکر اِسکن وائی، "یوُ دولت مند خپل ورک شوے دولت نهٔ شی سندره کولې، خو یوه پېغله خپله ورکه شوې مینه سندره کولې شی". مونږ دَ اِسکن په مطلب په اسانه پوهېدے شو اوُ هم په دې نظر چې ما دَ زرین پَرېشان شاعری ؤلوسته. دَ دهٔ شاعرۍ په مجموعی وجود کښې چې کوم درد اوُ ارمان دے، هغه اجتماعی دے ذاتی نهٔ دے. دَ یوُ فنکار دَ ذات په حواله خبره کول هم په اصل کښې دَ اجتماعیت غم وی. زرین پَرېشان هم دَ خپل ورک شوی محبت سندره وئېلې ده. کهٔ ځان ئې ژړلے دے، هم ئې په دغه حواله ژړلے دے،

ځوانی څهٔ وه، دَ پردی دَکلی شپه وه
دَ باران دَ بلۍ لاندې مې ژړل زړهٔ
مینه څهٔ وه؟ دَ لمبو دَ سیوری خوب ؤ
چې څهٔ نهٔ کېدل، هغه را نه غوښتل زړهٔ

زرین پَرېشان څوک دے؟ څنګه دے؟ څهٔ کوی؟ چرته اوسی؟ څنګه ژوند کوی؟ چرته ژوند کوی؟ زهٔ دَ دې نه ناخبره یم اوُ دا ټول سوالونه



www.pukhto.net

زما دَ پاره څۀ معنا هم نۀ لري. خداے دې وُکړي، چې زرين پَرېشان لکه دَ خپل دغه تخليق اؤ دغو شعرونو پاک صفا اؤ معصوم انسان وي. ځکه چې دَ فن سره سره دَ فنکار ذات هم خلق په دغه تله کښې ور اچوي، خو زۀ خو دَ هغۀ په دې کتاب کښې دغه شعرونو ته گورم، دغه تصويرونو ته گورم، چې پکښې دَ مينې، ننگ وفا، غېرت اؤ عظمت سبق دے اؤ ما ته په فني ژبه بيا بيا دَ
قومي غېرت اؤ روحاني قدرونو دَ الني پالنې دَ تاکيد اظهار کوي.

دَ زرين پَرېشان شاعري دَ نن دَ روايتي شاعرۍ يوه په زړۀ پورې نمونه ده. لکه چې دَ نن دَ پښتو دَ شاعرۍ په اواز کښې دَ قام غم، دَ جانان غم، دَ لوږې تندې غم شامل دغه ټول رنگونه دَ دۀ په شاعرۍ کښې هم شته.

زرين پَرېشان نظم هم ليکي، غزل اؤ قطعه هم اؤ دا شايد دَ دې دور په زړۀ پورې دَ شاعرانو خوښې هم اؤ دَ خلقو دَ خوښې صنفونه هم دي. پَرېشان شاعري دَ کله نه کوي؟ دا ما ته پته نشته، البته دَ هغۀ دَ شاعرۍ دَ رنگ نه داسې ښکاري، چې هغه دغه فني سفر ډېر په منډه منډه کړے دے، هر څو کۀ هغه په مکمل طور خپل انفراديت نۀ دے ځرگند کړے. خو دغې مرحلې ته رانزدې دے. ما ته ئې وروستۍ شاعري دَ وړومبۍ نه ډېره کاميابه ښکاري. په دې شاعرۍ کښې چې سړے دَ دۀ دَ شعر توان اؤ جذبې ته گوري، نو لکه چې دا دَ دې لارې نۀ سترے کېدونکے لاروے دے.

دَ دۀ په دې کتاب کښې ډېر داسې شعرونه دي، چې دَ نمونې دَ پاره ئې زۀ پېش کولے شم، خو دغه شعرونه دومره ډېر دي، چې داسې به گرانه شي. دَ دۀ ټول نظمونه ډېر دَ کار دي، خو "خپل واک"، "خپله خاوَره" اؤ "پښتنه مينه" نومې نظمونه ئې دَ دغو ټولو صفتونو عکاسي کوي.

ما ته هم دا پته نشته، چې دا کتاب دَ پَرېشان وړومبے کتاب دے، کۀ دوېم درېم دے. هر څۀ چې دے، دا به نۀ يوازې دَ پښتو ادب په ذخيره اؤ خزانه کښې يوه په زړۀ پورې اضافه وي. بلکې دَ دغو



غرونو نه راوتې هغه تحفه به وي، چې بايد دَ لرې اؤ برې پښتونخوا پښتانۀ پرې وياړ هم وُکړي اؤ مست هم شي پرې. دَ پښتنو حالات اگرچې نن سبا ډېر نازک دي. هره پېښه اؤ هره مسئله ئې نن دومره ژوره شوې ده، چې دَ فن لويه سخن ئې هم دَ راغونډولو اؤ اظهار نه عاجزه ده. بيا هم دا ژوندے قام دے. هر غم ئې اکثر په سندرو په نغمو کړے دے. زۀ يقين لرم، چې پښتانۀ په هېڅ حالت کښې هم دَ فن اؤ نغمې دَ خوږو نه غفلت وُ نۀ کړي اؤ دې فن پارې ته به هرکلے وُوائي.

ما ته دا هم احساس دے اؤ هره مسئله ئې نن دومره جوړه شوې ده اؤ دې فنپارې ته به هرکلے وُوائي.

ما ته دا هم احساس دے، چې دَ دغو غرونو دننه دَ ليکوالو اؤ فنکارانو دَ پښتونخوا دَ ليکوالو اؤ فنکارانو ته ډېرې گيلې دي. دَ دې گيلو اظهار هغوي په ډېرو ليکونو کښې وخت په وخت کړے دے، خو کۀ زمونږه دغه فني رشتې اؤ دغه دَ درد مشترک رشتې يوُ ځل سره ورغاړه وتې، نو ټولې بېگانگۍ به ختمې شي. دا زمونږ دَ ټولو نه څۀ نا څۀ قرباني غواړي اؤ بايد چې مونږ دَ دې قربانۍ دَ پاره خپل ځانونه تيار وُساتو. دا چې مونږ تر اوسه څۀ نا څۀ اشنا شوي يُو. دا هم زمونږ دَ دغې فني، کلتوري اؤ سياسي ماتو گوډو هلوځلو برکت دے. اوس خو مونږ ايله يوُ بل وينو، يوُ بل پېژنو. لرې به نۀ وي، چې مونږ يوُ وجود اؤ يوُ روح شو. دَ ښاغلي زرين پَرېشان دغه اشاره چې،

نۀ مې گل، نۀ مې غوټۍ دَ هزارې کړو
هسې وُ مې خوږ زرينه! په غزل زړۀ

دغه اواز کۀ دَ زرين دَ غزل دے اؤ کۀ دَ دغې سيمې دَ چا بل شاعر مونږ ته گُل هم دے اؤ غوټۍ دَ هزارې هم. دا به يوازې دَ هزارې غوټۍ نۀ وي. دا به دَ ټولې پښتونخوا غوټۍ وي.

زما دعا ده، چې خداے دې دَ دغه خاوَرې هر شاعر اؤ هر فنکار دَ ټولې پښتونخوا دَ زړۀ درزا کړي.



www.pukhto.net

دَ لوی رحمان بابا په قول،

چې کشور دَ افغانانو معطر کړي
دَ هر بېت مصرعه مې زلفې دَ خوبان کړې

په درناوی
رحمت شاه سائل
۱۹۹۶/۲/۱ع



# ګلونه په شپلونو

دَ شاعرانو متعلق ډېرو نامتو اؤ پوهه خلقو لیکل کړی دی. هر چا دَ خپل مزاج اؤ پوهې مطابق دَ شاعر تعریف کړے دے.

زما په خیال شاعر دَ نازکو احساساتو اؤ جذباتو خاوند وی. دغه احساسات دَ چاپېرچل، اولسی زیاروني اؤ کلتوری رنګونو متعلق هم کېدے شی. شاعر حقیقتاً دَ یؤ لوړ شعور مالک وی اؤ تل دَ دغه نازولی شعور پالنه هم کوی. دغه شعور دَ رومان، معاش، سیاست اؤ فطرت متعلق اؤ یا دَ کائنات دَ نورو شیانو په لړ کښې هم کېدے شی. بعضې شاعران رومانی شعور ته اهمیت ورکوی اؤ بعضې فطری شعور دَ شاعرۍ اغېزه ګڼی. بیا داسې شاعران هم تېر شوی اؤ شته، چې دَ هغوی شاعری په یؤ وخت دَ یؤ نه زیات څېزونو شعور اؤ ادراک ورکوی. یقیناً دَ پښتو عظیم شاعر خوشحال خان خټک هم داسې شاعر تېر شوے دے. زمونږ ګل ورین اؤ نازک خیال شاعر زرین پَرېشان یقیناً په هغه شاعرانو کښې شمارلے کېدے شی، څوک چې دَ ډېرو څېزونو متعلق پوخ اؤ ښائسته خیال اؤ شعور لری. دَ ښاغلی دَ کلام دَ لوست نه دا اندازه ډېره په اسانه لګېدې شی، چې زمونږ دا شاعر دَ انتهائی حساسیت حامل شاعر دے. داسې شاعر چې خیال اؤ فکر ته دَ تصنع جامې نهٔ ور اغوندی. قلبی کېفیات اؤ شعری واردات لکه دَ یؤ رښتین امانت ګر اولس ته ړدی. دغه خاصیت زرین پَرېشان دَ خپل ډېرو هم عصرو شاعرانو نه ممتاز کوی. هسې هم سُوچه وی اؤ کوته کوته. دَ پَرېشان شاعری لکه دَ بودۍ ټال ډېر زړهٔ راښکونکی رنګونه لری اؤ لوستونکے لکه یؤ تماشبین دَ دغه رنګونو په تماشه مجبوروی. یا دَ زرین پَرېشان دَ شاعرۍ هر رنګ دومره پوخ، شوخ اؤ ښکلے دے، چې لوستونکے اؤ تماشبین ورته دَ فیها اؤ مافیها دَ احساس نه بې پروا په وختونو وختونو ولاړ وی. پَرېشان دَ دې ناترسې معاشرې یؤ غم ځپلے غړے دے. پښتانهٔ دَ



www.pukhto.net

تاریخ په هر دور کښې دَ معاشی تنګسیاګانو ښکار پاتې شوی دی. دَ معاش طلب پښتون تل بې کوره اوْ بې وطنه کړے دے. زمونږ ډېرې تپې، لوبې اوْ چاربېتې دغه تاریخی حقیقت بیانوی، لکه دېخوا نن هم پښتون معاشی غمونو اوْ فکرونو بې کوره کړے دے. زرین پَرېشان دَ پښتنو ژړلو دا معاشی سفر نهٔ خوښوی، خو دا هم منی چې پښتنو ځلمو بغېر دَ دغه مسافرۍ نه ګزران هم نهٔ کېږی. هغه په خپل ځانګړی انداز کښې خپله داسې بیانوی،

په سعودی پسې ځلمو کړې زړې پېغلې ځُونه
په شته مېړون کښې دَ کونتون دَ حد نه هور ته نهٔ شی

کهٔ هر څومره څوک په زړهٔ سخت وی اوْ لړې وی، خو دَ اختر شپه ضرور په کور تېروی. دغه شپه دَ مرور دَ پخلا کولو شپه وی. دَ تربګنو اوْ دښمنو دَ ختمولو شپه وی، دَ خپلوۍ دَ خوږ احساس دَ راژوندی کولو شپه وی، خو څوک چې په زرګونو میله لرې دَ وطن نه په پردۍ خاوره کښې مېشته وی، په هغهٔ به دَ اختر شپه ډېره ډْرنه اوْ بوږنوونکې تېرېږی. زرین پَرېشان دَ یؤ غریب الوطن مسافر احساسات په خپل ډې شعر کښې ځاے کړی دی، چې

دَ اختر شپه ده، په خندا خندا به ډېر اُودهٔ شی
زرینه! ډېر به په په سلګو سلګو اُودهٔ کړی اختر

زرین پَرېشان دَ چا انتظار سترے کړے دے. انتظار هسې هم ډېر سخت شے وی اوْ چې بیا کله دَ محبوب دَ راتلو انتظار وی، نو بیا دغه انتظار دَ مرګ نه هم سخت وی. زرین پَرېشان دَ چا څهٔ داسې قسمه انتظار لېواله کړے دے اوْ چې انتظار ډېر "پَرېشان" کړے دے، نو بې اختیاره ئې وئیلی دی،

نهٔ تهٔ راځې، نهٔ خوب راځی، نهٔ وخت تېرېږی په ما
نهٔ ختمېدونکې شوګیره ده، راشه! ماته ئې کړه!

انسان کمزورے مخلوق دے. بشری تقاضې انسان نور هم کمزورے کوی. دغه کمزورتیاګانې کله نا کله انسان ډېر بې وسه اوْ مجبور



کړی. زرین شاعر دے اوْ دَ شاعر متعلق وئېلے شی، چې شاعر لازمی طور دَ عشق سیلۍ وهلے وی اوْ هم داسې سیلۍ شاعر په رومانی شعرونو وئېلو راپار کړی. زرین پَرېشان سپین سپېځلے شاعر دے. هغه یؤ مینه ناک خیالات لری، چې څهٔ محسوسوی، هغه بغېر څهٔ دَ ریا اوْ وېرې بیانوی. دا شعر ئې په دې لړ کښې څومره حسن اوْ بې ساخته پن لری،

واعظه! نهٔ یم زهٔ زرین بت پرست نهٔ یمه، خو
چې سر مې ښکلو ته ټیټېږی، زهٔ به څهٔ وْکړمه؟

عاشق دَ رقیب وجود منلو ته هېڅ کله تیار نهٔ وی. دې ته هم تیار نهٔ وی، چې دَ هغهٔ اشنا چا بل چا سره لار واخلی. شاید دَ دغې خاصیت په وجه عاشق ته تل غېرجمهوری وئېلے شوی دی اوْ دا ځکه چې عاشق دَ مینې تاج محل کښې دَ بل چا حصه نهٔ منی. زرین هم دا خبره لږه په لطیفه لهجه کښې څهٔ داسې کوی،

شکی مزاج مې دړې وړې کړی مېنې اعتماد
چې په محفل کښې دَ بل چا سره ګوی خبرې

دَ زرین پَرېشان دَ شاعرۍ جاج دَ اخستو نه پس دا خبره څرګندېږی، چې دَ ښاغلی دَ شاعرۍ اکثره برخه رومانی رنګ لری ولې زرین دغه رومانیت هم دَ پښتو په چوکاټ کښې ساتی. هغه خپله پښتنه مینه نهٔ رسوا کوی اوْ خپلې مینې ته دَ چا ګوته نیول لوی سپکاوے ګنی. هغه مینه کښې دَ صدق اوْ اخلاص قائل دے اوْ غواړی، چې هر څهٔ په جانان لُوګے لُوګے کړی. دَ هغوی دَ کلام لاندینی رومانی شعرونه دَ هغوی دَ سپېځلتیا اوْ لوې مینې ښائسته مثالونه دی.

چرته زما سر اوْ چرته ستا درشل
دا خاوړې قابل مې دَ تندی نهٔ دی
جوړې به دې زلفو له ګجرې کړمه
لا زما شعرونه ګُلالی نهٔ دی



www.pukhto.net

دَ پانزیب په شڼ مې مات کړه تسلسل دَ انتظار
یۀ دَ نیمې شپې سلام دې صدقه کړه دَ خوانۍ

دَ زرین شاعرۍ کښې وطن سره مینه ډېره بیان شوې ده. پښتون دَ خپل وطن متعلق دومره حساس وی، چې په مړینی هم خان پردی وطن کښې ښخولو ته تیار نۀ وی. پښتون تل په وطن سر ورکړے دے اۀ تل ئې وئیلی دی، چې په هر چا خپل وطن کشمیر وی. زرین پَرېشان یۀ پښتون شاعر دے. دَ هغۀ خپلې خاوړې سره بې کچه مینه ده. دغه مینه هغه په ښکلو ښکلو شعرونو لیکلو لمسوی. څۀ به زۀ دَ مثال په توګه وُلیکم، ځکه چې دَ پَرېشان په شاعرۍ کښې هر رنګ وافره اۀ پرېمانه دے. په لاندینو څو شعرونو زۀ خپل قلم دَ کاغذ نه راکاږم اۀ دا فېصله په لوستونکو پرېږدم، چې زرین پَرېشان دَ هغوی په نظر کښې څنګه اۀ څومره دے،

مونږ دَ سنګینونو په سرونو باندې هم خاندو
مونږ لکه ګلونه په شپلونو باندې اوسو

کۀ سُور سالو را له کفن کړې دَ وطن ملوکې!
ستا دَ وربل نه سنګرونه تا له زۀ جوړوم

دے خپلواکه کران وطن زرینه! څو ترقي وُکړه
پکښې هر شے جاپانے دے، واک اختیار امریکنے دے

ما وې "محبوبې! څُو وطن پرېږدو" نو وُ ئې وئېل
"دَ وطن مینه دَ جانان په بدل څنګه ورکړم؟"

په ډېر درناوی
افسر علی خان افسر
(ګولډمېډلسټ)



# دَ زرین پَرېشان دَ شاعرۍ مجموعه "ګلونه په شپلونو"

زما دَ پَرېشان صېب سره لیدۀ کاتۀ په ریاض کښې دَ "عربستان پښتو ادبی تړون"، چې پَرېشان صېب ئې صدر هم دے، په سبب ملګرے شوم اۀ پېژندګلو وُشوه. په عربستان پښتو ادبی تړون کښې تقریباً دَ شلو نه زیات لیکوال اۀ ښۀ پوهه شاعران دی.

زۀ خو به زیات نۀ پوهېږم، چې دَ یۀ ښۀ شاعر دَ شاعرۍ جاج واخلم، خو بیا هم زۀ به دَ خپل وس اۀ سوچ مطابق دَ پَرېشان صېب په شاعرۍ څۀ نا څۀ بحث دَ پَرېشان په اجازت وُلیکم.

په پښتو کښې په هر دور کښې دَ خپل خپل وخت ښۀ نامتو نامتو شاعران تېر شوی دی اۀ دغه شاعرانو دَ خپل خپل وس اۀ توان مطابق دَ پښتو ژبې ښۀ ډېر خدمت کړے دے اۀ چې دَ یۀ قام دَ ادب پنګه ډېره وی، نو نۀ هغه ژبه روکېدې شی اۀ نۀ هغه قام. وائی، چې دَ کوم قام ژبه ورکه شوه، نو هغه قام ورک شو. ژبه په ادب ژوندۍ کېږی اۀ ادب په لیکوالو اۀ شاعرانو ژوندے وی. لیکوال اۀ شاعران دَ قام سترګې ګڼلې شی. په کوم قام کښې چې داسې لیکوال اۀ شاعران نۀ وی، نو هغه قام ړوند وی. ولې چې دا شاعران اۀ لیکوال خپل قام ته په معاشره هغه هر څۀ په ګوته کوی، کوم چې دَ وخت حکومت یا دَ خودغرضه لیډرانو دَ طرف نه قام سره غداری کېږی، نو هم دا لیکوال دَ هغوی خلاف اواز اۀ قلم اوچتوی اۀ دَ قام څلمی دې سره خبر شي اۀ دَ دوی ملګرتیا کوی. خصوصاً کومه چې تعلیم یافته طبقه ده، هغوی دا اواز ډېر زر محسوسوی اۀ مرسته ورسره کوی.

نو خبره مې دَ شاعرانو کوله. وائی، چې پخوا یۀ دور داسې هم تېر شوے دے، چې دَ هغه وخت شاعرانو به دَ هغه وخت دَ باچا په عزت کښې مدحې وئېلې. هغوی ته به درباری شاعران وئېلے کېدل.



www.pukhto.net

دا هغه دور ؤ، چې دَ اجتماعی ضرورت په خاطر به دَ وخت باچا ضرورت پوره کول عبادت گنلے شو. خو اوس هغه وخت نهٔ دے. اوس داسې دور دے، چې شاعران پکښې دَ پخوا مقابله ډېر هم دی اؤ حساس هم. نن یؤ حساس شاعر دَ یوې نظریې دَ پاره خپل ژوند هم بخښلے شی، خو دَ چا جولۍ ته ځان غورځول خپل توهین گنی. دَ شاعرانو مثال دَ هغه خود کاره کېمرې دے، چې څوک روغ وی، نو روغ تصویر ئې اخلی اؤ چې بُرگ وی، نو بُرگ تصویر ئې اخلی. په نورو الفاظو کښې دَ شاعر دَ خُلې په وتلې ټپه پښتنو اکثر دَ جنگ په سنگر کښې برے موندلے دے. وائی، چې پښتانهٔ په یؤ گران محاذ کښې دَ دښمن مقابلې نه په شا روان شوی وو، چې په دغه وخت یوه پښتنه پېغله (ملاله) راغله، چې دَ خوراک سخاک سامان ئې دَ جنگ مېدان ته راوړے ؤ، نو دا پېغله په یوه اوچته ډېرۍ ؤدرېدله اؤ دا ټپه ئې ؤکړه،

کهٔ په مېوند کښې شهـيد نهٔ شوې
گرانه لالیه! بې ننگۍ له دې ساتمه

دې سره په پښتنو کښې دَ ننگ اؤ غېرت هغه جذبه را اوچته شوه اؤ په یوه چغه واپس په دښمن ورغلل اؤ برے ئې ؤموندلو. دې نه علاوه په دنیا چې څومره انقلابونه راغلی دی، نو په هغې کښې دَ انقلابی شاعرانو لوی لاس وو. خوا هغه په نظم کښې وو اؤ کهٔ په نثر کښې وو، خو هغوی خپل فرائض پوره کړی دی.
اوس دَ صنفونو خبره منځ ته راځی، نو هر صنف په خپل خپل ځاے کار کوی. دَ لیکوال اؤ شاعر په ذهن کښې زیات کار کوی. خو هغه غزل وی یا نظم وی یا نثر. پخوا به غزل کښې دَ جانان ذکر کېدو، خو اوس پکښې دَ جانان جانان وطن ذکر کېږی اؤ کهٔ زلفې یادېږی، نو دَ بارودو خوشبوی ورسره دَ عطرو په ځاے یادېږی. نظم خو دَ بدلون دَ پاره غوره صنف ؤگنلے شو، نو اوس خبره بیا هغه ځاے ته راځی، چې په ذهن دَ کوم فکر قبضه وی، هغه فکر په هر څهٔ حاوی کېږی. دَ دې قسم فکرونو په خاوندانو کښې دَ پَرېشان نوم هم شمېرلے



شی. دَ پَرېشان په ذهن هم تقریباً تقریباً قبضه دَ بدلون دَ فکر ده. زهٔ به دا ؤوایم، چې دَ پَرېشان په شاعرۍ کښې یعنی رنگ شته اؤ په بعضې نظمونو کښې دومره په فطری انداز دَ خپل وطن دَ خوار اولس دَ حال عکاسی کړې ده، چې سړے ورته حېرانېږی. بلکې حد ئې کړے دے. لکه یؤ نظم "دروغژن اختر" ئې داسې یؤ مثال دے، چې نور رنگونه پرې نهٔ خېژی. لکه وائی،

زړې زړې لوکو وهلې جامې
وړې وړې تنگې شلېدلې جامې
دَ کنډون نهٔ وې چې گنډلې ئې وے
تنۍ پرې نهٔ وې چې تړلې ئې وے

دا هغه فکر دے، چې اُودهٔ احساس راویښوی. هم په دې نظم کښې دَ دې خوارې ماشومې داسې عکاسی کوی، چې

نرۍ نرۍ ئې بهېدله پوزه
په لنده ساه کښې ئې راکښله پوزه
سپینه په ترخ کښې ئې کُوزه نیولې
دَ ستنې خوا کښې ؤدرېدله غلې

دا یؤ حقیقت دے اؤ دَ دې حقیقت نه سترگې اړول دَ پَرېشان دَ شاعرۍ نه سترگې اړول نهٔ دی، بلکې دَ یؤ حقیقت نه سترگې پټول دی. هم په دې نظم کښې وائی،

په یؤ نرۍ شان وېرروونکی اواز
په ساه ماتونکی غرېؤ نیوونکی اواز
ؤ ئې وئېل، "ما له شوملې راکړئ!
څهٔ بېکانۍ سرې غلې راکړئ!"

دَ پَرېشان شاعرۍ کښې هغه اواز دے، دَ کوم اواز ضرورت چې زمونږ دَ وطن دې بدبخته قام دَ خوبه بېدارولو ته دے. دَ "دروغژن اختر" دا نظم سړے دَ ځان سره داسې ملگرے کړی، چې ورسره دَ زړهٔ درزا هم یوه کړی اؤ دا ماشومه چې څنگه حرکت کوی، دا هر



www.pukhto.net

څهٔ سرے الهامي طور سره داسې محسوسوي، لکه چې په رښتيا ئې مخې ته دا هر څهٔ لګيا دي، کيږي. دلته پَرېشان دَ يؤ کور نهٔ، بلکې دَ معاشرې دَ هغه ټولو کورونو خبره کړې ده، چې دَ دې ماشومې خبره نهٔ اؤرې اؤ دَ خپلو ماشومانو په سنګار بوخت دي. دا دَ پَرېشان دَ فن جوهر دی، چې زهٔ ئې په دې نظم سره دومره متاثره کړم، چې دَ ماشومې دَ زړهٔ درزا سره زما دَ زړهٔ درزا ملګرې شوه.

کافر مې نهٔ کړې!:

په دې نظم کښې خو پَرېشان دَ تش نوم دَ مذهب لارښودونکو نه بيخي احتجاج کړے دے، لکه وائی

نن جوړې بيا چرته مېلمه تلے وے
دَ محلونو خاوندانو کره
دَ بخملينو زر زرى شالونو
دَ قالينونو خاوندانو کره

ژوند:

دلته دَ دې عنوان لاندې وائی،

حُورې اؤ غلمان، ټول جنتونه ترې لُوکے کړمه
چا چې په سنګر دَ خپلواکۍ وينې شيندلې وي

په دې شعر کښې هغه هر څهٔ پراتهٔ دي، چې هډو قيمت نهٔ لري. خکه چې څوک په سنګر کښې وينې شيندل غواړي اؤ هغه هم دَ خپل قام دَ خپلواکۍ له مخه، نو يؤ عام سړے به مړ شي، خو داسې شاعر نهٔ مړ کيږي، چې هغه ژوندۍ شاعري کوي. زهٔ په دې ډېر فخر کؤم، چې زمونږ په پښتنو کښې دَ خپلواکۍ غوښتونکی شاعران شته اؤ دا صرف دَ بټګرام زرين پَرېشان نهٔ دے، چې هغوی به پرې فخر کوي، بلکې دا دَ ټولې پښتونخوا فخر هم دے اؤ ناز هم.

دَ يُون کاروان اؤ سياست:

دَ دې عنوان لاندې پَرېشان دَ خپل فن په ګوتو ډېر ښکلی تصويرونه جوړ کړی دي.



ولولې:

دلته څهٔ وائی،

کهٔ ما څوک ډَيوې ورځې په دې وطن باچا کړی
يؤ څو ليډران وژنم اؤ يؤ څو مُلِيان ترم

دلته ئې داسې خواهش څرګند کړے دے، چې په ظاهرى توګه خو يوه وړه غوندې خبره ښکاری، خو منطقى لحاظ سره دوی سمندر په کُوزه کښې دَ بندولو پوره کوشش کړے دے.

دَ پَرېشان يؤ غزل دَ بل غزل نه ښکلے دے اؤ زما چې کوم غزل ډېر خوښ دے، هغه دا دے.

دا خر خاؤرين کورونه شيش محلې لګېدلې
دَ دې کلی کوڅې تا سره ښکلې لګېدلې

يعنی دَ خاؤرې دَ کورونو هغه ښائسته ښائسته ډېوالونه زمونږ دَ پښتنې ژوند عکاسی کوی. خو چې پکښې دَ جانان ذکر راشی، نو دا کوڅې په جانان ښائسته ښکاری اؤ جانان په دې کوڅو کښې ښکلے ښکاری، نو بيا دا خر خاؤرين کورونه دَ شيش محلو نه زيات حسن لری.

زمونږ کلے:

بوتکی بوتکی کورونه څو ښائسته دے زمونږ کلے
ساده ساده عالَم ئې دے، ساده دے زمونږ کلے

پَرېشان صيب چې کوم ساده والے اؤ ښائست بيانوی، نو داسې ښکاری، لکه چې دَ هر چا په زړهٔ کښې ناست وی. ولې چې دَ پښتنو روايات کښې څهٔ هم دَ علاقائی ماحول له کبله معمولی غوندې بېلګوت لری، خو بيا هم دَ پښتنو رواياتو نه بيخي يؤ دی.

پښتو، پښتونولۍ اؤ پښتانهٔ روايتونه
درنو درنو جامو کښې په سرونو پګولونه
درنې درنې پګړۍ، شمله شمله دے زمونږ کلے



www.pukhto.net

په دې مصرعو کښې پَرېشان دَ پښتنی تهذيب اؤ ثقافت هر څۀ داسې په ډاګه کړی دی، چې تر اوسه پورې چا هم نۀ دی ښودلی. بل ځائے وائی،

ټولګی ټولګی همزولی چم په چم ؤلی ګپونه
جرګه جرګه راغونډ وی ځائے په ځائے کښې محفلونه
کوڅه کوڅه محفل، حجره حجره دے زمونږ کلے

زۀ پَرېشان صېب دَ بټکرام دَ اړخه دَ خپل ځان دَ پاره لارښود ګنم، ځکه چې دَ بټکرام دَ غرونو، خوړونو، کانو بُوټو اؤ ماحول نه زۀ بيخی ناشنا ؤم. کۀ څۀ هم خبر شوم، دا دَ پَرېشان صېب په ژبه کښې پوهه شوم اؤ زما زړۀ ډېر غواړی، چې ما يؤ ځل دَ بټکرام په کوڅه کوڅه کښې پَرېشان ؤګرځوی، چې دا هر څۀ زۀ په حقيقت کښې ؤګورم. شاعری دلته دَ بټکرام دَ ښائست غمازی کوی، خو بيا هم هر يؤ پښتون په زړۀ کښې وائی، چې ګنې دا زما کلے دے.

اختر دَ چا دے؟:

دَ دې عنوان لاندې پَرېشان صېب وائی،

زما دَ کلی ګرېوانونه تار په تار پراتۀ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

دلته دَ پَرېشان صېب مطلب دَ کلی دَ هغه خوارانو نه دے، دَ چا ګرېوانونه چې دَ وخت دَ ظلم په لاس تار تار شوی دی، خو په دې حال کښې هغوی دَ اختر دَ خوشحالو نه هم احتجاج کړے دے. بل شعر کښې وائی،

چې وړی وړی ماشومان شی په نغرو کښې اُودۀ
لکه بربنډ مست ملنګان چې په مزار پراتۀ وی

دا دَ غريبۍ دَ هغه سړو نغرو ذکر دے، چې دَ بې وسۍ نه پکښې په ورځو ورځو هم اور نه بلېږی.

معيار:

دلته وائی،

چې هره خښته ئې لونده وی دَ مزدور په خوَلو
خپله جونګړه به په داسې محل څنګه ورکړم؟

پَرېشان صېب په مزدور ډېر خفه دے. دے غواړی، چې دَ خود دارۍ جونګړې يؤ مُوتيے واښۀ هم دَ مزدور په خوَلو جوړ يؤ کبرژن محل بدل نۀ کړی. دا هم دَ مظلوم دَ پاره دَ حق ګټلو چغه ده.

خپل واک خپله خاؤره:

دَ دې عنوان لاندې ليکی،

سترے کاروان پراؤ پراؤ قافلې
چرته په لاره لاره پاتې نۀ شی

دا ده حساسه شاعری. دا هغه فکر دے، چې دَ شاعرۍ دَ ښکلا دَ پاره کافی رنګ لری.

نمر په ګوته نۀ پټېږی. زۀ خپله خبره په لنډه ختمول غواړم. زرين پَرېشان ضلع بټکرام دَ بازارګی کلی دَ خان جان نثار خان کره زېږېدلے دے، چې هغو دَ هغوی دَ خپل دور يؤ نُومه وړے خان ؤ. خو دَ پَرېشان مزاج کښې دَ خانۍ هغه مخصوص انداز نشته. کوم چې خانان دَ نورو خلقو نه جدا کوی. دَ پَرېشان دَ خوی نه دا څرګندېږی، چې ګنی دا به هم خان وی. ځکه خو وائی،

دا دَ دولت طاقت ترې لرې کړه! دَ بخت ورکړے
بيا ئې را ايسته کړه! چې خان څومره سړے ښکاری

دې نه دا معلومېږی، چې پَرېشان دَ حقيقت هغه کره مجموعه ده، چې خپل ځان دَ مجازی شهرت په سانچه کښې اچول نۀ غواړی، نو دَ دوی دَ شاعرۍ مجموعې به دَ حقيقت سره څومره نزديکيت لری. ما په سر کښې وئيلی وو، چې په عربستان پښتو ادبی ټرون کښې دَ شلو نه زيات پوهه پوهه شاعران موجود وی، خو دَ پَرېشان صېب په

www.pukhto.net

شاعرۍ کښې هغه ټول رنګونه موجود دي، کوم چې دَ يوْ پوهه شاعر په شاعرۍ کښې ځائيږي.

پَرېشان صېب کهٔ يوْ طرف ته دَ خوار اولس دَ حق دَ ګټلو دَ پاره چغه وهی، نو بل طرف ته ئې دَ رواياتو لمن هم ښهٔ کلکه نيولې ده اوْ زهٔ دا په يقين سره وايم، چې دَ پَرېشان صېب دا کتاب به په پښتو اوْ پښتونولۍ اوْ پښتونخوا کښې ځان ښکاره کړی اوْ زهٔ دَ پښتنو نه دا هيله لرم، چې هغوی به دَ پَرېشان دَ دې کاوشونو ډېر قدر وکړی اوْ زهٔ په دې شعر دَ کتاب دَ لوستونکو له منځه وځم.

په يوْ سوال ګری پسرلی کښې پښتو
دَ يار په سپور وربل کښې ګُل نهٔ منی

عمرزاره افغان

۱۹۹۵/۹/٤ء

رياض. المملكة العربية السعودية



# شعر اوْ شعور

يوْ شعر چې دَ شعور په پراخه دنيا کښې تخليق وکړی، نو په هغه شعر کښې به جمالياتی حس ته غږ هم وی. دَ رنګ اوْ نُور، ګُل اوْ سپرلی، ښائست اوْ ښکلا، ځوانی اوْ شباب، مستی سندرې به هم وی اوْ ټولنيز ژوند کښې چې يوْ شاعر په شعوری طور څهٔ محسوسوی. دَ وخت اوْ حالاتو ترجمانی به هم کوی. کوم شعر چې دَ ژوند دا ټول خوارهٔ اوْ تراخهٔ تاؤدهٔ اوْ سارهٔ لری. دَ لوستونکی توجه ځان ته راکاږی. څکه خو زمونږ دَ نوی دور شاعری اوس فقط دَ ګل اوْ بلبل، زلفو اوْ رخسار تابع نهٔ ده. بلکې دَ وخت اوْ حالاتو دَ ضرورت تر مخه پکښې ډېر څهٔ موجود دی.

دَ شعر اوْ شعور په رنا کښې چې مونږ دَ زرين پَرېشان شاعرۍ ته ګورو، نو دا په دعوې سره وئيلے شو، کهٔ ښاغلے پَرېشان دَ خپل وطن غرونو اوْ سيندونو، ابشارونو، ګل اوْ سپرلی څهٔ ته هم کتلی دی، نو شعری محسوسات ئې ويښ دی. څکه خو دَ هغهٔ په شعرونو کښې کهٔ چرته دَ ګل نزاکتونه دی، نو ورسره ازغے ازغے فکر هم شته.

محمد زرين پَرېشان دَ بټګرام (هزارې) اوسېدونکے دے. چرته چې دَ پښتو يوْ شعر سره اوْ شاعر سره دَ هزارې نوم راشی، نو ذهن ته دَ دې پښتنو دَ بېدارۍ ولولې وُدرېږی اوْ دَ ټولې پښتونخوا شاعران په هزاره کښې دَ پښتو اوْ پښتون تحريک سره دا پښتانهٔ شاعران، اديبان يادوی. څکه چې هم دغه ملګرو په ټوله هزاره کښې دَ پښتو اوْ پښتون نوم داسې پرېښودلے دے، لکه "نمر په چينارونو" دَ ښاغلی زرين پَرېشان دا يوه قطعه زما دَ دې خبرې ثبوت دے،

دَ بټه ګرام شډل شډل پښتانهٔ
دَ هزارې په ژرنده دل پښتانهٔ
دا خو زمونږه شاعری وی کنې
زرينه! مونږ ته چا وئيل پښتانهٔ



Pukhto.Net
www.pukhto.net

مونږ چې دَ زرین پَرېشان په شعرونو کښې دَ غزلو دَ ښکلا اؤ نزاکت سره سره انقلابی فکرونو ته پام ؤکړو، نو دَ پښتو اؤ پښتون ټولې محرومۍ اؤ دَ دغه محرومو خلاف یؤ مبارز اظهار دَ شاعر شعوری قدوقامت ښائی اؤ ورسره په دغه رنګ شاعرۍ کښې طبقاتی شعور هم ملګرے دے اؤ دَ ړوند عقیدت نه هم باغی دے. دَ پښتو اؤ ښتون په شان کښې دَ شخصیت پرستۍ هېڅ دلیل هم نهٔ منی. "خنداونه" نومې نظم کښې وائی،

کهٔ دَ ستر خوشحال بچے دے کهٔ دَ فخرِ افغان خوے دے
چې پښتو ته خنډ و خار شی، اورنګے دے، پیرنګے دے
چې څوک خان ته پښتون وائی اؤ پښتو ونېلے نهٔ شی
کهٔ ډېر خان سره لیکی خان، دَ خانانو پرکتے دے
چې پښتو وائی، پښتون وی اؤ پښتون قام پرست نهٔ وی
کهٔ نرغوټې هر څو غرېږی، ورته څوک وائی "زمرے دے؟"

زرین پَرېشان چې پخپله شاعرۍ کښې دَ وخت حالاتو دَ تقاضو تر مخه کوم خیالات را یؤ ځاے کړی دی، نو دَ دې څخه مونږ دا ونېلے شو، چې دهٔ ټولې شعری اؤ شعوری تقاضې پوره کړې دی. "کلونه په شپلونو" کښې دَ شاعرۍ دوه دورونه په نظر راځی. دَ پښتونخوا دَ قوم پرستۍ اؤ دَ وطن دَ اولس دَ محرومیو شاعری اؤ دوېم دور دَ غزلو دے. دَ نظم په پښتنی قام پرستۍ شاعرۍ کښې هم هغه احساس دے، کوم چې عام طور نورو شاعرانو په شعری ژبه کښې بیان کړے دے. خو دَ پَرېشان په شاعرۍ کښې دا محرومی په ډېر شدت سره ښکاری، ځکه چې هغه دَ دې کتاب زیاته شاعری په پردی وطن کښې کړې ده. چونکې په پردی وطن کښې دَ شاعرۍ حس ډېر ویښ، نازک اؤ حساس شی. دَ وطن اجتماعی اؤ انفرادی محرومۍ په اعصابو په زیات شدت سره اثر انداز کېږی، نو پَرېشان هم دَ داسې رنګ کیفیت سره مخ شوے دے اؤ دا تاثر ئې دَ غزلو په ژبه کښې زیات ښکاری. دَ بېلتون دَ تاثر یؤ څو نمونې.

مهٔ خه! چې خې، نو ساه مې خی درپسې
دَ غرېوه ډک زړګے مې ځوی درپسې
دَ فراق فکر مې جنون لمسوی
دَ زغم لمن مې سیرَوی درپسې

اؤ دغسې دا بله نمونه،

ما بوځه دَ یار چم ته، تماشو ته مې زړهٔ کېږی
وه خوبه! دَشیرین جانان کوڅوته مې زړهٔ کېږی
حجاز اؤ دَیثرب خلق عجم ته سپک کتل کوی
زرینه! خپل وطن ته ځکه تلو ته مې زړهٔ کېږی

•

چا له لاسونه دَ نکریزو سره سرهٔ کړی اختر
چا له سرې سترګې سترغلی په ژړا شنهٔ کړی اختر
اختر دَ کور محلت دَ چم کلی سره جوړېږی
دا بې وطنه بې اسرې چا سره ؤکړی اختر
دَ اختر شپه ده، په خندا خندا به ډېر اُودهٔ شی
زرینه! ډېر به په سلګو سلګو اُودهٔ کړی اختر

کهٔ دَ ښاغلی پَرېشان دا رنګ شعری پرېشانۍ را ټولوو، نو دَ خپلې خبرې دَ دلیل اؤ ثبوت دَ پاره ما ته دَ دهٔ هر شعر دَ ؤچو شونډو پاړونه ښکاری. لکه چې دَ عربستان په تؤدو شګو کښې بلال ګرمه ګرمه ساه اخلی ــــــــــ لکه چې حُسېن تندې نیولے دے. دَ عربو په تؤدو شګو کښې چې یؤ پښتون شاعر دَ خپلې پښتونخوا غږ خپروی. خپل اباسین یادوی. خپل نندهیار ژاړی، خپل دنګ دنګ غرونه اؤ چینارونه یادوی، نو دَ شاعر دا جذبه زهٔ دَ احمدشاه ابدالی په دې شعر نمانځم،

دَ ډیلی تخت هېرؤمه چې را یاد شی
زما دَ خپلې پښتونخوا دَ غرو سرونه

www.pukhto.net

دَ پښتونخوا دغه فکر اؤ ارمان دَ پَرېشان دَ شعر په رڼا کښې داسې دے،

چې ئې په غاړه صحرائی کړې دَ صحرا سندرې
شوې دَ ننديهار چېې دَ مينې دَ ښکلا سندرې
چې اباسين ته غورځنګيږی، دا ټپه به کوی
ډېرې خوږې دی دَ دې ګرانې پښتونخوا سندرې

په ډېر درنښت
نورالبشرنويد (پېښور)
۱۹۹۵/۱۲/۷ء



# "ګلونه په شپلونو"

اول دَ باغ مالياره زهٔ وُم
اوس دَ شپالۀ په خوا کښې کنکی ټولؤمه

"ګلونه په شپلونو" کهٔ يؤ طرف ته دَ ګل فطرتی حسن اؤ خوشبو خوروی، نو بل طرف ته دَ انسانی ذهن حس ارو مرو دا خبره قبلوی، چې په شپالۀ کښې خو ازغی (غنې) وی، بيا پَرېشان پکښې ګُلان څنګه ړدی؟ دَ دې خبرې وضاحت دَ کتاب لوستل دی. "ګلونه په شپلونو" يؤ جامع کتاب دَ وخت په ازغن ازغن ماحول کښې په نظام ټکونه، دَ مئينو ترانې، دَ زرين پَرېشان دلسوزيات اؤ احساسات دی، کوم چې دَ شعر په خوږه پسته اؤ شېرينه ژبه دَ لفظونو جادوګری ده. "ګلونه په شپلونو" دَ پَرېشان وړومبۍ شعری مجموعه ده. مجموعه څنګه، چې دَ جمع نوم دے. په دې جمع ليکوال ته دَ مصنف نوم ملاويږی، خو نن سبا دَ منصنف (Author) نوم خپلولو دَ پاره ځينې ملګری دَ خوش فهمۍ ښکار شی. چې مصنف ورته ؤوئېلے شی، نو کتاب چاپ کړی، خو زرين پَرېشان دَ دغو ټولو نه جدا يؤ ستر انفراديت لری. هغه انفراديت دَ شعر تول پارسنګ هم کېدے شی اؤ مشاهده اؤ تجربه هم کېدې شی، خو زما په خيال هغه دَ پَرېشان دَ عمر حصه ده، چې دَ ځلوښتو کلونو نه بره ده. هم دغه وجه ده، چې پَرېشان دَ نوم کولو يا (Popular) جوړېدلو نهٔ، بلکې دَ پښتو اؤ پښتون دَ ودې اؤ ارتقاء نوم دے. ښاغلے يؤ قادرالکلام شاعر دے. دا خبره زهٔ دَ پَرېشان دَ کتاب دَ مسوَدې په رڼا کښې کؤم. دَ پَرېشان شاعری دَ جدت نه ډکه ده. مشاهدې اؤ آمدی تخليق په رڼا کښې سمسوره اؤ په زړهٔ پورې شاعری ده. نوؤ نوؤ استعارو، کنايو اؤ اعلی خيالی وجدان دَ پَرېشان په شاعرۍ کښې ښکلا، ځلا په څورلکونو کړې ده. دَ پَرېشان شخصيت پخپل ذات کښې انجمن دے. دَ پښتو



www.pukhto.net

ادبي ځانګې بټګرام باني او دَ هېواد نه لرې کېدو په وجه هلته عربستان کښې هم دَ "عربستان پښتو ادبي ترون" صدر دے. ولې کۀ زۀ دَ ښاغلی په ادبي خدماتو ليکل شروع کړم، نو مضمون به بل رخ اختيار کړي ............ کۀ څنګه؟

"ګلونه په شپلونو" دَ ښکلو ښکلو غزلو، نظمونو، قطعو او دَ رباعياتو نه عبارت دَ پښتو دَ شعري ادب يو نۀ موندونکی او نۀ هېرېدونکې خزانه ده. معيار او مقدار دوه داسې توری دی، چې په اولنی خو يو ليکونکے مصنف جوړېدے شي، ولې دَ اولس ترجماني، دَ شعرونو ژوندی ساتل او دَ خلقو په زړونو حکمراني نۀ شی کولے. څکه دَ مقدار قائل نۀ يم. دَ پَرېشان کلام دَ معيار پېمانه او دَ تغزل ښکلې نمونه ده. يو ښۀ، معياری او په زړۀ پورې شعر ليکل شاعرانه علم غواړی. پَرېشان دَ شعر و سخن په لوازماتو پوره پوره عملی ښکاری. په عام فهمی، ساده او اسانه روانه ژبه کښې دَ پَرېشان شعرونه دَ لوستلو قابل دی.

شاعرانه تعلّی هم هغه شاعرانو سره خوند کوی، چا چې دَ پښتو ادب څۀ نا څۀ سرڅنه کړې وی. دَ پښتو ادب خدمت خپل تخليقی صلاحيت پکار راوستل هم دی او ادبي روزنه هم. ښاغلے دَ دې دواړو خبرو نه مُبرا نۀ دے، څکه دې حقيقت ته څۀ دا رنګ کوته نيسی،

نۀ مې ګل، نۀ مې غوټۍ دَ هزارې کړو
هسې ؤ مې خوړ زرينه! په غزل زړۀ

دَ هزارې په سينه کښې هندکيان دَ پښتنو نه په شمېر کم دی. ولې بيا هم زمونږ دَ ولايت په لرو پرتو برخو کښې هزاره دَ هندکی په نوم ياديږی. پَرېشان چې پښتون فطرت لری، دې خبرې ته داسې رنګ ورکوی، او يا لکه دا قطعه

دَ بټه ګرام شډل شډل پښتانۀ
دَ هزارې په ژرنده دل پښتانۀ



دا خو زمونږه شاعری وه کنې
زرينه! مونږ ته چا وئېل پښتانۀ

بل ځاے دَ فطرت په دې ښکلې خاوړې پښتو له زيات اهميت ورکوی او وائی،

چې پښتو په هزاره کښې دَ پښتون کړم
په هزار ځله دې ما باندې احسان دے

زرين يو پښتون انسان او پښتون شاعر دے. دَ زرين سندرې يا اواز صرف تر هزارې دَ لمن پورې محدوده نۀ دے، بلکې دَ ګردې پښتونخوا اواز دے. په پښتونخوا مئېن دَ پښتنو دې خاوړې ته يو ځاے کښې داسې وائی،

چې اباسين ته غورځنګېږی، دا ټپه به کوی
څومره خوږې دی دَ دې ګرانې پښتونخوا سندرې

شاعری کۀ يو پله دَ حسن، رنګ او ښکلا ژبه وی، نو بل پله شعر ويونکے خپله انتهائی حساس وی. هم دغه حساسيت دَ پَرېشان دَ شاعرۍ ښکلا ده. پخپل يو اُوږد نظم "دروغژن اختر" کښې دَ دغه انسانی مساواتو او مسلمانۍ څۀ ښکلې منظرکشی کړې ده.

په يو نری او وېرووونکی اواز
په ساه ماتونکی غرېو نيونکی اواز
وئې وئېل، "ما له شوملې راکړئ!
څۀ بېګانۍ سَرې غلې راکړئ!"

زما نزدې يو کتاب يا يو شعر پخپله ځان ته کوته نيسی، کۀ په هغې کښې څۀ کشش وی، نو دَ لوستونکی خپله رائې هم دَ کتاب معيار ؤګرځی. زرين پَرېشان په رښتيا شاعر دے او رښتينې شاعری يقيناً چې خوږه، خږه، ښکلې او په زړۀ لګېدونکې شاعری وی. دَ نن سبا دې مجازی شېخ ته څۀ بې تکلفه وائی،

شېخه! دَ تسبو تَسا دې دې کوڅه کښې زياته شی
فکر دې کافر دے، خو شيخی دې مسلمانه ده



www.pukhto.net

انقلابي ذهن لرونکے پَرېشان دَ وخت دَ ناکړدو نه ګیله من اباسین ته څهٔ داسې زورنه ورکوی، چې

راشه اباسینه! دَ اغیار کورونه وران کړه!
پس به دې منم
راوړه انقلاب، دَ غلامۍ بندونه وران کړه!
پس به دې منم

دَ شاعر متعلق دا مشهوره ده، چې دَ مینې بادخپلے وی، نو ستی ستی اؤ دَ مینې لېونے وی. ځکه ئې خو ځینې شعرونه خالص دَ رومان څاڅکی وی. ولې زرین پَرېشان ټوله وېنا صفا، سُوچه اؤ په ډاډه زړهٔ کوی. څهٔ ښکلے فطرتی رنګ لری. بلکل بې رویه بې ریا وائی،

زړهٔ مې په هر چا مئېنيږی، زهٔ به څهٔ وُکړمه؟
زما اختیار پرې نهٔ چلیږی، زهٔ به څهٔ وُکړمه؟

اؤ چې دَ محبوب سترګې وُوینی، نو دَ دې تصادم دغې نظارې ته دومره اهمیت ورکړی، لکه چې وائی،

هر څهٔ به خطا کړم دَ لحد دَ فرښتو مخکښې
هسې نهٔ چې هلته را ته ستا سترګې سوالونه شی

شعر واقعی چې شیرین اؤ خوږ وی. منظور نا منظور دَ مختلفو ذهنونو اؤ نظریو سره اړه لری، خو هغه دَ چا خبره شعر شعر بویه. دَ پَرېشان په شاعرۍ کښې داسې څهٔ کمے نشته، چې زهٔ ئې په ګوته کړم. یا خو زما کم علمی دَ لارې دېوال جوړیږی اؤ یا دَ پَرېشان شاعری په رښتیا شاعری ده. په دې نېکو هیلو چې خدائے دې وُکړی، چې پرېشان صېب نور نور ګلونه دَ پښتو دَ ادب باغ نه تاؤ راتاؤ کړی. دَ بسمل کابلګرامی په دې شعر دَ کاغذ نه قلم راکاږم،



بسمله! شاعری چې دَ چا پنکه دَ نجات شی
دُعا ورته کوه، چې دَ قلم طاقت ئې زیات شی

حسېن محمد عادل بټکرامے
ایډیټر: میاشتنۍ "نورغر" بټکرام
دَ جمعې ورځ ۱۹/۱/۱۹۹۶ء



www.pukhto.net

# ”دَ دردونو ټکور
# اؤ
# دَ لفظونو جادوګر“

زهٔ به دَ زرين پَرېشان دَ فن اؤ شخصيت په حقله څهٔ ؤليکم، ځکه چې پَرېشان دَ يؤ مکتب، دَ يؤ دور، دَ يؤ ادب، دَ يؤ کردار اؤ دَ يؤ تحريک نوم دے، چې دومره صفات په يؤ انسان کښې راغونډ وی، نو زما غونډې دَ يؤ طالب چې هغه پښپله زده کوی، نو دَ داسې انسان په فن اؤ شخصيت به څهٔ ؤليکی. خو بيا هم خپل مات کوډ ټکی دَ قلم په ژبه کاغذ ته سپارم. ما چې کومې خبرې ذکر کړې، دَ دې دعوې خو زهٔ ځکه کوُم، چې دَ ډېر وخت نه راهسې زما پَرېشان سره پېژندګلی اؤ ناسته پاسته ده. ځکه چې زهٔ لا وړوکے وُم، چې دَ پَرېشان نه متاثر شوے يم. ځکه چې دَ پَرېشان شخصيت، کردار، قول اؤ فعل اؤ فن داسې دی، چې خامخا به ترې بل متاثر کيږی. پَرېشان يؤ داسې شاعر دے، چې هغه څهٔ وائی، هغسې کوی. دومره مخلص، جانانه اؤ دَ پاکيزه ذهن والا ما ډېر کم ليدلی دی. بل ما ته چې پَرېشان دَ خودرائې کومه لار ښودلې ده، نواوس هم په هغه لاره روان يم. په راتلونکی شعر کښې تاسو هم ؤګورئ، چې څومره استفاده ترې اخستې کېدې شی. وائی چې،

دَ بل په پل دې مهٔ ږده پل، ځان کښې خودی واچوه!
سړے هغه دے، چې په پښپلو قدمونو ګرځی

دغسې په دې بل شعر کښې هم هغوی څهٔ داسې نصيحت کړے دے. وائی چې،

بازونه ښکار کوی ځان له، پښپله دَ بل نهٔ خوری
مُرداره چې ئې بل کړی، ټپوسان ورته ورځی



نن سبا اکثر طبيبان ساده خلقو له لُوتی، چې نهٔ ورڅخه دَ طبابت څهٔ سند وی اؤ نهٔ ئې تجربه وی، خو لباس اؤ دَ ناستې ځاے ئې ډېر شاهانه جوړ کړے وی اؤ چالاکه هم وی. پَرېشان په دې حقله وائی، چې

هر څو کهٔ عمارت دَ اسپتال کندې کپر وی
طبيب ئې چې لقمان وی، بيماران ورته ورځی

دا رښتيا دی، چې هره ناکامی دَ کاميابۍ اولنۍ پؤړۍ وی. کاميابه ژوند هغه دے، چې هغه دَ ناکامۍ دَ مرحلو نه تېر شی اؤ حديث هم دے، چې ”مؤمن دَ يوې سُوړې نه دوه ځله نهٔ چيچلے کيږی“. پَرېشان دا خبره څهٔ په دې ډول کړې ده،

دَ ښهٔ اؤ بد ازمېښت يؤ ځله دے شرط
هوښيار پرې بيا بيا تېرېدلے نهٔ شی

وخت چرې هم په بېرته نهٔ راځی اؤ نهٔ وخت ته زنځير اچولے کيږی. کهٔ چا دَ وخت نه فائده واخسته، نو هغه دَ وخت کاميابه انسان دے اؤ کهٔ چا ورله دوکه ورکړه، نو هغه په ځان څهٔ چې په خپل نسل ئې هم چل ؤکړو. پَرېشان دَ وخت قيمتی کولو خبره څهٔ داسې کوی،

کهٔ څهٔ کړل غواړې کوونکيه! زر زر ؤکړه!
وخت ؤدريږی نهٔ، په مخه ځی روان دے

انسان دَ خطا پُتلا ده اؤ بيا نفس اؤ شېطان ورسره هم دی، نو په يوې خطا دَ کفر فتوې ورکول څهٔ مناسب نهٔ وی. په دې حقله پَرېشان داسې وائی،

په يوه بوسه دې شېخه! دوزخی کړم
يؤ انسان يم،بل مې نفس سره شېطان دے

تاريخ ګواه دے، چې چا په دنيا رښتينې مينه کړې ده اؤ يؤ ځاے شوی نهٔ دی، نو دَ هغو منېنو نومونه تاريخ نهٔ دی قبول کړی. دَ دې تصديق پَرېشان داسې کوی،



www.pukhto.net

هغه خلق تل ژوندي وي، چې په مينه کښې فنا شي
څوک چې مينه کښې کامياب شي، زهٔ خو وايم چې ناکام شو

هوښياران وائي، چې دَ انسان زړهٔ دَ مينې نه جوړ وي او کوم زړهٔ کښې چې مينه نهٔ وي، نو دَ هغه زړهٔ مثال دَ ويران کور وي، نو چې کله زړهٔ دَ مينې نه لبريزه وي، نو لازمي خبره ده، چې دَ دنيا هر ښکلے شے به ورته ښهٔ لګی. څکه خو پَرېشان وائی،

ؤکړم قسم، چې بيا به يؤ ښکلی ته نهٔ ګورمه
خو اخر سترګې دی، جنګيړی، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

او دا بل شعر هم دَ دې خبرې غمازی کوی،

واعظه نهٔ يم، زهٔ زرين بُت پرست نهٔ يمه، خو
چې سر مې ښکلو ته ټيټيږی، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

څوک چې مئين شی، نو دَ هغهٔ نهٔ دَ ورځې ارام وی او نهٔ دَ شپې. څکه چې دَ هغهٔ هر وخت دَ محبوب سره سوچ وی. شپه ئې شوګير وی او وخت پرې نهٔ تېرېږی او دَ خوب نه ئې سترګې ناشنا شوی وی. څکه خو مئين پَرېشان وائی،

نهٔ تهٔ راځې، نهٔ خوب راځی، نهٔ وخت تېرېږی په ما
نهٔ ختمېدونکې شوګيره ده، راشه! ماته ئې کړه!

چې په رښتيا مئين وی، نو دَ هغهٔ زړهٔ دَ غمونو کور وی. په لاندينی شعر کښې دَ دې ډېره ښه اندازه لګی،

دَ زړهٔ ټمبو باندې مې غمه! دستکونه مهٔ کړه!
دا خو ستا خپله دروازه ده، راشه! ماته ئې کړه!

مئين باندې محبوب تل ظلم کوی او مئين ئې دومره وېرولے وی، چې کله محبوب له وينی، نو وحشت پرې راځی. پَرېشان دا خبره څهٔ په دې ډول کړې ده،

هر څهٔ به خطا کړم دَ لحد دَ فرښتو مخکښې
هسې نهٔ چې هلته را ته ستا سترګې سوالونه شی



دروغژن پيران په هره زمانه کښې پاتې شوی دی او په دې زمانه کښې خو ډېر زيات دی. پَرېشان وائی،

دا پېشه وره پيری نهٔ منم، له شرعي خلاف
په شريعت چې برابر وی، کرامت تهٔ رسی

په دې زمانه کښې دَ خوددار انسان هېڅ حال نشته، څکه چې خوددار وی، نو هغهٔ به هره هغه خبره نهٔ منی، کومه چې دَ انسان او مسلمان فطرت خلاف وی. دا زمانه دَ تالی څټو او ټاټمارو ده او دغو بې ضميرو دَ انسانيت حدونه مات کړهٔ. پَرېشان وائی،

په رسیٔ دَ بی وسیٔ مې دَ احساس مری، خپی شوه
په دې ښارِ نا پُرسان کښې دَ خوددارو قتلِ عام شو

زرين پَرېشان کهٔ يؤ پله رومانی شاعری کوی، نو بل پله اصلاحی او ملی شاعرۍ کښې هم بې حده صلاحيت لری. دغسې کهٔ مزاحمتی شاعری کوی، نو هغې کښې هم څان له بېل انداز لری او دَ علامت نه کار نهٔ اخلی، بلکې بېخی څرګنده خبره کوی،

زرينه! کله کله جونګړ وال فکر مې وائی
ورځم يوې بنګلې ته څان سره ټمان تړم

دَ زرين پَرېشان دَ شاعرۍ احاطه کول ډېر ګران دی، خو دا يؤ څو شعرونه ما ذکر کړل، څکه چې دَ پرېشان دَ شاعرۍ وخت ډېر اُوږد دے او کهٔ دَ ټولې شاعرۍ دَ هر غزل يؤ يؤ شعر پېش کړے شی، نو دې نه به يؤ کتاب جوړ شی.

زما په خيال دَ پَرېشان دَ هر غزل هر شعر منتخب شعر دے، دا څکه چې پَرېشان خپل هر شعر له دَ زړهٔ وينې ورکړې دی او دَ پښتو دَ ګلستان ګلونه ئې په خپلو وينو اوبهٔ خوړ کړی دی او چې تر څو پښتانهٔ وی، نو پښتو به وی او دَ پَرېشان پښتنه شاعری بهٔ تر تله ژوندۍ وی. زما دَ دې خبرو تصديق به دَ پَرېشان دَ کتاب لوستو نه وروستو پخپله ؤشی.

قمر صحرائی
چيف ايډيټر: مياشتنۍ "نورغر" بټګرام

١٥/١/١٩٩٦ء



www.pukhto.net

# ما په خیال
# (دَ وړومبی چاپ سریزه)

کرانو لوستونکو! پښتنو اؤ په پښتو مئېنو!

"کلونه په شپلونو" زما اولنے کتاب دے، چې ستاسو دَ نظر دَ جاج لاندې ستاسو دَ لوست منتظر دے. پکار وه، چې دا کتاب ما لس کلونه اګاهو ستاسو خدمت کښې دَ پښتو غېږې ته سپارلے وے، خو دَ ناسازو حالاتو په اساس اؤ دَ وخت دَ ناچاقۍ له کبله تر اوسه زهٔ پخپل په دې زیار کښې نهٔ وُم کامیاب شوے. زما دَ ډېرو ملګرو دا خواهش ؤ، چې زهٔ خپل کتاب چاپ کړم اؤ خپل کلام دَ پښتو مئېنانو ته ډالۍ کړم. نن زهٔ خپل په دې مقصد کښې خپل دَ هغه قدرمنو ملګرو په دعاګانو اؤ دَ هغوی دَ بې کچه مینې له کبله کامیاب شوم اؤ دا دے زما دَ پښتو یوه ادنیٰ ډالۍ ستاسو وړاندې ده.

زهٔ پخپل دې بحث کښې طوالت خکه اچول نهٔ غواړم، چې په دې کتاب سترو سترو پوهانو خپل خپل تاثرات دَ قلم په ژبه کاغذ ته سپارلی دی، خو په روایتی توګه زهٔ به یؤ څو خبرې وُکړم چې دا شان په کتاب کښې دَ مصنف دَ فکر ترجمانی وُکړے شی. هزاره یوه داسې سیمه ده، چې دلته زما په خیال پښتو کمه اؤ هندکو ژبه زیاته وئېلې کېږی. په ضلع هری پور کښې په شمېر سلو کښې لس کسان پښتو وائی. په ضلع ایبټ اباد کښې دا شمېر په سلو کښې خلور دے اؤ په ضلع مانسهره کښې تقریباً په سلو کسانو کښې به پنځوس کسان پښتو وائی اؤ دَ هغې زیات شمېر په پکلۍ کښې دے. لکه دَ اسماعیل ګوهر کلے بفه، دغسې خواجګان، ټانټې، اچهړۍ، بجنه، ډوډیال اؤ نور داسې ډېر کلی چې په هغې کښې دَ پښتو ویونکو اکثریت دے، بیا هم په اوګۍ کښې هم څهٔ کلی داسې دی، چې په



هغې کښې پښتو وئېلې شی. لکه محمد اقبال خان کلے تراؤړه. په هزاره ډویژن کښې بټګرام اؤ کوهستانی ژبه کوی، خو بټګرام یوه داسې ضلع ده، چې په هغې کښې په سلو کښې سل کسان پښتو وائی اؤ زهٔ دَ هغه بټګرام یم. دې نه اګاهو دَ هزارې نه دَ اقبال صېب مجموعه کلام "رښتینې جذبې"، دَ اختر حیات قمر "ګُلِ لاله"، دَ اسماعیل ګوهر دَ هائیکو مجموعه "موسکا"، دَ قمرصحرائی دَ متفرق شاعرانو مجموعه کلام "دَ نندهیار چپې" چاپ شوی دی، خو له ټولو وړاندې دَ آرټس اینډ کلچر کونسل مانسهره اؤ دَ پښتو ادبی څانګې بټګرام په زیار دَ هزارې دَ پښتنو شاعرانو شعری مجموعه "دَ هزارې کلونه" چاپ شوې ده.

دا ټول کتابونه خپل خپل په حېثیت خپل خپل انفرادی مقام لری اؤ دا دَ پښتو دَ ودې دَ پاره دَ هزارې دَ سیمې ښهٔ کوششونه دی. هزاره لکه چې ما وُوئېل، پښتو کمه اؤ هندکو زیاته ده. په هغې کښې دَ پښتو ژبې دومره خدمت کول څهٔ کم نهٔ دی(دوئم خل لیک) د تور غر د ضلعی جوړېدو سره هزاره کښې اوس پښتو اکثریتی ژبه شوه) اؤ نن مونږ دا په جار وئېلے شو، چې مونږ دَ چا نه دَ مورنۍ ژبې پښتو دَ پرمختګ په حقله وروستو نه یؤ ما پخپله دَ هزارې په حقله وئیلی دی،

چې پښتو په هزاره کښې دې پښتون کړم
په هزار خلې دې ما باندې احسان دے

اؤ دغه شان دا بله قطعه چې دَ هزارې دَ سیمې بټګرام عکاسی کوی،

دَ بټه ګرام شډل شډل پښتانهٔ
دَ هزارې په ژرنده دل پښتانهٔ
دا خو زمونږه شاعری وه، ګنې
زرینه! مونږ ته چا وئېل پښتانهٔ؟

نو دا زما دَ دغه ورونو شاعرانو ادیبانو زیار دے، چې دَ پښتونخوا پښتانهٔ مونږ ته په درنه سترګه ګوری اؤ هغه دَ سائل صېب خبره، چې



www.pukhto.net

پَرېشان صېب! ما خو وئېل، چې هزاره کښې پښتو ډېره کمه ده اؤ هلته دَ شاعرۍ تصور بیخی لېونتوب دے، خو اوس چې دَ هزارې دَ شاعرانو شاعری مې ؤلوستله، نو حېران پاتې شوم.

ما هم په داسې ماحول کښې شاعری کړې ده، چې هلته دَ پښتو ادب په نیشت حساب ؤ اؤ په تېره تېره ما خو ټول عمر په سعودی عرب کښې تېر کړے دے اؤ زیاته شاعری مې هم دَ هغه ځاے ده، چې هلته پښتو دَ هزارې نه هم کمه ده، خو هر څهٔ چې وی، ما خپله دغه شاعری خپلو پښتنو وروڼو ته مخامخ کړه. ښه ده اؤ کهٔ بده، خو دغه ده زما شاعری. خو دَ یوې خبرې بخښنه غواړم اؤ هغه دا چې پکار وه، چې دا کتاب په نوې املا کښې چاپ کړے شوے وے، ځکه چې دا دَ وخت تقاضا ده، خو مجبوری دا وه، چې دَ دې کتاب کتابت قمر صحرائی مخکښې دَ "غَلې شوکیرې" په نوم زړه املا کښې کړے ؤ اؤ چاپ ته ئې تیار کړے ؤ، چې ما منع کړو اؤ دَ څهٔ نوی کلام شاملولو سره مې دَ دې کتاب نوم بدل کړو اؤ "کلونه په شپلونو" نوم مې ورله کېښودو، چې په دغه نوم چاپ شو.

زهٔ دَ دې کتاب چاپ کولو په لړ کښې دَ قمرصحرائی صېب ډېر مشکور یم، چې هغوی ما سره په دې کران کار کښې ډېر ځان کړولے دے اؤ دَ ډاکټر فیاض تورخېلی صېب هم ډېره مننه کوُم، چې دَ هغوی په مرسته دا کتاب "کلونه په شپلونو" چاپ کړے شو اؤ په دې شعر اجازت غواړم، دَ خداے په امان.

ما په هزاره کښې ورله ښه سر ځنه کړې ده
اوس په نوی ګـــهول ده، چې پښتو نه ناوې جوړه کړی

محمد زرین پَرېشان



# زه نور هم څه وئیل غواړم.....

خوږو اؤ مینه والو پښتنو لوستونکو! درنو پښتنو! مینې اؤ پېرزؤنې وړاندې کوُم اؤ ستاسو دَ ټولو مننه کوُم، چې تاسو زما کتاب "کلونه په شپلونو" ؤلوستلو اؤ خوښ مو کړو. اوس دومره نایاب شوے دے، چې ما ته پخپله اوس دَ دې کتاب کاپۍ په لاس نهٔ راځی.

کرانو مینه والو! په دې کتاب کښې دَ چاپ په وخت اؤ څهٔ دَ کتابت په وخت کښې دَ ډېرې تادۍ له کبله زموږ نه څهٔ غلطۍ شوې وې، نو ما اؤ زما ملګرو دا ضروری ؤګڼله، چې "کلونه په شپلونو" دَ نوی سر نه په یؤ نوی انداز اؤ دَ نوی ټائټل او نوې املا سره چاپ کړو. دغه شان به دَ غلطیو ازاله هم ؤشی اؤ کتاب به هم لوستونکو ته په موندلو کښې خندونه له لارې لرې شی. زهٔ په دې لړ کښې دَ خپلو پښتو مئینو ملګرو بابو عابد هوټل، اسلم خان بجنی، سعید (ګوُزه بانډه) ډېر ممنون یم، چې هغوی په دې کران کار کښې ما سره مرسته ؤکړله اؤ دَ پښتو ژبې ادب سره ئې خپله عملی مینه ځرګنده کړله. او دَ حیات روغانی مننه کوُم، چې دَ دې کتاب کمپوزنګ ئې پخپله ؤکړو اؤ په ډېره مینه ئې ؤکړو.ورسره ورسره د نصیرمحمد لېونی هم ممنون یم چې هغو بیا په کمپوزنګ د زړهٔ د کومې نظرثانی ؤکړه.خو د بابو صیب چې څومره دَ دې کتاب په دوئم ځل دَ چاپ کولو کوښښونه دی هغه به همیشه زما په زړهٔ کښې دَ قدر وړې اثاثه دَ یو رښتونی پښتو مئین پښتون محفوظ وی.

دَ قمر صحرائی، حسېن محمد عادل، عمرزاده افغان، افسر علی افسر(خداے بخښلی) ، نورالبشرنوید اؤ دَ رحمت شاه سائل ډېره شکریه ادا کوُم، چې دوی زما په دې کتاب خپلې دَ شعوری پوهې درنې لیکنې پېرزو کړې دی. هیله لرم، چې لوستونکی به دَ "کلونه په شپلونو" انداز خوښ اؤ خپل کړی.

په ډېره مینه

محمد زرین پَرېشان

www.pukhto.net

# دعا

دی باطل نور قوتونه، ته برحق ئې
زما خدایه! ته دَ هر صفت لائق ئې
ما کړې معاف که را نه تېرې پاتې کېږی
زهٔ زرین یم ستا بنده، ته مې خالق ئې

# لوئي

که دې لویه دبدبه په دې دنیا ده
دا دنیا دَ هېچا کیږی نهٔ، فنا ده
دَ فرعون غوندې که جوړه هم خدائی کړې
ورله ډېره دَ موسیٰ یوه همسا ده



# ګلونه په شپلونو

مونږ دَ اباسین په پُولو پُولو ښنو بڼونو کښې
مونږ دَ بتېه ګرام په تورو غرونو باندې ووسو
مونږ دَ سنګینونو په سرونو باندې هم خاندو
مونږ لکه ګلونه په شپلونو باندې ووسو

# تصویر

مونږ دَ نښترو چینارونو سیوری
مونږ دَ تور غر دَ چېل واؤرین بادونه
دَ بتېه ګرام په مرغزارې خاؤرې
مونږ دَ نندهیاړ دَ اباسین موجونه

۰٦/۰٤/۱۹۸۹



www.pukhto.net

زهٔ چا کله پېژندمه، چې مې ستا په لوری پام شو
ایله اوس مې نوم پېدا شو، چې په تا باندې بدنام شو

هغه خلق تل ژوندی وی، چې په مینه کښې فنا شی
څوک چې مینه کښې ژوندی وی،زهٔ خو وایمه "ناکام شو"

په رسۍ دَ بې وسۍ مې، دَ احساس مرۍ خپې شوه
په دې ښار د نا پُرسان کښې، دَ خوددارو قتلِ عام شو

دَ ژوندون په هره لاره، ستا دَ کلی لارې ګورم
هر ماښام په ما سبا شو، هر سبا په ما ماښام شو

کهٔ جونګړه شیش محل شی، پکښې پروړه قالینونه
زړهٔ به څهٔ پکښې خوشحال شی چې ضمیر پکښې غلام شو

کهٔ مې زر کاله ژوندون ؤ، خپل منزل ته نزدې نهٔ شوم
دغه عمر څومره لنډ ؤ، دومره زر لاړو، تمام شو

۱۵/۰۵/۱۹۸۹ خېل کلی بازارکی کښې



محبت یؤ افسانه ده، دَ ژوندون په پس منظر کښې
لکه ګل چې دَ سپرلی وی، ټوکېدلے په کنډر کښې

کهٔ دَ کلی ښائستونه، دَ ښکلا رنګونه ګورې
یوه ورځ راشه ګودر ته، دَ سپرلی په مازیګر کښې

دَ سپرلی په مازیګر کښې، منظرونه بام ته رسی
چې غونډ ستی هلکان پکښې راؤځی په چکر کښې

تا په مخ چې پانې پانې، دَ سرخۍ رنګونه جوړ کړل
لکه ګُل چې دَ ګلابو، پانې پانې شی سحر کښې

کهٔ دَ خلقو زړهٔ کښې اوسې، راشه! خلقو ته نزدې شه!
عزت نهٔ دے، کم ظرفی ده، په غرور اؤ تکبّر کښې

دَ هوا په شناز سور ئې، دَ لهرونو منځ ته مهٔ ځه!
هسې نهٔ چې اے زرینه!ځان کړې ډوب په سمندر کښې



www.pukhto.net

تا چې په پښو کښې دَ پانزېب سازونه ؤچېړلهٔ
ما په فضا کښې دَ غزل راګونه ؤچېړلهٔ

دا چې سره سره،اُوبهٔ اُوبهٔ شوه، شکته شکته ګوری
خپل تصوُر ئې دَ کوکو سرونه ؤچېړلهٔ

دَ زړهٔ دنيا کښې مې خاموشه خاموشی ؤسېده
تا مې دَ زړهٔ دَ رباب بيا تارونه ؤچېړلهٔ

چې کوم يؤ رنګ سره زهٔ ستا دَ رنګ تشبيهی ورکړمه
ما دَ ګلاب، ما دَ ياسمين رنګونه ؤچېړلهٔ

تا چې منبر باندې سره څورو رڼا واچؤله
ما ته دې تول مُلا دَ يار نقشونه ؤچېړلهٔ

چرته لېلی دَ بام په سر سرتوره سر ؤخته
څکه خوشبو مې دَ احساس رګونه ؤچېړلهٔ

غمازه! ما به له جانانه بدګمانه نهٔ کړې
تا دَ زرين دَ محبت عزمونه ؤچېړلهٔ

۲۹/۴/۱۹۹۵ الرياض



# زمونږ کلے

بوتکی بوتکی کورنه څو ښائسته دے زمونږ کلے
ساده ساده عالَم ئې دے، ساده دے زمونږ کلے

پښتو پښتونؤلی او پښتانهٔ رواياتونه
درنو درنو جامو کښې په سرونو پکولونه
درنې درنې پګړی، شمله شمله دے زمونږ کلے

تولکی تولکی همځولی چم په چم ؤلی ګپونه
جرګې جرګې راغونډې ځائے په ځائے کښې محفلونه
کوڅه کوڅه محفل، حجره حجره دے زمونږ کلے

پټو کښې، په باړو کښې ئې شينکی شينکی فصلونه
خوارهٔ وارهٔ په پُولو دَ کلونو څادرونه
ګل ګل، غوټۍ غوټۍ، وړمه وړمه دے زمونږ کلے

په ويخ باندې خوړونه، په سر واؤرې شنهٔ شنهٔ غرونه
په غرو اؤ په رغو کښې ئې نښترې چينارونه
هر ځائے کوهے کوهے، چينه چينه دے زمونږ کلے

سپرلے سپرلے موسم ئې، يخ يخ سيورے دَ وريځو
ګودر ګودر ماحول دَ مازيګر دَ هاړ دَ ورځو
فطرت په ننداره کښې هنداره دے زمونږ کلے



www.pukhto.net

دَ ژوند دَ ښکلاکانو، دَ رنګونو، بهارونو
دے ډک زمونږه کلے دَ فطرت د ښائستونو
باران باران اسمان، شبه شبه دے زمونږ کلے

زرینه! زمونږ کلے دَ ننګیالو شازلمیانو
اباد په مزدورانو، دهقانانو، په خانانو
دَ سترو میړنو ستره قصه دے زمونږ کلے

۲۸/۶/۱۹۹۵ الریاض

## غریب جانان

زهٔ په تا فخر کوم، کهٔ تهٔ لا چار ئې
یاره! ما ته ئې باچا، چې زما یار ئې

سل تاجونه ستا دَ پښو لاندې خشاک شه
تهٔ زما دَ زړهٔ ارام، دَ زړهٔ قرار ئې

۲۱/۱/۱۹۸۸ البوادي (جدة)



## خندونه

کهٔ دَ ستر خوشحال بچے دے، کهٔ دَ فخرِ افغان څوے دے
چې پښتو ته خند و خار شي، اورنګے دے، فیرنګے دے

چې څوک خان ته پښتون وائی اؤ پښتو وئیلے نهٔ شی
کهٔ ډېر خان سره لیکی خان، دَ خانانو پرکتے دے

چې پښتو وائی پښتون وی اؤ پښتون قام پرست نهٔ وی
کهٔ نرغوټ هر څو غوریږی، ورته څوک وائی؟ "زمرے دے"

دَ خانانو په تنور کښې، دَ دهقان خوَلې بلیږی
خو دَ خپلې دَ جونګړې ئې سَرې ایرې نغرے دے

قد قامت، شکل صورت کښې، تا نه کم نهٔ دے زرداره!
هر اندام دَ غریب غټ دے، خو ورغوے ئې رغے دے

دَ حدونو زنځیرونه ویشی زمکه، قومیت نهٔ
لر اؤ بر کښې پښتون یؤ دے، کابلے کهٔ پېښورے دے

هر عمل دَ سیاست، دَ بازیګرو لُوټ ماری ده
خو منشور دَ پسرلی ئې، لامبوزن مازیګرے دے

په دې ګل وطن دَ وینو وحشتونه را وریږی
دَ بارودو په ډېری ناست، دَ وطن هر یؤ زلمے دے

دې خپلواکه ګران وطن زرینه! څو ترقی وکړه
پکښې هر شے جاپانے دے، واک اختیار امریکنے دے



www.pukhto.net

هغه زړهٔ چې ستا په نوم ؤ نهٔ درزیږي
وران ویجاړ، کندې کپر دې ؤنړیږي

ستا په هره یوه اوښکه مې قسم دے
هره اوښکه مې په تا پسې بهیږي

ستا دَ زړهٔ په هغه درز، چې دانکې ما له
خورم قسم، چې زړهٔ مې تا پسې ژړیږي

تهٔ زما دَ حال تپوس کوې، نو واوره!
بې له تا یوه کړي، هم نهٔ تېرېږي

دَ ډک جام اؤ دَ مېخوار منځ کښې ساقي دے
زما ستا په منځ کښې هېڅوک نهٔ ځائېږي

مُلا! تهٔ په جنتي شرابو مست ئې
څښکي به هغه، چې په څښکلو څوک پوهېږي

څوک په چار جانان وطن نهٔ پرېږدي دواړه
ډېر بې وسه وې، هېڅ وس ئې نهٔ رسیږي

خدایه! دغه منظر ؤ نهٔ ښائي چا ته
دوه مئېن چې دَ یؤ بل نه جدا کیږي

زرین وائي، هر اعتبار زما په تا دے
خداے دې نهٔ کړي، چې لهٔ تا مې زړهٔ بدیږي

۲۱/۹/۱۹۹۳ حی الوزارات (الریاض)



دا زما مخ دې دَ تورو تور نه تور شي
کهٔ مې ستا لهٔ لوری لور دَ بل په لور شي

چې تا نهٔ وینم، هېڅ نهٔ وینم په سترګو
چې تا ؤوینم، نو سترګې مې څلور شي

ځان ته ؤګورم، چې زهٔ څو هلته نهٔ یم
چې دا ستا په چم کښې ستا کوڅه کښې شور شي

دَ بنو غشي دې تول راپسې سم کړه!
چې زما دَ سترګو تور دَ زړهٔ ټکور شي

تا سره کهٔ ژوند دوزخ وی، هم به تېر شي
بې له تا نه به جنت را باندې اور شي

زهٔ زرین چې هله تا باندې تاوان شم
چې زما مینه په تا پسې پېغور شي

۱۹/٦/۱۹۸۵


www.pukhto.net

په توره شپه کښې ماهِ تابان ؤخندل
کهٔ دَ پلوٗ لاندې جانان ؤخندل

ما وئېل، "را به شي، چې شُومه دم شي"
یوٗ دیوانه ناست په ډېران ؤخندل

دَ شین اسمان تندر راپرېوتهٔ، کهٔ
دَ چا ریښې ریښې گرېوان ؤخندل

چې مقېشې بُکل تري ؤخوئېدهٔ
له شرمه سره شوه، کهکشان ؤخندل

چې بورا واخستې له گلو بوسې
دَ چا نتکۍ، دَ چا پېزوان ؤخندل

هغې وې "خم"، ورته باران کښېوتهٔ
دَ غرهٔ په سر ورته اسمان ؤخندل

چې ستا دَ حسن بلقیس ناوې شوله
زما دَ مینې سلېمان ؤخندل

تا ته چې ما، ما ته چې تا ؤخندل
ما ته نرگس، تا ته رېحان ؤخندل

زرینه! نن ئې جوړ اشنا ؤلیدهٔ
څهٔ مُوده پس چې پَرېشان ؤخندل



چې اوازه په دې وطن کښې دَ سپرلی خپره شی
لکه له سُر وتې تپه دَ لېونی خپره شی

دَ مازیگر تۆدهٔ باموِنه په ماښام کښې لکه
دَ جنگ نه پس دَ جنگ مېدان کښې خاموشي خپره شی

عشقه! جنون شه! دَ اظهار په چغه څُولهٔ ماته کړه!
چې دَ ارمان په سپورو شونډو دې سُرخی خپره شی

دا کوم مقام دے دَ انسان دَ زړ پرسته فکر؟
چې لُوپټه دَ شهزادگۍ په تور حبشی خپره شی

پیکه پیکه دې مېخانه ده، سوٗ نیولی رندان
نظر نظر کړه ساقی! جام، چې تشنگی خپره شی

هغه احساس به په ازغو ولې خوبونه نهٔ کړی
چې په بڼو کښې ئې دَ اوښکو زندگی خپره شی

دَ نن مغل سره ملگری دی بلها بهرامی
څکه خبره دَ خوشحال دَ نغری خپره شی

چې بهانو له لتوې دې بې معنې لفظونه
ډېره ښائسته شې، چې په مخ دې سادَگی خپره شی



www.pukhto.net

په فضا کښې رنګيني ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي
يخه يخه خوشبوي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

دَ چا ستړے انتظار، دَ خپل راتلونکی لارې ګوري
ناقراره بې چيني ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

په ګړۍ دَ انتظار کښې، دَ وخت ستنې ټکنۍ شوې
زړهٔ چاؤدلې بې صبري ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

دَ ماښام په تروږمۍ کښې، چې رېبار په خندا راغے
خامخا څهٔ خوشخبري ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

له ماښامه ډيوې مړې شوې، کلے ډوب شو په تيارو کښې
غوږ څارنې خاموشي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

دَ سړو سړو اهونو سوېل، موسم مې دَ زړهٔ وُچ ؤ
علامه دَ پسرلي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

نهٔ ساقي دومره سخي ؤ، نهٔ مېخوار دومره عادي ؤ
نن څهٔ ډېره مېکشي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

ستوري غلي غلي زغلي، وائي يؤ بل ته حالونه
سترګې سترګې خدائي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي

چې دَ زړهٔ په ولايت به، دَ زړين حکمراني کړي
درنګ ساعت ئې تاجپوشي ده، دوه مئېن جوړ ملاويږي



# سُور انقلاب

دَ دې سرې جنډې دَ لاندې، وخت يؤ سُور انقلاب غواړي
چې بنګلې پکښې لاهو شي، سُور دَ وينو سېلاب غواړي

دَ هر ظلم استبداد نه، دَ هر جبر استعمار نه
ازادي غواړو ملګرو! ازادي غواړو ملګرو!
په دې خپله پښتونخوا کښې، په دې خپل پښتونستان کښې
خپلواکي غواړو ملګرو! خپلوالي غواړو ملګرو!
دَ دې وږو وږو خلقو، دَ دې تږو تږو خلقو
خوشحالي غواړو ملګرو! سوکالي غواړو ملګرو!

دَ دې سرې جنډې دَ لاندې، وخت يؤ سُور انقلاب غواړي
چې بنګلې پکښې لاهو شي، سُور دَ وينو سېلاب غواړي

زمونږ چاؤدې چاؤدې شونډې، زمونږ تراړې تراړې پُونډې
مونږ د پښونه پښې ابله ګرځو، دَ موټرو په وطن کښې
دَ غټانو خېټې کړوکې، کړې زمونږ ساتلو چرګو
مونږ دَ جوارو ټکړو ؤچ کړو، دَ شکرو په وطن کښې
دا زمونږه ليډران دي، چې هر ښار کښې بنګله وال دي
مونږ جونګړو کښې ؤسېږو، دَ نښترو په وطن کښې

دَ دې سرې جنډې دَ لاندې، وخت يؤ سُور انقلاب غواړي
چې بنګلې پکښې لاهو شي، سُور دَ وينو سېلاب غواړي



www.pukhto.net

دا زمونږ په لرګو جوړې، دا زمونږ په بجلو خلاصې
مونږ په هغه کارخانو کښې، دَ اغیارو مزدوری کړو
زمونږ غرونه دَ سرو سپینو، دَ لعلونو سره شلېږی
مونږ په دومره خزانو کښې، دَ اغیارو مزدوری کړو
کۀ پیرنګ ؤ، کۀ اورنګ ؤ، دوارو تیټ نۀ کړلو خان ته
نن دَ وخت په زولنو کښې، دَ اغیارو مزدوری کړو

دَ دې سرې جنډې دَ لاندې، وخت یؤ سُور انقلاب غواړی
چې بنګلې پکښې لاهو شی، سُور دَ وینو سېلاب غواړی

دَ وختونو په ګردش کښې، نۀ خرڅېږم، نۀ تیتېږم
زۀ پښتون اؤ مسلمان یم، یؤ مې دین بل مې ایمان دے
زۀ دَ خپل هېواد په خاوره، خپلواکی اؤ امن غواړم
دا اواز دَ هر پښتون دے، دا اواز دَ باچاخان دے
دَ دې سرې، جنډې دَ لاندې، ما په سور کفن کښې ښخ کړئ
دَ دې سرې جنډې دَ لاندې،جنتی پښتونستان دے

دَ دې سرې جنډې دَ لاندې، وخت یؤ سُور انقلاب غواړی
چې بنګلې پکښې لاهو شی، سُور دَ وینو سېلاب غواړی



ازغې ګل سره اوسېږی، کله ګل نه مرؤر وی
راشه! ما سره پخلا شه! څوک دَ خپل نه مرؤر وی

زۀ به تا نه مرؤر شم، تۀ د ما نه پخلا مۀ شې
کۀ دا ستا دَ زلفو ګل ستا د اوربل نه مرؤر وی

لېونی خو هر څۀ وائی، بې حسابه جنتیان دی
تۀ دې روغ پاګل ته ګوره! دَ پاګل نه مرؤر وی

دَ ماښام په تروږمۍ کښې، اخر یؤ بل سره جوخت شی
ور کۀ ټوله ورځ وی بېرته، دَ درشل نه مرؤر وی

دوه مئین چې یؤه تنکه شان کوڅه کښې مخامخ شی
دغه وخت به ئې څۀ حال وی، کۀ یؤ بل نه مرؤر وی

تۀ له ما نه خفه نۀ ئې، اؤ کۀ ئې، نو لکه داسې
امریکه چې اسرائیل نه، روس کابل نه مرؤر وی

تۀ مې تن ئې، تۀ مې روح ئې، تۀ مې زړۀ، تۀ مې کوګل ئې
زړۀ په یؤ بدن کښې کله، دَ کوګل نه مرؤر وی

کۀ هر څو ئې جوړوی لا ئې په مخ زلفې ورانېږی
کله کله چې زرین دَ خپل غزل نه مرؤر وی

٣١/١٢/١٩٩٣ ساندس هوټل (جدة)



www.pukhto.net

کچه کچه، اومې اومې، خوږې خوږې خبرې
په مینه مینه راسره وکړه دوه درې خبرې

سپرلے سپرلے مې شي احساس دَ مئېن زړهٔ دَ وطن
په گل گل شونډو چې شیندې وږمې وږمې خبرې

شي غوټۍ غوټۍ مې توبه، خوَلې خوَلې حوَصله
چې دَ سرو شونډو په پیالو کښې کړنگوې خبرې

ستا دَ انکار دَ ضد تکرار کښې ستا اقرار گواښیږي
چې زړهٔ دې نشته، نو بیا ولې جنگوې خبرې

شکی مزاج مې دړې وړې کړی مئېن اعتماد
چې په محفل کښې دَ بل چا سره کوې خبرې

زرینه! سپک وئېل، دَ سپکو اوږېدو زېرے دے
دَ پښتنو درنې وي پښتنې خبرې



# انتظار

په تورو تورو شپو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترگو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

سپرلے دے په هر لوری، گلورین مازیگرے دے
خرچاکې مُراوې سترگې، ډېر حسین مازیگرے دے
په سرو شنو لُوپټو رنگین رنگین مازیگرے دے
تهٔ هم کودر ته راشه! لوَنگین مازیگرے دے

په سرو سپینو منگو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترگو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

راځه! چې دَ الفت په زمکه نال کړو چینارونه
دَ مینې دَ جذباتو ورته واچوو ټالونه
رنگین په مشغولا کړو، دا دَ ژوند خواږهٔ وختونه
دَ تورو تورو زلفو راته کېږده بالښتونه

دَ غېږې په للو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترگو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

دَ غرونو سلسلو درته نیولې دي غوړونه
په یوُ بل ئې دَ پاسه اچولې دي مخونه
دا ستا په استقبال ئې اوچت کړي دي سَرونه
په سر باندې ئې واوړې پرتې، وېخ باندې گلونه



www.pukhto.net

دې دنګو سردرو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترګو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

دا کلے دے هغه، چې پکښې مونږه یُو لوې شوی
دَ مینې محبت په هر رموز پکښې پوهې شوی
دَ عشق په سمندر کښې په جذباتو کښې توې شوی
په یؤ بل پسې مونږ دَ دې بلو نه را پرې شوی

راځه په دې کوڅو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترګو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

دا کلے بې له تا نه څهٔ ویران غونډې کښې ښکاری
سپرلی په کېفیت کښې دَ خزان غونډې کښې ښکاری
چمن کښې مْراوې مْراوې څهٔ ګلان غونډې کښې ښکاری
زرین پَرېشان هم څهٔ پَرېشان غونډې کښې ښکاری
راځه! په دې سپرلو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!
دَ سترګو په ککو کښې مې دَ اوښکو شمعې مړې کړه!

۱۳/۱۱/۱۹۸۷ جدة



دَ زړهٔ جذبې په قدغنونو باندې نهٔ تېنګیږی
سېلاب، دَ شګو په بندونو باندې نهٔ تېنګیږی

دَ ازادۍ په نشه مست دَ غلامۍ ذهنونو!
وطن دَ بل په خېراتونو باندې نهٔ تېنګیږی

دا وړی وړی، تړی تړی بربنډ ځېټی زمری
دا لېونی په زنځیرونو باندې نهٔ تېنګیږی

کهٔ دَ حرص ولوږه دې مری، خولهٔ په پُوټو ډکه کړه!
سالم چیلے خو په غاښونو باندې نهٔ تېنګیږی

هسې عبث دَ اباسین چپو ته غرونه تړې
ګوره! اسمان خو په لاسونو باندې نهٔ تېنګیږی

کهٔ ته زما دَ خُلې خاپونه ډېر له مخه مړهٔ کړې
داسې رازونه اکثر زړونو باندې نهٔ تېنګیږی

چې نهٔ مُلا، نهٔ څوک خادم، نهٔ څوک اخون وی پکښې
هاغه جومات تش په بانګونو باندې نهٔ تېنګیږی

چې نهٔ ټوپک وی، نهٔ کارتوس وی، نهٔ نوکر ور څخه
خانی شینګرو په قلاعونو باندې نهٔ تېنګیږی



www.pukhto.net

ښځه دَ مینې په مذهب کښې مسلمانه ساته!
دَ بل مذهب په نکاحونو باندې نهٔ ټینګیږي

رنګ هغه ښهٔ دے، چې قدرت چا ته بخښلے وي کوم
رنګ دَ سُرخۍ کچه رنګونو باندې نهٔ ټینګیږي

څوک چې اشنا لره ورځي، هغه به څوک منع کړي
مئېن زړګے په تورو غرونو باندې نهٔ ټینګیږي

خپل خپل دَ وس، دَ چار خبره ده زرینه! ګنې
مریض دَ مرګ په علاجونو باندې نهٔ ټینګیږي

# دیدن

دَ زړهٔ قطرې مې ستا دَ سترګو په ښو ؤختې
دَ کور خبرې دَ نغرو نه په بلو ؤختې

تږے ارمان به دَ دیدن په شبو ؤلمبوی
تورې وریځې کهٔ په بام دَ وریدو ؤختې

۲۱/۳/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)



# تصویر

زلفې دې څانګې، سترګې پاڼې پاڼې
سرهٔ اننګی دې پرخېدلی ګلاب

ستا دَ سیندور دَ بُوډۍ تال رنګونه
پرانستې شونډې دې سپېرلی ګلاب

ستا په خندا دَ اننګو ډوغلی
لکه له منځه شوکېدلی ګلاب

دا ستا وریځې زلفې ؤشښېدې
کهٔ چا په غرونو دی شیندلی ګلاب

# پیژندګلو

مونږه ننګیالی یُو، دَ ننګونو لیونی یُو
مونږه دَ پښتو دَ غیرتونو لیونی یُو

مونږه یُو هغه، چې په سرونو ماتوی کانی
مونږه پښتانهٔ دَ تورو غرونو لیونی یُو



www.pukhto.net

دا خر خاؤرین کورونه شیش محلې لګېدلې
دَ دې کلی کوڅې تا سره ښکلې لګېدلې

په تا مست پسرلے تود مازیګر ګرم ګودر ؤ
ماښام په دې بلو باندې محفلې لګېدلې

دا زیړې مړاوې، دا کیکرې اؤ بکیانې
چې تهٔ وې، په ګلونو موسېدلې لګېدلې

خوشبو زما دَ مینې، کهٔ وږمې وې ستا دَ حسن
څهرې دَ کلی والو خندېدلې لګېدلې

جذبه دَ محبت وه، چې په غرونو اوړېدمه
کهٔ واؤرې ورېدلې، کهٔ کنګلې لګېدلې

هر څو کهٔ غمازیانو مې په مخ ویشتلې خاؤرې
وې ستا دَ کوڅې خاؤرې، ما ته خپلې لګېدلې

زرینه! چې دَ مینې په دې ګران سفر روان شوم
سپرلے ؤ، په شړشمو کښې غندلې لګېدلې

۱۹۸۶/۰۹/۰٤ بنی مالک (جدة)



تهٔ کهٔ زما نه خان خفه کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې
زخمی زخمی به را له زړهٔ کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

رقیبه! زهٔ اؤ یار دَ یؤ بل سره مینه کوو
جوړه کهٔ تهٔ ترې څهٔ قصه کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

تا خو وئیل، چې "تمامی عمر به یؤ ځائے ووسو"
ماته کهٔ تهٔ خپله وعده کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

بس کړه! پخلا شه! په منت، ګنې کهٔ زهٔ خفه شوم
بیا به مې یاره پخلا نهٔ کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

چې ابوني سیرې ګرېوان، کلیو په کلیو ګرځم
ما به دَ خلقو تماشه کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

سبا مې ستا کوڅه کښې وژنی، کهٔ را ؤ نهٔ وتې
ما به دنیا ته ډېر کچه کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې

وائی زرین، مهٔ راستوه! دَ غم نه ډک لیکونه
په ما به تنګه دا جده کړې، دا به ښهٔ نهٔ کوې



Pukhto.Net
www.pukhto.net

# یادونه

ستا ستمګر، سنګین سنګین یادونه
دَ زغم دَ کلک عزم نرۍ نړوی
په لوڅو پوڅو، پوسو پوسو لاسو
زما دَ پوخ زړګی مانۍ نړوی
په وسله بندو، تیر اندازو سترګو
دَ تصور دَ فوځ چاوڼۍ نړوی
دَ خیال په تال کښې دَ سپرلی بادونه
دَ ښائستونو تماشې زنګوی
په اننګو کښې ګډوی ګلونه
په تورو زلفو کښې ورمې ګډوی
په خندا ډکو، خبر لوڅو سترګو
زخمی زخمی، خُوږ خُوږ جذبې خندوی
دا سپورې سپورې، خم وَتلې زلفې
چې راخورې کړې په اُوږو باندې
دَ نکهتونو ابشارونه شی جوړ
شمال وریږی په سپرلو باندې
وږمه وږمه کړې، دَ دې غرو لمنې
زۀ ورته سر شم په تپو باندې
دَ پسرلی دَ ښوارلسمې سپوږمۍ
چې یخې یخې پلوشې وروَی
چې ګلالے وی ګېرچاپیره موسم
دَ محبت ډکې نغمې وروَی
هره ښکالو ستا دَ راتک دَ طمعې
دَ زړۀ دَ درز خوږې قصې وروی
یا پشکال کښې غر غږیز مازیګر
چې راخورې کړی په اسمان وریځې



چې ښې په ګرز ګروز شې ؤوروی
ګتان ګتان، چمان چمان وریځې
دَ انتظار سترګې قرار بیاموی
چې را خورې شی په امکان وریځې
په ماسخوتن کښې ګرما ګرم محفل
چې په حجرې کښې کړی تاؤدۀ ګپونه
دَ خنداګانو شورایزې لمحې
په سر راواخلی لا شکست بحثونه
زۀ پکښې چې له خُلې ویستلے نۀ شم
چې دې رایاد شی جنګیالی خویونه
چې شپه په غبږ کښې خاموشی راواخلی
په خوب دَ شور استازی ؤځنګیږی
دَ هواګانو شغا هم اُوده شی
چې سپی کوڅه په کوڅه ؤخرریږی
یوۀ قیامت خېزه هنګامه جوړه شی
زړګے مې ستا په یادو ؤبوږنیږی
زما دا تراړې تراړې شونډې ارمان
دا ځوانیمرګے، دا نیمګړے ارمان
ستا تصوُر ئې سترګې تورې کړلې
سنګار سنګار، سرځنه کړے ارمان
ستا دَ خندان یاد دَ لمبو په سیوری
دمه کوُم دا ستړے ستړے ارمان
خو اے زما دَ ویران ژوند سرمایې!
هر څۀ چې وی، خو ما سره ؤسېږه!
زما دَ زړۀ په وران ویجاړ کنډر کښې
لکه دَ ګل دَ پسرلی دُوړېږه!
اے دَ زرین دَ ناز نیازبینه نازه!
ما ژړوه، خو را ته تۀ خندېږه!

۱۳/۱۱/۱۹۸۷ جدة



www.pukhto.net

# دَ پښتو ناوې

ګلونه چې خندېږي، بوراګان ورته ورځي
پښتو چې ناوې کېږي، شاعران ورته ورځي

په کانو منع کېږي نهٔ، لېلئ چې ئې راغواړي
مجنون چې وي مجنون، سيرې ګرېوان ورته ورځي

هر څو کهٔ عمارت دَ اسپتال کندې کپر وي
طبيب ئې چې لقمان وي، بيماران ورته ورځي

روا ناروا دواړه، جنګ اؤ مينه کښې جائز وي
ځنګل کښې چې منګل وي، سېلايان ورته ورځي

بازونه ښکار کوي ځان له پخپله، دَ بل نهٔ خوري
مُرداره چې ئې بل کړي، تپوسان ورته ورځي

چې پير وي نو فقير وي، دَ پيرانو مانۍ نهٔ وي
په سمسته کښې اوسېږي، خو شاهان ورته ورځي

دَ حق اؤ باطل ځان کښې چې خونرېزه معرکه شي
مېدان دَ کربلا شي، حسنيان ورته ورځي

کهٔ تکه توره شپه وي، زړهٔ چاوډلے انتظار وي
مئېن چې په رښتيا وي، نو جانان ورته ورځي

دَ مينې ګرمه ګرمه دَ مور غېږه چې غوړېږي
زرينه! په خرپوسو ماشومان ورته ورځي



څهٔ شوې اشنا؟ تا لټومه ستا دَ ښار کوڅو کښې
لکه ناشنا مسافر ګرځي دَ اغيار کوڅو کښې

تا دَ ديدن دَ کلي تولې دروازې پورې کړې
دَ زړهٔ يتيم مې در په در ګرځي لاچار کوڅو کښې

نن جوړې بيا ئې ملاقات اشنا سره کړے دے
ځکه په هر لورې وږمې دي دَ رېبار کوڅو کښې

دربغه ستا زړهٔ کښې زما مينې دومره ځائے ونيوے
لکه چې پروت وي چرته زوړ سيرې پېزار کوڅو کښې

چې ستا دَ حسن قدر کم شي، نو بيا داسې راشه!
زرين به ستا په استقبال وي دَ بازار[1] کوڅو کښې

١٩٩٥/٠٨/١٩ الرياض

[1] بازار/بازارګے (زمونږ کلے)



www.pukhto.net

چې دَ ښو دَ اشارو شوه مینه
پېغله شوه، بام ته دَ خاتو شوه مینه

ملکرو! دا ئې دَ ځوانۍ نخښې دی
چې په پلوۀ دَ پټېدو شوه مینه

په تور کاکل کښې چې ږدی سُرۀ ګلونه
په ننګ وفا دَ ځارېدو شوه مینه

دا ئې احساس دَ خپلولۍ ؤښوده
چې مخ ئې پټ کړو، دَ کېدو شوه مینه

چې ئې جنون شو، وینې وینې پلونه
اوس اخلی پل دَ ګرځېدو شوه مینه

چې په محفل کښې ځان له، ځان سره شوم
اوس په حجرو کښې دَ جرګو شوه مینه

اوس دَ دیدن وړی به څری پکښې
خپله کالۀ، خپله ورشو شوه مینه



هر سکون په ژوند کښې څو دغرې خامخا غواړی
هر انقلاب امن له لښکرې خامخا غواړی

هره ازادی دَ ولوړو تندو سره ډکه وی
هر دوام دَ تک تندې نهرې خامخا غواړی

چرته په اظهار چې پابندیانې وی، نو هلته کښې
زړۀ به دَ ازاد فکر منظرې خامخا غواړی

مینه دَ زور کلی کښې رقیبه! په زور نۀ کیږی
دا خو دَ اظهار اقرار خبرې خامخا غواړی

ستا کلی کښې چم په چم په کاڼو لګېدلے یم
زړۀ مې دے، چې ستا سترګې کافرې خامخا غواړی

دا پخپل وطن کښې در په در، کډې په سر خلق
دا خانه بدوش په سر څپرې خامخا غواړی

څنډ وهه ځانګونه! دا پنجره ځان سره پورته کړه!
بر الوْت دَ باز غوندې، وزرې خامخا غواړی

دا سرتوره شوې لۀ پړونی، دَ وطن لونه
دا پېغلې سرونو لۀ څادرې خامخا غواړی

ښې ورته شینکرۍ دَ حوْصلو زرینه! دنګې کړه
جنګ چې په وطن راځی، سنګرې خامخا غواړی



www.pukhto.net

# غدار

دَ سُور سپرلی تالا والا خوارهٔ وارهٔ رنګونه
پخپلو وینو لمبېدلی دا سرهٔ سرهٔ ګلونه
شډل شډل، دا مړاوي مړاوي، دا مړهٔ مړهٔ ګلونه
دا تسنې وسنې، لر و بر، دا پښتانهٔ ګلونه
دا دَ څهرې په لر پېرلی بې وادهٔ ګلونه

راټولؤمه، محبوبې له ترې ګجرې جوړَوَم
پخپلو وینو ترې تازه وړمې جوړَوَم
دَ مستو څورو، مستې مستې قهقهې جوړَوَم
خپلو زخمونو له خوږې خوږې نغمې جوړَوَم
خېبر، ایلم، دَ چپل سرونو له شملې جوړَوَم

هاغه سپرلے، چې په سپرلی کښې جل وهلے ښکاری
هاغه سپرلے، چې دَ چا پښو لاندې مښلے ښکاری
هاغه سپرلے، چې تالا شوے رژېدلے ښکاری
هاغه سپرلے، چې دَ مُودو داسې سېزلے ښکاری
هاغه سپرلے، چې څرېکې څرېکې دړدېدلے ښکاری

خپل ښائستونو له په وینو اوبهٔ خوړَ غواړی
ښکلو رنګونو له په وینو اوبهٔ خوړ غواړی
تازه ګلونو له په وینو اوبهٔ خوړ غواړی
خپلو زخمونو له په وینو اوبهٔ خوړ غواړی
دَ زړهٔ دړدونو له په وینو اوبهٔ خوړ غواړی

وینه هغه، چې په رښتنې ابدالی وینه وی
وینه هغه، چې دَ خوشحال غوندې اصلی وینه وی
دغسې نهٔ، چې دَ اشرف غوندې شکی وینه وی
نهٔ انګرېزی، نهٔ دَ مغلو اورنګی وینه وی
دَ باچا خان غوندې ننګیاله افغانی وینه وی



دغسې وینه، په مومندو افریدو کښې شته دے
په باجوړو اؤ په ختکو، بنوڅو کښې شته دے
په یوسفزو اؤ حسن زو، هشنغرو کښې شته دے
دَ سوات اؤ دیر اؤ دَ بُونېر په شازلمو کښې شته دے
دَ بټه ګرام اؤ کوهستان په ننګیالو کښې شته دے

خو:
خو دا زلمی اُودهٔ، لهٔ خوبه پاسؤل غواړی اوس
دَ ژوند اؤ ژواک حقونه ټول ورته ښؤدل غواړی اوس
دَ یُون کاروان له خپل مرام ته رسؤل غواړی اوس
دا زنځیرونه دَ لاسونو نه شلؤل غواړی اوس
دَ انقلاب چغه په دې دشت کښې وهل غواړی اوس

داسې یؤ چغه، چې بنګلو کښې زلزلې راولی
په محلونو، په ماڼو کښې زلزلې راولی
دَ زور دَ کلی په کوڅو کښې زلزلې راولی
دَ زرپرستو په حجرو کښې زلزلې راولی
په اېوانونو اسمبلو کښې زلزلې راولی

څکه:
څکه چې دې خلقو دَ دې وطن دولت ؤلوټهٔ
خپل سیاست له ئې دَ دې وطن عظمت ؤلوټهٔ
دَ ښائستونو خزانو وطن جنت ؤلوټهٔ
څکه چې دې خلقو دَ دې وطن عزت ؤلوټهٔ
دَ خپلو پېغلو خوېندو لونو ئې عصمت ؤلوټهٔ

وطن دَ پور په نوم بهر نه خېراتونه واخلی
دا خېر خوارهٔ بیا دَ خېرات نه هم قرضونه واخلی
مونږ مزدوران کړی، دوی په دې خان له میلونه واخلی
مونږ چرته زر نهٔ وی شمېرلی، دوی اِربونه واخلی
په هر یؤ ښار کښې څو بنګلې څو پلاټونه واخلی



www.pukhto.net

دا کوم انصاف دے؟ یۀ دې خوری اۀ بل دَ ولوږې نه مری
یۀ دې مزې چرچې کوی اۀ بل دَ ولوږې نه مری
یو دِ موټرې ګرځوی او بل دَ ولوږې نه مری
یۀ دې شرابو باندې څوی اۀ بل دَ ولوږې نه مری
یۀ دې قصرونه جوړوی اۀ بل دَ ولوږې نه مری

زۀ یم غدار، چې په مړې خېټې دوډۍ غواړمه
دَ قالینونو خاوندانو نه شرۍ غواړمه
دَ خوار اولس دَ پاره حق دَ زندګۍ غواړمه
دې لُوڅ لغړ خلقو له ژوند دَ ښېرازۍ غواړمه
امن پسنده یمه، امن په نړۍ غواړمه

کۀ دا وطن دَ دې غټانو وی، زۀ چرته لاړ شم؟
دَ لُوټمارانو، شُوکمارانو وی، زۀ چرته لاړ شم؟
دَ دې چوهدریانو، سردارانو وی، زۀ چرته لاړ شم؟
دَ سیاسنت دَ بپاریانو وی، زۀ چرته لاړ شم؟
کۀ دا وطن دَ دې مُلیانو وی، زۀ چرته لاړ شم؟
دا تښتۀنې، راهزنۍ، قتل و غارت چې وینم
دَ غلو ډاکوانو په وطن کښې حکومت چې وینم
دَ ساز و باز دَ سازشونو سیاست چې وینم
دَ غبنونو رشوتونو ذهنیت چې وینم
دَ جی اۀ سر سفارشونه اۀ رشوت چې وینم

وایم په جار باندې، چې "دغه پاکستان نۀ منم
ما دې کافر کړی په دې، دغه مسلمان نۀ منم"



# چارماری

دَ قبایلی سیمې دَ جرګې په یوې کرکژنې اۀ بې انصافې فېصلې، دَ دوۀ منېنو بې ګناهو سرِعام چارماری کولو په وخت

۶/۶/۱۹۹۵ الریاض)

په وینو سره چې شوه، سلګۍ شوه مینه
په سُولۍ چغه شوه، ژوندۍ شوه مینه

دَ دې وطن رواج، دَ جبر په توپ
چې سر ئې ؤشیندو، مُوسکۍ شوه مینه

دَ قدغنونو سر په کانو شو مات
دَ خپل اختیار، دَ خپلواکۍ شوه مینه

دَ دشت په تولو لپونو مې زېرے
چې ابادۍ کښې لېونۍ شوه مینه

چې دَ منصور بچو پرې وینې توی کړې
په خند و خار کښې ګُلالۍ شوه مینه

زرینه خار! دَ وخت نیازمند جنون نه
چې دَ سیالانو دَ سیالۍ شوه مینه

۱۴/۰۹/۱۹۹۳ جدة



www.pukhto.net

زهٔ په دې په هغې نهٔ يم، کهٔ مسجد کهٔ بتخانه ده
چې جانان پکښې اوسيږي، هم هغه زما کعبه ده

دَ مذهب بنياد پرستو! دَ انسان خونرېزي بند کړئ!
لوی مذهب انسانيت دے، محبت لويه سجده ده

دَ مسلکو په دې جنګ کښې، مُلا جان نه مې نفرت دے
په مذهب دَ محبت يم، په وحدت مې عقيده ده

چې په اوُر را له مخ تور کړی، بيا مې تيتې سترګې بيائی
زهٔ به هغه جنت څهٔ کړم؟ چې دوزخ ئې دروازه ده

دَ چا هلته کنړو. نهرونه، دَ چا دلته ډک جامونه
يوُ ثواب دے بل عذاب دے، خپله خپله نصيبه ده

شېخ چې دېرش روژې پوره کړې، نو په ږيره ئې لاس راکښهٔ
دې تهٔ نهٔ ګوری دَ ورو، چم کښې هره ورځ روژه ده

ستا دَ حُورو دَ دنيا نه، دېخوا نوره دنيا هم شته
ما زرين ته يوه پېغله داسې ناسته په اسره ده

۲۷/۰٤/۱۹۹۱ جدة



ښکلې ښائسته ئې، هر څهٔ ستا ښهٔ دی
دا ښهٔ دی، هم دا ښهٔ دی، هم دا ښهٔ دی

مَرهٔ کاتهٔ، خمار خمار، تؤدې شونډې
غوښې دَ شرابو سره لا ښهٔ دی

"ښا" کړی په مخ، "نا" په اوږو زلفې
سر وهه! هم "ښا" ښهٔ دی هم "نا" ښهٔ دی

درنګ له خفه، درنګ له پخلا زهٔ اؤ تهٔ
دا خوئيونه ستا ښهٔ دی، زما ښهٔ دی

دم په دم، په هر قدم، په هر انداز
ستا مکېز، نخرې، ناز اؤ ادا ښهٔ دی

سپينه سپوږمۍ، شين سپرلے اؤ دوه مئېن
داسې شپې په سترګو کښې سبا ښهٔ دی

ښه ده حيا، هر چا ته ګُوز ګُوز کاتهٔ
ما ته نېغ په نېغه، بې حيا ښهٔ دی

څان مې ئې، جانان مې ئې، جهان مې ئې
ما زرين رښتيا ؤوې، رښتيا ښهٔ دی

۲۸/۰٦/۱۹۹۱ جدة



www.pukhto.net

زړهٔ تخنوونکی خبرلوخ نازونه څوک نهٔ غواړي؟
دَ زلفو سیوري کښې دَ غبږ خوبونه څوک نهٔ غواړي؟

اُودې نغمې راوېښوي، په سوؤ لوؤ شونډو
زړهٔ مستوونکی دَ سپرلي بادونه څوک نهٔ غواړي؟

دَ دوه مئینو جنګ ته زړهٔ دَ امن هم ګواښېږي
دَ مینې ډک دَ ناخوالې جنګونه څوک نهٔ غواړي؟

دَ زړهٔ سلګۍ قلارَوي چې دَ بنګړو په شنا
دَ سپینو لېچو په تالو تالونه څوک نهٔ غواړي؟

دَ ملاقات دَ انتظار په بوربنونکي ښکالو
دَ زړهٔ په درز کښې دَ پانزېب شرنګونه څوک نهٔ غواړي؟

په غوڅو غوڅو رپندو شونډو خندا ګډوي
دَ مستو سرو شونډو مست مست ستونه څوک نهٔ غواړي؟

دَ څوارلسمې دَ سپوږمۍ دَ سیند په غاړه ماښام
سپرلے، ښائست، مستي خمار، جامونه څوک نهٔ غواړي؟

چې دَ پردي دَ وطن شګې دَ صحرا بادَوي
دَ خپل دَ ګل وطن ډاګونه غرونه څوک نهٔ غواړي؟

نن دَ نړۍ هر غصب شوي حق دي ژبې کړي
زرینه! بې زمونږ نه خپل حقونه څوک نهٔ غواړي؟

۰۹/۰٦/۱۹۸۵ جدة



کوم ځائے کښې چې ختم ستا دَ ظلم ټول حدونه شي
هلته نه شروع زما دَ صبر سرحدونه شي

یاد په تصؤر کښې را ته ستا دَ زلفو سیورے شي
را چې شي سیلۍ خوارهٔ وارهٔ چې نښترونه شي

هسې خو دا مزکه دَ فطرت دَ ښکلا ناوې ده
را چې سپلایان شي ورته نور ښکلي دا غرونه شي

دا خو ده ریا ساقي! دَ نورو په وښکو راځي
وار چې زما راشي نو خالي را ته جامونه شي

لا خو مې کرېوانه اچولے درته لاس نهٔ دے
دومره په ویرېا کله کېدلے دیدنونه شي

هر څهٔ به خطا کړم دَ لحد دَ فرښتو مخکښې
هسې نهٔ چې هلته را ته ستا سترګې سوالونه شي

دا تنکی تنکی، خندان خندان، سرهٔ رخسارونه ستا
تهٔ چې په خندا شې، نو حېران درته ګلونه شي

ستا له مکرژنو، کبرژنو سترګو خار شمه!
چا ته شي تالونه په مخ، چا ته ولونه شي

ستا دَ مینې تش دغه صحرا زړهٔ به زرخېزه کړم
ښکښې مې کهٔ په مخ باندې دَ اوښکو بارانونه شي

۰۱/۰٦/۱۹۹۵ الریاض

www.pukhto.net

# دروغژن اختر

ورځ دَ اختر وه خندېده، تاوېده
په ښائستونو ګډېده، تاوېده

وړمه وړمه وو دَ کوڅو بادونه
لمبه لمبه وو، چم په چم بامونه

څه دَ سپرلی دَ هواګانو مستی
څه دَ اختر دَ ښکلاګانو مستی

څه دَ مرغو دَ غلغلو شورونه
څه دَ بنګړو دَ پانزېبو شنبونه

څه اداګانو پېرزوینې کړلې
څه خمارونو غزونې کړلې

دَ تورو سترګو غلچکی ګواښېدل
دَ رنجو تورکی په بنو پټېدل

له تورو سترګو خونخواری څڅېده
دَ اننګو نه ګل کاری څڅېده

خورې خورې، سپرلے سپرلے وې زلفې
چرته کمڅی، چرته لمڅے وې زلفې



چرته سونډے، چرته پیچک جوړېده
چرته جینی، چرته هلک جوړېده

چرته کېکونه اؤ کلچې پخېدې
چرته فرنیانې اؤ مېچې پخېدې

په دسترخوان باندې مېوې ډېرې وې
پکښې پستې اؤ چلغوزې ډېرې وې

له چائېو ډکې تښېدې چېنکې
په اختریانو چلېدې چېنکې

زۀ وُمه ناست دَ کور دالان کښې غلے
په یؤ پالنګ باندې تکیه وُهلے

ما دَ انسان دَ خوشحالۍ رازونه
دا دَ فطرت دَ لوئی والی رازونه

دَ بنو لاندې غلی غلی کتل
دَ اختر ښکلو ته مې ښکلی کتل

دَ ماشومانو سیالیګر خویونه
دَ لا شعورو بازیګر خویونه

چا دَ لاسونو نه ګجرې ترلې
چا په زلفانو کښې ګجرې پونبلې



www.pukhto.net

څوک په سېندل څوک په څپلو نازېدل
څوک په سنکار څوک په جامو نازېدل

چا پخسوُل، چا تښتول کوډاکې
چا خندوُل، چا ژړوُل کوډاکې

يوُ هنګامه په سر اخستې وه شور
ټوله دنيا په سر رانغښتې وه شور

په دې کښې ګورمه ماشومه جينۍ
يوه ناشنا، او نامعلومه جينۍ

زمونږ دَ کور په ور را ننوُته
پښې ابله سر توره سر را ننوُته

خچنې زلفې دَ مودو نه شاړې
لکه دَ جرې بې ترتيبه جاړې

تورې ئې پښې لکه دَ تورې شړۍ
يا ئې اغوستې لکه تورې کپړۍ

دَ خيرو ډک لاسونه سپور تور شوى
دَ غريبۍ نېستۍ په اور تور شوى

زړې زړې لوګو وهلې جامې
وړې وړې تنکې شلېدلې جامې



دَ کندون نهٔ وې چې کنډلې ئې وې
تنۍ پرې نهٔ وې چې ترلې ئې وې

په خوږند لستونو کښې ښکاره څنګلې
سيرې پېنځې ئې خان پسې راښکلې

نرۍ نرۍ ئې بهېدله پوزه
په لنډه ساه کښې ئې راکښله پوزه

سپينه په ترخ کښې ئې ګوزه نيولې
دَ ستنې خوا کښې وُدرېدله غلې

يوه شېبه دا تماشه ئې کاته
دَ دې شتمندو خرمبله ئې کاته

دَ حېرانۍ سترګې بهر وُتې وې
دَ تلوُسو کډې په سر وُتې وې

په اژدهام کښې يوُ بې کسه فکر
دَ حسرتونو ډک بې وسه فکر

دَ خپل دَ خدائ په وېش څهٔ خيال وړې وه
ګوزه په ترخ کښې ئې دَ سوال وړې وه

په يوُ نرۍ اوُ وېرېدونکې اواز
په سا ماتونې غرېوُ نيوونکې اواز



www.pukhto.net

وې ئې وئېل، "ما له شوملې راکړئ!
څهٔ بېګانې سرې غلې راکړئ!"

اوتر اوتر او ساه نیولې شوله
چې دا ئې ؤوئېل، بیا غلې شوله

دَ دې اواز چا اؤرېدهٔ په شور کښې
دومره ؤزګار خو هېڅوک نهٔ وو کور کښې

دَ خپل بچو په دلاسو اخته وو
په خندوؤ په ښکولوؤ اخته وو

اے دَ اولاد په مینه مستو مېاندو!
دَ سبا مېاندو! دَ نن پېغلو خوېندو!

ستاسو دَ چت دَ لاندې دا تماشه
دَ دروغژن اختر رښتیا تماشه

هغه چې ستاسو دا دَ چا بچے دے
کومې بې بې دَ کوم بابا بچے دے

دا به هم مور لری، هم پلار به لری
ورونه اؤ خوېندې رښته دار به لری

دا خو به هم داسې نازونه غواړی
دَ اختر لوبې اؤ تالونه غواړی



دا به هم غواړی چې اختر مې ؤکړے
نوې جامې اؤ څنبه سر مې ؤکړے

ولې یه! یه دَ زرو جوړو خلقو!
په مخو سپینو په زړهٔ تورو خلقو!

تاسو کانهٔ تاسو ړاندهٔ خو نهٔ ئېئ
اؤ کهٔ نهٔ داسې یئ نو داسې ښهٔ ئېئ

په سر اخستې چغو شور کښې جینۍ
تنها ولاړه په ډک کور کښې جینۍ

بیا ئې خولهٔ جوړه کړه، "شوملې راکړئ!
څهٔ بېګانې سرې غلې راکړئ!"

خو دا اواز ئې څهٔ غمژن غوندې ؤ
لکه شپېلۍ دَ چا دَ شپون غوندې ؤ

په دېوالونو ګرځېدهٔ، ډوبېدهٔ
لکه دَ څریکې خورېدهٔ، ډوبېدهٔ

په مَرو خپله خرمستې سوَره وه
دَ جس په سر ئې ناترسی سوَره وه

دغه بې وسه دا زړهٔ ماتے اواز
چې نهٔ نیازبین ؤ، نهٔ ناویاتے اواز



www.pukhto.net

چا اؤرېدهٔ چې خپل خپل نهٔ لګېدهٔ
له ازغو ډک ؤ، ګل ګل نهٔ لګېدهٔ

ما ورته غږ کړو، "یه ناشنا بچیه!
راشه نزدې راشه زما بچیه!"

مخ ئې را واړوهٔ، حېرانه شوله
په قدم مات زړهٔ را روانه شوله

پښې ئې په زمکه ټولولې راغله
په برندو سترګو غلې غلې راغله

چې رانزدې شوه، ؤدرېده، وئېل ئې
پوزه ئې دم په دم راکښه، وئېل ئې

"ما له یوه ګوزه شوملې راکړئ!
څهٔ بېګانۍ سرې غلې راکړئ!"

ما وې، "بچې! دا په تا څهٔ شوې دي؟
نهٔ دې لمبلې، نهٔ جامې نوې دي

دَ لېونو غوندې بدحاله ګرځې
دَ خیرو ډکه ناسمباله ګرځې

تنۍ شلېدلې سر ببر لېونۍ
ننۍ ورځ ده دَ اختر لېونۍ



کوره! چاپېره خنداګانې چُورلی
ناز و نخرې اؤ اداګانې چُورلی

لوبې، مستۍ اؤ اتڼونه کیږی
په دیدار باز اختر رقصونه کیږی

اؤ تهٔ ئې چې یاد دَ محرَم راولې
دَ خوشحالۍ په ورځې غم راولې"

شونډې ئې ورو ورو پرانستلې داسې
دَ ګلاب پانې ئې سپړدلې داسې

زهٔ ورته خیر شومه چې څهٔ به وائی
را ته رښتینې حال دَ زړهٔ به وائی

هغې وئېل، "ما له شوملې راکړئ!
څهٔ بېګانۍ سرې غلې راکړئ!"

ما وئېل "کوره! په شوملو څهٔ کوې؟
په دې سَرو جُوته غَلو څهٔ کوې؟

ولې دَ چائېو له شؤدهٔ نهٔ غوارې؟
دَ اختر ورځ ده، څهٔ خوارهٔ نهٔ غوارې؟"

دَ اوښکو ډکې سترګې پورته ئې کړې
لمبه لمبه سرې زما لور ته ئې کړې



www.pukhto.net

وئـــې وئېـــل زمـــا شـــتمه خانـــه
زمـــا پـــه درد بانـــدې خوړمنـــه خانـــه

منم چې پـې خو بـه لـه تا نـه يؤسم
خو کوره چاڼ بـه لـهٔ چا نـه يؤسـم

مـونږ بېکـانی داسـې نهـر پـاتې يُـو
سـتا دَ اخـتـره نـاخبر پـاتې يُـو

چې دا شـوملې اؤ دا غَلـې يؤسـمه
زهٔ بـه مـستی تـولې مېلـې يؤسـمه

پـه دې بـه تـول وړی دَ کـور مارهٔ شی
هم به مور پلار هم به وروړ خور مارهٔ شی

مـونږ مـسافر خانـهٔ بـدوش غريبـان
چې شپه اؤ ورځ يُـو بـې منزلـه روان

مـونږه اخـتر شـب قـدر څـهٔ پېژنـو؟
دغـه مېلـې اؤ مـستی نـهٔ پېژنـو؟

دا مخـامخ دَ غـرهٔ لمـن کـښې خېمـه
نن زمونږ کور دے خو سبا به وی نـه"

يـؤ سـوزېدلے اسـوېلے ئـې ؤکـړو
زړهٔ دردېـدلے اسـوېلے ئـې ؤکـړو



ما وئېل "اے دَ درست جهان مالکه!
دَ ارتـې زمکـې پلـن اسمان مالکـه!

تـهٔ خـان تـه څنگـه لامکـان وائـې؟
چې کُـل جهـان تـه خپـل جهـان وائـې

ـهٔ خو پـه درسـتې دنيـا تـوان لـرې
ـه هـر مکـان کـښې خپـل مکـان لـرې

دَ خپـل مکـان دَ لا مکـان پـه خـاطر
دَ خپل جلال اؤ دَ خپـل شـان پـه خـاطر

دې لا مکـانو لـه مکـان ورکـړې!
ؤچـه دوډۍ پـه دسـترخوان ورکـړې!

١٦/٠٥/١٩٩١ مکرونة (جدة)



www.pukhto.net

ما بوخه دَ یار چم ته تماشو ته مې زړهٔ کیږی
وَ خوبه! دَ شیرین جانان کوځو ته مې زړهٔ کیږی

چې ځان دې کړو سنګار راته دې ؤوئېل چې "ځنګه؟"
مری دې را ته ؤچه کړه، اوبو ته مې زړهٔ کیږی

راښکته را ته زلفې کړه! چې زهٔ وربانـدې خېژم
جانانه! ستا دَ بامه اؤړېدو ته مې زړهٔ کیږی

دَ ځان په تماشه ؤدرؤم کلے ستا په چم کښې
بانه به لټونتوب شی ستا لیدو ته مې زړهٔ کیږی

دَ سیند په غاړه دَ سپرلی په مازیګر کښې
اشنا! ګوته په ګوته ګرځېدو ته مې زړهٔ کیږی

ساقی! پکښې دی پټې دَ شېخ ټولې شُوکې پاکې
توبه مې لهٔ شرابو نه، تسبو ته مې زړهٔ کیږی

ما وې مُلا ته "ولې هر وخت حُورې حُورې وائې؟"
مُوسکے شو وې وئېل "مئېنېدو ته مې زړهٔ کیږی"

حجاز اؤ دَ یثرب خلق عَجم ته سپک سپک ګوری
زرینه! خپل وطن ته ځکه تلو ته مې زړهٔ کیږی

۱۲/۰۷/۱۹۹۳ حيّ البوادي (جدة)



لا مې زړهٔ چاؤدلی اسویلی نهٔ دی
لا مې ارمانونه لېونی نهٔ دی

دُود به ئې کړم زهٔ ستا دَ ځوانۍ په سر
لا مې دَ زړهٔ دشته سپېلنی نهٔ دی

چرته زما سر اؤ چرته ستا درشل
دا خاؤرې قابل مې دَ تندی نهٔ دی

لا مې تر منزله مزل مات نهٔ دے
پښې مې په جنون ازغی ازغی نهٔ دی

جورې به دې زلفو له ګجرې کړمه
لا زما شعرونه ګُلالی نهٔ دی

ستا کچه لؤظونه دَ زرین په لار
لا په انتظار لوګی لوګی نهٔ دی



www.pukhto.net

تهٔ چې غصه شې، سرهٔ شی ستا دَ اننګو سرونه
لکه سپېدلی چې ګلاب وی دَ غوټو سرونه

نهٔ مې له تا نه ګیله شته نهٔ ستا دَ کلی خلقو
خلق په کاڼو ؤلی تل دَ لېونو سرونه

په کومه لاره بانديې ستا دیدن ته درشمه زهٔ
خلقو نیولی را ته دی ستا دَ کوڅو سرونه

دَ محبت دَ عقیدې نه به وا نهٔ وړو اشنا!
کهٔ جلادیان مو پرې کوی هم په چاړو سرونه

رندان به یؤ بل مېخانه کښې په کاسو ؤولی
کهٔ ؤڅکی دا ستا دَ شونډو صراحو سرونه

دا هدیره چې ده دَ کوم یؤ خوانیمرګی عاشق
دا جینکۍ چې ماتوی ئې په خازو سرونه

دا ستا دَ سوال نیمه تکره مې پښتو نهٔ قبلوی
دَ بل په پښو کښې ایښی نهٔ دی پښتنو سرونه

تل به خزان دَ پښتونخوا په ؤچو غرونو نهٔ وی
سپرلےچې راشی ګل به شی دَ دې ازغو سرونه

وائی زرین، رقیبه! ما به ملامته نهٔ کړې
نهٔ ښکته کیږی دَ دودالو[1] د زلمو سرونه

۰۳/۱۱/۱۹۹۴ جدة

[1] دودال: زما دَ قوم نوم



تا په سترګو سترګو کښې دا څهٔ ؤوې؟
زهٔ هم پوهه نهٔ شوم، چې ما څهٔ ؤوې؟

مخ دې را نه بیا په بله واړوهٔ
خدائے خبر چې بیا درته چا څهٔ ؤوې؟

اوښکې مې روانې وې، چې ؤدرېدې
سترګو ته مې تا په خندا څهٔ ؤوې؟

شڼ وهه! بیا شڼ وهه! څهٔ پوی نهٔ شوم
تا دَ پانزېبو په شنا څهٔ ؤوې؟

زهٔ لېلۍ لېلۍ، تهٔ خُوره خُوره کړې
دې کښې مې واعظه! خطا څهٔ ؤوې؟

ښکلی خو زرینه! خدائے له هم ښې شی
دې کښې مې روا ناروا څهٔ ؤوې؟

## یؤ شعر

په یؤ اشنا کښې مې وفا نشته دے
دَ کاکا خان[2] دَ زړهٔ په تل مئېن یم

[2] کاکاخان: نور محمد خان فلاع (بتکرام)



www.pukhto.net

# اجمل خټک

دَ ابدال بابا نمسيه!
دَ خوشحال بابا بچيه!
دَ باچا خان پېروکاره!
دَ پښتو سپه سالاره!

تهٔ رهبر دَ پښتنو ئې
تهٔ شاعر دَ پښتنو ئې
تهٔ رڼا دَ تهخانو ئې
تهٔ شنا دَ زولنو ئې

تهٔ دَ جبر زړهٔ چاؤدون ئې
تهٔ خپلواکه سباوون ئې
تهٔ دَ مينې انتها ئې
تهٔ دَ صبر ابتداء ئې

تهٔ ملنګ دَ ملنګانو
تهٔ بادشاه دَ بادشاهانو
تهٔ دهقان دَ دهقانانو
تهٔ مزدور دَ مزدورانو

دَ غريب دَ زړهٔ درزا ئې
دَ مظلوم په زړهٔ کښې سا ئې
دَ بې کسو لښکرياله!
دَ بې وسو دَ سر ډاله!

ښهٔ پښتون اؤ ښهٔ انسان ئې
سُور افغان، سپين مسلمان ئې



دَ ابدال بابا نمسيه!
دَ خوشحال بابا بچيه!
دَ باچا خان پېروکاره!
دَ پښتو سپه سالاره!

جدة ۲۰/۱۰/۱۹۹٤

دَ دېوال په سيوري غلې غلې راشه!
اوس دَ پاسه نه قلاره نيمه شپه ده

زرين وائی، ستوری تول له خوبه خانګی
مهٔ شرمېږه! سپوږمۍ هم په خوب اوده ده

۲۲/۰۸/۱۹۹۵ الرياض

## ښائست

ستا په سپرلی ځوانۍ کښې غزلزاره حسن
دَ هزارې خاؤره ده ځکه ګل ورينه لګی

قد دې کچل درنې جامې دې لکه ګُور ګُور چينار
خلهٔ دې په تورو ځنو غرونو کښې واؤرينه لګی

۲۲/٤/۱۹۸۹ خېل کور بازارګے



www.pukhto.net

# پاکستان

نوې جذبې، نوی ځوانان غواړي
جوړوُل نوے پاکستان غواړي
چې دا لوټمار لیډران تار په تار کړي
داسې یو مردِ ناپُرسان غواړي
چې دا کوځې په وینو ؤلمبوی
یو هلاکو، یو چنګېز خان غواړي
چې پکښې غرق شي غاصبان ظالمان
داسې یو بیا دَ نوحٌ طوفان غواړي
چې دَ عصمت پړونې فخر ؤکړي
یو دَ عمرٌ غونډې نګران غواړي
چې پکښې درېغ نۀ وي دَ غټو واړو
داسې نظام دلته خواران غواړي
چې دا دَ سوال جولۍ ریښې ریښې کړي
نۀ امریکې نۀ لۀ جاپان غواړي
چې دَ دې غلو بډو خوَرو لاسونه
غوڅ کړي یو داسې مسلمان غواړي
چې دَ بې وس تر دروازې ؤرسي
داسې انصاف غریبانان غواړي
دَ دې ګُوزو دَ حرص وازو په خُلو
پرې اودس ماتے ټپوسان غواړي
دَ باچا خان هر خدائی خدمتګار
هر قدیرخان، ایدهي، عمران غواړي

۱۹۹۰/۰۳/۰۳ منفوحة (الریاض)



ـۀ راکوه ما ته دَ هستۍ احساس
ـته ما ته زما دَ خودبینۍ احساس

کله چې دَ سر نه نشه کُوزه شي
هله ؤشي خپل دَ بې خودۍ احساس

ـشپه هم شوګیره کړی هم وختي پاسي
چا سره چې وی دَ بلندۍ احساس

څُپه هم بې باکه خولۀ برتره وی
کونګ وی دَ احساس دَ کمترۍ احساس

ژوند چې دَ څلوېښتو کالو بره شي
راشي، هله راشي دَ ځوانۍ احساس

ښځه کۀ هر څو دَ خاؤند ښځه وی
وی به ورسره دَ پلارګنۍ احساس

سپک نظر چې هر څوک را ته ؤکوری
شي زخمي زخمي مې دَ خانۍ احساس

دومره نزدې کېږه مۀ، چې لرې شې
زړۀ به دې بیا خُوری دَ پښېمانۍ احساس

بې دَ یو مئېن دَ لېونی عقل
هر لېونے کړی دَ زندګۍ احساس

ډک دَ مینې زړۀ مې درته شو زندان
ژاړی پکښې ستا دَ غلامۍ احساس



www.pukhto.net

ما چې لهٔ دنیا نه زړهٔ کښې پټه کړې
تا ته وُ شو خپل دَ تنهایۍ احساس

ما دَ زړهٔ په وینو کښې تر کړے ئې
ما ته مهٔ خندېده دَ تشنګۍ احساس

تهٔ دَ وصل طمعې بلا ماته کړې
زهٔ وُخورم ستا دَ جدائيۍ احساس

ستا خود سره مینه ضد نیولې دہ
نهٔ کوی زما دَ مجبورۍ احساس

خکه را ته خلق پرېشان وائي
ما سره دے ستا دَ خوشحالۍ احساس

۰۸/۰۶/۱۹۸۵ بحرین سوات

بې له تا یوه لمحه هم نهٔ تېرېږی
کهٔ هر څومره پوهېږم، زړهٔ نهٔ پوهېږی

چې په یوُ وطن کښې یوُ بل نه جدا یُو
وایه! څنګه به زرین درنه صبرېږی؟

۰۸/۱۱/۱۹۸۴ جدة



دومره مې وُښکل چې څنګېږم، را نه غاړه وُځه!
هله ساقي! ګنې غورځېږم، را نه غاړه وُځه!

چې دې غوښتم باران څپلے څو څهٔ راز وُ پکښې
کوره دَ ښخ نه اوس رپېږم، را نه غاړه وُځه!

زهٔ مرور له تا نه نهٔ وُم، ما خپل قدر کاتهٔ
بس چې تهٔ راغلې، پُخلا کېږم، را نه غاړه وُځه!

چې راغلم زهٔ، هدو پښېر را ته چا وُ نهٔ وئېل
په ډک محفل کښې کچه کېږم، را نه غاړه وُځه!

چې دې بې خوده کړم ساقي! اوس را ته ږدې قېدونه
په دې اداب دې نهٔ پوهېږم، را نه غاړه وُځه!

په سپينو سپينو چې دې وُ کتل، سُور سُور دې کړمه
لړ دې په زلفو کښې پټېږم، را نه غاړه وُځه!

زهٔ دې مېلمه راغلے يم،دا دَ پښتو وطن دے
په "سترې مهٔ شې" دې نهٔ غولېږم، را نه غاړه وُځه!

زرين چې هر وطن کښې اوسی، تا به ياده لری
خو چې له تا نه نهٔ هېرېږم، را نه غاړه وُځه!

۰۸/۰۶/۱۹۹۰ بازارکے



www.pukhto.net

دَ چا په زلفو ځنګېدل غواړم
لکه منصور په دار ختل غواړم

کۀ مې ګرېوان پکښې ریښې ریښې شی
لېلىٰ ! لمن دې رانیوّل غواړم

ملګرو! نن کۀ مې خولۀ ماته شی هم
دَ ښکلی یار نوم اخستل غواړم

په زنځیرونو کښې مې کلک وّتړئ
ګنې دَ یار کوځې ته تلل غواړم

په یوّ تیلی دَ پښتنې جونګړې
اور په قصرونو لګوّل غواړم

دَ دنګو دنګو محلونو په سر
دَ انقلاب نعره وهل غواړم

زرینه! خپل په وړی تړی ارمان
غته څربه وینه څښکوّل غواړم

١٩/٠٨/١٩٩٥ الرياض



وخت چې زما له غېرې منډه وّکړه
ضبط مې حالاتو سره غونډه وّکړه

فکر، شعور، تدبیر جرګه شو سره
قسمت دَ درې واړو نه څنډه وّکړه

چې په کړلېچ دې دَ ځنګلې کاتۀ
غلا دَ اوښانو دې په تونډه وّکړه

تۀ ئې زما، خو بس چې تا وّوئېل
دغه خبره دې برېنډه وّکړه

دَ سترګو خپ کښې دَ تول عمر اقرار
اوږده قصه دې څومره لنډه وّکړه

زرینه! څوک چې مخامخ مې ستائی
دا ئې دَ ما سره ملنډه وّکړه

٢٢/٠٢/١٩٩٣ مكرونة (جدة)



www.pukhto.net

# شېخن مُلا

ستا اوچت اوچت بانکونه
ستا اوږدهٔ اوږدهٔ مونځونه
ستا روژې اؤ ستا حجونه
ستا تسبې اؤ ستا ذکرونه

ستا په ترخ کښې کتابونه
ستا منبر باندې وعظونه

زهٔ منم دا هر څهٔ ښهٔ دی، په دې تهٔ جنت ته رسې
ولې ما له پکښې څهٔ دی؟ په دې تهٔ جنت ته رسې

تهٔ هم دلته جنتي ئې
تهٔ هم هلته جنتي ئې
هلته حُورې کل خوبانې
دلته مستې شاګردانې
هلته یخ شراب جامونه
دلته ګرمې حلواګانې

زهٔ هم هلته دوزخي یم
زهٔ هم دلته دوزخي یم
نهٔ زهٔ دلته جنتي یم
نهٔ زهٔ هلته جنتي یم

دَ ژوندون په سُور دوزخ کښې دَ سامراج په اور کښې سوزم
دَ دنیا دَ جنتیانو زورَوَرو زور کښې سوزم

خپل ژوندون را باندې بار دے
په اُوږو ګرځوم بار ژوند
ورے تږے وُچې شوندې
دَ نېستۍ ډک خوار و زار ژوند

اول دلته جنت جوړ کړه!
پس ته هلته جنت ښایه!
یؤ غریب په خېټه موړ کړه!
پس بیا لوئې لوئې وایه!

نو راشه! پرېږده دا جومات
دَ حجرې په ګُټ کښې کښېنه!
یؤ چیلم دَ بنګو ډک کړه!
خدائے په نوم ئې کړه خېرات

چې نشه شې، دَ جنت نشه دې کُوزه شی دَ سر نه
چې خبر شې دَ دنیا دَ دوزخیانو دَ خبر نه

کهٔ خدائے راکړهٔ جنتونه
دَ مېوؤ نه ډک باغونه
دَ شودهٔؤ سپین نهرونه
دَ شرابو مست جامونه

پُوسې پُوسې ښکلې جُونه
دَ پالنګ خوارهٔ خوبونه
بخملین زرین شالُونه
دَ مرمرو محلونه

زهٔ زرین به ئې لوګے کړم، په دې خرو دېوالونو
دَ دنیا دَ دوزخیانو، دَ جونګړو په سرونو

۲۴/۰۶/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)



www.pukhto.net

ستا ښائست چې قدرت جوړ کړو، دَ نازونو دَ نخرو نه
ور له ور ئې کړهٔ رنګونه، دَ خمار خمار سپرلو نه

ستا ئې زړهٔ دَ جفا ډک کړو، ما له رائې کړله مينه
بيا ئې ډک پکښې جذبات کړهٔ دَ سيندونو دَ چپو نه

ما ته ئې يخه سينه راکړه، دَ وريځې دَ بارانه
تا ته ئې قهر غصه درکړه، طوفانونو دَ سيليو نه

څار دَ خپل دَ لېونتوبه، څار دَ خپل سيرې ګرېوانه
ستَروَند سرتور سرونه، ورته تيټ شو دَ کهرکو نه

په خشوع خضوع دَ مينې، چې نظر پکښې سجده کړم
دَ بنو غلاف اوچت کړه، لړ دَ سترګو دَ کعبو نه

کهٔ ته ځان ته ارغونې وائې، زرين هم ارغونے دے
نهٔ به تهٔ تښتې وعدو نه، نهٔ به زهٔ تښتم وعدو نه

۰۷/۰۱/۱۹۸۹ جدة



دَ خيالونو په صحرا کښې زغلؤم دَ خيال اسونه
دَ الفت په ګرنګونو دنګؤم دَ خيال اسونه

دَ هجران په سرو غرمو کښې لټؤم دَ وصال سيورے
په دې ګران سفر روان يم، زين کؤم دَ خيال اسونه

شپه چې زلفې راخورې کړې، شوګيرې پکښې اُودې شي
زهٔ لا وېښ يم ستا کوڅه کښې ګرځؤم دَ خيال اسونه

خپل په خس زړهٔ کښې ستا دومره لويه مينه څنګه ځائے کړم
خو دَ عقل ستنې شُوم کښې تېرؤم دَ خيال اسونه

دَ ديدن په کلې جنګ دے، لښکر لاړو زهٔ زرين لا
دَ فکرونو اصطبل کښې، خوښؤم دَ خيال اسونه

## موسم

زلفې خوَرې کړه، ماسخوتن کړه! موسم
دَ هجر تود يم، سړيچن کړه! موسم
سرتوره سر دَ بام په سر ؤدرېږه!
ورمه ورمه، ديدن ديدن کړه! موسم

۳۰/۰۴/۱۹۹۵ جدة



www.pukhto.net

ښومه، ښوم دې تنور کلي کښې
په دې بې وسه، دې مجبور کلي کښې

شي پوهه فهم، هم دانش فکر مې
لوګې لوګې دَ لا شعور کلي کښې

سلګۍ سلګۍ دے اوښکې اوښکې ژوندون
په دې دهقان، په دې مزدور کلي کښې

په بله اوړی پرې دَ ښار مېکدې
ښکه خو نۀ مومو انګور کلي کښې

دَ خان خانو دَ سمجهوتو په تُوره
ضمير مو شو په وينو سُور کلي کښې

دَ تنګ نظرو دنيا دغومره وی
په خپته موړ کرخي مغرور کلي کښې

دا تربګني، کينې، حسد زرينه!
لګه خوَريږي دَ ناسُور کلي کښې

۰۲/۰۶/۱۹۹۰ بازارکے



دَ وير په چم کښې اختر نۀ جوړيږي
ښکه خو درد مې دَ سر نۀ جوړيږي

تيارې پېدا کړی، تيارې وژنی زندان
دلته سحر مازيګر نۀ جوړيږي

کۀ تالابونه چمنونه شي ښار
زما دَ کلي منظر نۀ جوړيږي

کۀ ډېر رنګين کړے مصوّره! تصوير
زما دَ يار تصوّر نۀ جوړيږي

چې تندرونه غورځوی لۀ سترګو
لا دَ يار هغه نظر نۀ جوړيږي

يو ښکلے نۀ وړی دَ بل ښکلی ادا
يو ځائے کښې شمس و قمر نۀ جوړيږي

اشنا راځی کۀ نۀ راځی؟ رېباره!
په خولۀ دې کوم يو خبر نۀ جوړيږي؟

ستا په چاپلوسو لوځو پوځو باندې
زما دَ خُوږ زړۀ پرهر نۀ جوړيږي

زرينه! جنګ دے دَ ژوند ژواک په سنګر
دَ يو سړی نه لښکر نۀ جوړيږي

۲۹/۱۱/۱۹۹۱ جده



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# عبدالستار ایدهی

زندگی په خطره ده، قتلِ عام دے په دې ښار کښې
فاصله دَ ژوند اؤ مرګ په منځ کښې کام دے په دې ښار کښې

په لوټمارې زمانې کښې، په شوکمارې معاشره کښې
لُوټ تالان دے، ځان ځانی ده، په دې خوارې معاشره کښې

نهٔ شملې دَ عزت جیګې، نهٔ پړونې حیادار دی
نهٔ جونګړې په امان دی، نهٔ قصرونه په وقار دی

دَ انسان وینې بهیږی، ساه راکښلې خدائی ده
دغه څنګه خدائی ده؟ دغه څنګه بندګی ده؟

دَ ډاکوانو راج چلیږی اؤ راجه ورته بې وس دے
دَ وطن ملُوکې! جنګ دې، په جبین نن دَ هوس دے

دَ دولت جمع کؤلو، چې سیلۍ ده الوتلې
دا پمنه بیماری ده، په هر چا ده لګېدلې

دې وړو وړو خدایانو، دا خدائی چرته قبضه کړه
مونږ وړو وړو بندیانو، دا خدائی چرته خفه کړه

نهٔ پرې قهر نازلیږی، نهٔ پرې تندر را غورځیږی
نهٔ دا مزکه ئې رانغاړی، نهٔ اسمان ورته غریږی



داسې وخت کښې دَ احساس اؤ دَ خلوص خاوندان کورم
لېونے نهٔ یم نو څهٔ یم؟ چې په بده اوښان ګورم

داسې وخت کښې یؤ انسان چې ټول ملت پرې فخر ؤکړی
ملت څهٔ؟ چې دَ انسان انسانیت پرې فخر ؤکړی

دَ انسان په قدر پوهه، دا انسان عظیم انسان وی
دَ بې وسو دَ نادارو، خوار و زارو قدردان وی

دَ هر چا په خُوږو خُوږ وی، دَ هر چا په درد دردمند وی
چې هم ستا په درد دردمند وی، هم زما په درد درد مند وی

نهٔ دولت اؤ جلال غواړی، نهٔ په سر باندې تاج غواړی
نهٔ په تا باندې راج غواړی، نهٔ په ما باندې راج غواړی

یؤ درویش داسې درویش چې، درویشان ورته سلام کړی
یؤ ګدا داسې ګدا چې، باچاهان ورته سلام کړی

داسې شته دے یؤ درویش چې، په هغهٔ فخر پکار دے
په نامه عبدالستار دے، په کردار عبدالستار دے



www.pukhto.net

وره غونډې موسکا وه، طوفانونه ئې رانغښتي وو
يؤ پرق دَ بام په سر ؤ، تندرونه ئې رانغښتي وو

چې ما دَ کلالی مخ، دَ پړونی پلؤ پورته کړو
نشې وې، تماشې وې، ښائستونه ئې رانغښتي وو

چې ما ورته ور ؤکتل، دَ شرمه تکه سره شوله
په سرو سرو انګو کښې، خمارونه ئې رانغښتي وو

هغه غزل غزل سترګې، هغه غضب غضب کاتهٔ
بڅری ورېدل ترې، انکارونه ئې رانغښتي وو

ما وې "ښکا ته راشه!"،نو په رو رو ئې سر پورته کړو
دَ سترګو په بنو کښې دریابونه ئې رانغښتي وو

دَ مینې دې یوې لمحې، زهٔ تول لمبه لمبه کړمه
زرینه! ما دَ پاره، قیامتونه ئې رانغښتي وو

۰۱/۱۲/۱۹۸۷ البوادي (جدة)



ما یادؤل، لکه چې ستا دَ وس خبره نهٔ ده
تا هېرؤل داسې زما دَ وس خبره نهٔ ده

ځواني جذبې مینې ته غېږې دَ هوس ورکوی
رښتینې مینه دَ هر چا دَ وس خبره نهٔ ده

برداشت دَ هر ظلم لرم، خو دَ بې رخی اشنا
ډېر ټینګوم ځان خو ژړا دَ وس خبره نهٔ ده

ناصحه! ما هم نهٔ منل، چې په چا نهٔ ؤم مئېن
زړهٔ ورکؤل چا له، رښتیا دَ وس خبره نهٔ ده

دَ هر مرض علاج کېدے شي، خو دَ زړهٔ دَ مرض
والله چې دا دَ مسیحا دَ وس خبره نهٔ ده

دوه مئېن زړونه دَ یؤ بل نه بېلولے نهٔ شی
دغه خبره دَ دنیا دَ وس خبره نهٔ ده

نور به دَ هر چا ؤمنی، خو یؤ زما خبره
زرینه! دغه دَ اشنا دَ وس خبره نهٔ ده



www.pukhto.net

راشه دَ ماښام په خره خره کښې
ناست يمه دَ کلي خوا ته شره کښې

مرګ ښهٔ دے مريړی پرې دَ سقاط وړی
ژوند چې دَ چا را نهٔ شي ښېکره کښې

ډک دَ مينې زړهٔ به درله درکړمه
نن کهٔ مې مېلمه شې په جونګړه کښې

مينه دَ ښائست رنګونه نهٔ ګوری
سپينې شهزادګۍ تورې بنګړه کښې

دريغه کهٔ دا پېغله پښتو ناوې شي
ګل به ورله کېږدمه په څنه کښې

سترګې به ستا سترګو نه وا نهٔ ړوم
قتل دې شم زهٔ په دې جګړه کښې

ما پرې هر اعتبار زرينه! کړے دے
زهر راته کړ نهٔ کړی په ګوَره کښې



# کالاباغ

چا ته کالاباغ، چا ته سپين باغ، سپرلے سپرلے وطن
مونږ ته خو زمونږ په وينو سُور دے ګلالے وطن

دا دَ ښکلاګانو، ښائستونو، دَ سپرلو وطن
دا دَ چينارونو، چمنونو، ښاپېرو وطن

مونږ په دې جونګړو څپرونو باندې فخر کړو
مونږ په دې خاؤرين خړو کورونو باندې فخر کړو

دا خاؤره مو مور ده، مونږ په دې پښې غزولې دی
مونږ دَ دغه مور دَ سينې ډېر شؤده رؤدلی دی

دغه ډکې ډکې په ګلونو غېږ په غېږ ډاګې
دا په شا اؤختې په فصلونو غېږ په غېږ ډاګې

دغه دَ ډنډونو، دَ وَلو اؤ دَ کوهېو زمکه
دغه دَ قاشقاشو، تماکو اؤ دَ ګنو زمکه

دغه يخې يخې، دَ چينو خوږې خوږې اوبهٔ
دغه دَ خوَړونو، غبرګې غبرګې دا چپې اوبهٔ

دغه خو زمونږه دَ ساده ژوندون ښودنه کړی
دغه خو زمونږ دَ غېرتې پرون ښودنه کړی



www.pukhto.net

دغه شنهٔ شنهٔ غرونه، دَ نښترو سره شنهٔ غرونه
دغه سرهٔ سُرهٔ غرونه، ملغلرو سره سرهٔ غرونه

دا دَ غرو لمنې خوبولې، پاړې پاړې شنې
دا دَ غرو سینې، ډکې په ونو جاړې جاړې شنې

دا دَ غرو سرونه، سپین په واوړو ئې شملې جېکې
چرته تاترې جکې اؤ چرته بلیجې جېکې

یؤ خوا کهٔ فطرت ورته بخښلی ښائستونه دی
بلخوا ډک په کانو خزانو باندې دا غرونه دی

هر وختې غریبۍ دَ اغیار په سترګو سترګو کښې
خار دے دَ سامراج، سرمایه دار په سترګو سترګو کښې

مونږ دَ تربېلې په بند خپل ډوب کلی لیدلی دی
مونږکلیو په کلیو په سر کډې ګرځولی دی

مونږ په خپله خاوره باندې نور ډېمونه نهٔ پرېږدو
نور دلته کښې تور دلته کښې شنهٔ باغونه نهٔ پرېږدو

دغه کالاباغ زمونږهٔ خُونې ورانوے نهٔ شی
څو پورې چې یؤ پښتون ژوندے وی، جوړېدے نهٔ شی

۱۴/۰۸/۱۹۸۵ بټکرام



# دَ ګوډاګی وادهٔ

په ړمنځ دَ پسرلی بیا دَ چمن زلفې خورې شوې
بوراګان په ګډا سر دَ ازادۍ سندرې وائی

هر یؤ ګل خان سمبال کړے لکه "هیر" خندنې سترګې
هر بلبل ورته "رانجها" دے په شپېلۍ سندرې وائی

دَ "ادم" دَ رباب تار کښې، دومره مینه دومره سوز دے
نن دَ زلفو په تارونو "درخانۍ" سندرې وائی

دَ "رحمت" دَ پلار کلیزه، خو "علی بابا" کړه ده
خو "بالتی پاپو" جرنېل ته، په بلۍ سندرې وائی

دا دَ شېخ مسلمانی ده، چې ګاونډ کښې ئې ماتم دے
دے بې غمه کور کښې ناست دے، دَ ښادۍ سندرې وائی

دَ پتلون نه ئې قربان شم، دا ړیرخړلے قاری څوک دے؟
کهٔ ګرجا کښې څوک انګرېز، دَ عربۍ سندرې وائی؟

کور په کور کلی په کلی، ماشومان وربانډې پنډ دی
بیا "ګډَنه ابۍ" راغله، لېونۍ سندرې وائی

نهٔ اختر دے نهٔ شب قدر، نهٔ ښادی ده په دې چم کښې
کهٔ وادهٔ دَ ګوډاګی دے، جینکۍ سندرې وائی



www.pukhto.net

دَ "حُسینؓ" دَ وینو سُور لاس ئې په یوْ سپېره چپ کړی
چې کوم ځائے کښې یزیدان دَ یزیدۍ سندرې وائی

دَ "یوسفؑ" نه تپوس وْکړه! دَ "بلالؓ" نه تپوس وْکړه!
څهٔ ئې حال وی چې دَ بل دَ غلامۍ سندرې وائی

دَ ازغو په سر پئیلے، خپلو وینو لمبولے
ګل سلګو کښې دَ چمن دَ ښېرازۍ سندرې وائی

چې دهقان په کور کښې خان شی، دَ دهقان ښځه خانخېله
په پټی کښې به ئې فصل، دَ نېستۍ سندرې وائی

زما عقله! تهٔ دَ خپلې دائرې نه بهر نهٔ شوې!
هغه نور دی چې خلا کښې په سپوږمۍ سندرې وائی

چې خودی اوْ خپلواکی اوْ اتحاد ئې وی شعور کښې
اے زرینه! هغه قام دَ ترقۍ سندرې وائی

۲۶/۰۳/۱۹۸۶ جدة

## نکریزې

چې نکریزې سر خوَړلې وړوې
دا نیازبین لاسونه ولې کړَوې
زهٔ زرین په دَ زړهٔ وینې درته درکړم
کهٔ دا سپین لاسونه تهٔ پرې سْرهٔ کوې

۲۰/۰۱/۱۹۸۹ البوادي (جدة)



چې زما دَ وْچو شونډو څپر ستا لبانو مات کړو
دَ زړهٔ سر کښې دَ چمن هر یوْ ازغے ګلانو مات کړو

دا ډاکوان دا شوکماران په توره شپه کښې خلق لوټی
خو زما دَ زړهٔ کندر په ورځ رڼا خوبانو مات کړو

په کوځه دَ ملاقات کښې دَ بلۍ لاندې اودهٔ وْم
دَ الفت مغروره سر مې دَ تهمت تیګانو مات کړو

دا دَ چا په راتلو دومره، هنګامه دَ مدهوشۍ وه؟
ورپسې چې مېخانه کښې خپل خپل جام رندانو مات کړو

یوه لویه معجزه دَ اتفاق مې وْلیدله
یوْ زمرے ډېر زوَرور دوْه بې زړو ګیدړانو مات کړو

تا دَ عشق دَ سمندر په یوه خوشکه جزیره کښې
خوشے پرېښوْم زما زړهٔ دَ تنهایۍ لېوانو مات کړو

دَ تقدیر دا مړې مړې کرښې، په تدبیر باندې تازه کړه!
اے زرینه! پاسه مخ دې دَ نېستۍ مچانو مات کړو



www.pukhto.net

✿

دَ اختر شپه ده، تا پسې مې په سلګو ؤژړل
هم راسره په أوښو ناستو فرښتو ؤژړل

نهٔ دلاسې، نهٔ ډاډګيرنې دې راؤلېږلې
تهٔ خو لا ښه وې، تا سره خپلو پردو ؤژړل

نهٔ ئې په سر راته لاس راکښو، نهٔ ئې اوښکه لاړه
لکه ماشوم مې ستا تصوير ته په جلو ؤژړل

خلق زمونږ دَ بې وسۍ په تماشه وو ولاړ
تا مې په تلو اؤ ما دې تا ته په راتلو ؤژړل

ګرمې بلبل سره به وې سندريزې چغې
خوشې چمن ته هم ګلونو هم ازغو ؤژړل

چاوې جنت کښې چې پښتو اؤ ژړا دواړه نشته
ما دَ جنت په پاکه خاؤره په پښتو ؤژړل

دَ دې شېخانو خدايه! مونږه ته خو لږ هم ؤګوره!
چې شته وطن کښې مو دَ بل په نغرو ؤژړل

په شته وطن کښې دَ لعلونو، در په در ګرځمه
زرينه! ما دَ خپل نظام په ناکړدو ؤژړل

۱۸/۰۲/۱۹۹۵ جدة



# دَ يُون کاروان

په هغه سترو پراوونو قسم
چې په تؤدو شګو پندونه کوی
تندې نيولې شوندې، ؤچ پاړونه
په کانو تړو مزلونه کوی

دَ برېبُوکو تاؤدهٔ تاؤدهٔ بادونه
چې په ګردونو کښې صحرا پټه کړی
ځنګل په سترګو ډال کوی، وی روان
خپل دَ نظر لګېدو غلا پټه کړی

سترې ستومانه قافلې قافلې
دَ سکڼ ماښام غېږه کښې ساه واخلی
په غنو جرو باندې کلکې اودې
سحر راپاسی، کډې بيا واخلی

دَ هغه کونډې په ښو مې قسم
چې پرې دَ اوښکو کهکشان جوړه وی
لکه دَ ګلو نه چاپېر شپلونه
دَ جنتونو ګلستان جوړه وی

دَ بې وسۍ په دغه سُور دوزخ کښې
ګلالی مخی ماشومان سوزوی
دَ شرابونو دَ شؤدو جنت کښې
دَ ولورې تندې جنتيان سوزوی



www.pukhto.net

په هغه پاکو ماشومانو قسم
چې دي ناپاکو ته لاسونه نيسي
هغه لاسونه چې دَ لوبو دي لا
دَ بل دَ وړاندې کچکولونه نيسي

يؤ خوا شتَمن ماشومان سر غؤړ اؤ سمبال
موټر کښې کښيني، مدرسې ته ورځي
بلخوا خيرن خچن، شلېدلې جامې
دَ سقاط دَ پاره هديرې ته ورځي

اے دَ ژوندون دَ ښهٔ اؤ بد خاونده!
هغه هم ستا اؤ دا هم ستا بنده دے
کهٔ هغه ستا دے، دَ ستائنې وړ ئې
خو دغه بل غريب دَ چا بنده دے؟

يا دَ هغهٔ دَ خدايۍ شه منکر
يا خو دَ دهٔ دَ خدايۍ شه قائل
يا خو هغه هم کړه دَ دهٔ په شانې
گنې دَ دواړو دَ ښادۍ شه قائل

يؤ له پخپله خدائی جوړه کړې
بل ورته خپله په سجده کړې مجبور
کهٔ ته لهٔ ځانه بل خدائ نهٔ منې نو
ولې بنده ته دې بنده کړې مجبور

په هغه دنگو مُنارو مې قسم
چې دَ جومات په سر اسمان ته رسي
دَ دې مرمرو فضول خرچه عظمت
کهٔ سل جونگړې ئې تاوان ته رسي

دَ قالينونو په دې پاکه زمکه
خيرن خيچن، پښې ابله،او سيرې گرېوان
ستا جنتيان مې ورته کله پرېږدی؟
دلته ورځي صفا سُوچه مسلمان

په هغه ټولو ناکړدو مې قسم
چې انسانان په انسانانو کوی
تهٔ ئې ليدے شې، زهٔ ئې نهٔ شم ليدے
چې ستا غټان ستا په خوارانو کوی

دَ دغه سترو پړاوونو قسم
چې هر سحر ئې هر ماښام ته رسي
دَ نوح طوفان ئې لار نېولے نهٔ شي
دَ يُون کاروان به خپل مرام ته رسي

۲۰/۰۱/۱۹۸۸ البوادي (جدة)

پلوْ دَ مخ نه لر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم
څهٔ جوړ مې تصوّر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

دَ سترګو په لیندو کښې دَ ښو غشی راؤوله
له زړهٔ مې لر و بر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

دَ زلفو پسرلے دې کړه راخپور په ګلالی رخسار
ښائسته را ته منظر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

دَ اوړی مازیګر ګودر ته حسن راغونډ کړے دے
راځه! منګے په سر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

راځه! چې دَ الفت دنیا ته نوې قصه جوړه کړو
دا مینه مې امر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

په نیم نظر اشنا! دَ نیمکښو کړکی نه مهٔ ګوره!
لږ مخ دې رابهر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

زرین وائی، اهونه خو نه روغو زړونو نهٔ خېژی
زخمی راله څیګر کړه! چې غزل درباندې ؤلیکم

۱۹/۰۵/۱۹۸۸ (دَ کالام اوْ بحرېن په لاره)



ښکلے موسم دے، کهٔ راځې، نو راشه!
کهٔ نظارې دَ ژوند کوې، نو راشه!

خپور په ماحول دے رومانی کېفیت
دَ زړهٔ جذبې کهٔ تخنوې، نو راشه!

دا لوړ لوړ، ویړ ویړ، دا زرخېزه غرونه
کهٔ ارادې دې پخوې، نو راشه!

اوبهٔ اوبهٔ دے واؤره واؤره وطن
ګرم مزاج کهٔ سړوې، نو راشه!

لکه دا ستا زما دَ زړونو جذبې
کهٔ ګورې دا سپینې چپې، نو راشه!

دَ لرګو پُل باندې دَ سیند دَ پاسه
کهٔ دَ الفت نغمې چېړې، نو راشه!

چې په ګرمی کښې دَ یخنی موسم شی
کهٔ په باران څان لمبوې، نو راشه!

هر خوا ته دوه مئېن جوړه جوړه دی
کهٔ هنی مُون مناوهې، نو راشه!

بغېر له تا نه ئې زړهٔ کله لګی
کهٔ دَ زرین زړهٔ لګوې، نو راشه!

۱۸/۰۵/۱۹۹٤ جدة



www.pukhto.net

❁

دَ بنو غشی ئ ما نه لر و بر کړه!
زړهٔ زما سُورے سُورے، کندې کپر کړه!

کهٔ جذبه مې دَ پښتون مئېن زړهٔ کورې
پښتون مخ دې لهٔ پرونی را بهر کړه!

چې په تا باندې بدنام په تا تاوان شم
ما دَ خلقو تماشه دَ چم په سر کړه!

چې دَ هجر شوګیرې مې پکښې خاندی
خپور په ما داسې دَ زلفو تصوّر کړه!

چې غرور دې دَ خندا پکښې لاهو کړم
څاڅکے څاڅکے مې دَ اوښکو سمندر کړه!

چې بانه مې ستا په زنه لاس وهل شی
زهٔ به ستا منت کوم، ځان مرور کړه!

چې پیکه دَ فراق شپې مې ترسښکونې کړی
تړې سترګې په دیدن مې دومره تر کړه!

زرین وائی، چې غزل در باندې جوړ کړم
تهٔ په بام را ته په مخ زلفې کَر وَر کړه!



❁

هغې زوړ کلی ته راشه! په هغې زړه کوڅه کښې
چې نن بله پانه واوړی، ستا زما په افسانه کښې

دَ امید پښې مې شوې شَلې، دَ وصال په دنګو غرونو
ورک ئ سترګو مې نظر شو، ستا دَ زلفو سلسله کښې

دَ دنیا خلق خو ما ته، لېونے وائی جانانه!
وایه! تا ته څنګه ښکارم؟ په ریښې ریښې جامه کښې

دَ نیمګړو حسرتونو مې دا یؤ ارمان پوره کړه
چې زهٔ وُدرېږم کوڅه کښې، تهٔ مې کورې دروازه کښې

په سجدو اوچلے داغلے، په شېخئ دَ دوزخی وی
کهٔ مُلا وی په جومات کښې، کهٔ پادری وی په ګرجه کښې

زاهدان به هم خوب پرېږدی، کهٔ ستا مینې نه خبر شی
چې څو خوند دے ستا دَ یاد،په دغه سترې شوګیره کښې

هغه سر چې دَ غریب زړګی په وران کنډر کښې پروت وی
دې نه لویه سجده نشته، په جومات هم په کعبه کښې

دَ یار مینه دروغژنه وه دا څکه سر ته نهٔ شوه
دغه فرق دے زرینه! په کره اؤ په کوته کښې



www.pukhto.net

# کافر مې نهٔ کړې

بیا دې شروع کړې په منبر دَ جنتونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې
مونږ دوزخیانو ته کوه دَ دوزخونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

نن جوړې بیا چرته مېلمه تلے وې
دَ محلونو خاوندانو کره
دَ بخملینو زر زری شالونو
دَ قالینونو خاوندانو کره
په شرابونو کبابونو کښې ډوب
دَ نصیبونو خاوندانو کره

څکه په ذهن دې سوَرې دی دَ موجونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

دلته دَ یؤ غریب جونګړه نشته
تهٔ ورته هلته محلونه ښائې
دلته دَ یؤ غریب پتے نشته دے
تهٔ ورته هلته شنهٔ باغونه ښائې
دلته غریب لهٔ ولوَږې مری، تهٔ هلته
ورته دَ پئیو سپین نهرونه ښائې

پس دَ اختره مهٔ کوه دَ سرو لاسونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې



هلته اویا حُورې دَ یؤ جنتی
دلته څلور څهٔ چې یوه ګرانه ده
دَ هغوی سرې شونډې شینکی خالونه
دلته یوې لره جامه ګرانه ده
تا اؤ دَ خان سره سپالی نهٔ کوو
مونږ ته هم دا اؤ هم هغه ګرانه ده

مونږ ته معلومې دی دَ خپلو نصیبونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

زهٔ دا دَ غر هومره ژوند څنګه تېر کړم
په ټول وطن رانه غټان قبضه دی
په دغه خاوره په دې زمکه باندې
دَ دې وطن یؤڅو کسان قبضه دی
په واک اختیار اؤ خزانو دَ وطن
یؤ څو ماران اؤ ښاماران قبضه دی

تا څخه نشته دے زمونږ دَ علاجونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

کهٔ زهٔ اؤ خان دَ یؤ خدائیې بندیان یُو
بیا خو انصاف پوره پوره غواړمه
کهٔ زهٔ اؤ خان دَ یؤ ادم څامن یُو
دَ پلار میراث کښې ترې حصه غواړمه
زهٔ خو هم نفس هم خواهشونه لرم
اخر بنده یم څنګه نهٔ غواړمه؟



www.pukhto.net

سیرؤل غوارۍ دَ تقدیر دَ تضادونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

چې دَ دوزخ له وېرې ؤرپېږې
ما له دَ تا پورې خندا راشي بیا
چې دَ جنت په خیال کښې ؤموسېږې
ما له دَ تا پورې ژړا راشي بیا
کۀ دا جنت دوزخ نه منځه ؤخی
خدائېګو په خولۀ کۀ دې الله راشي بیا

په تسبو اړوې دَ خپلو خواهشونو قصې
پرېږده مُلا! دغه دَ عېشونو قصې

## نندیاړ چپې

چې ئې په غاړه "صحرائی" کړې دَ صحرا سندرې
شوې "دَ نندهیاړ چپې" دَ مینې دَ ښکلا سندرې
چې اباسین ته غورځنګیږي، دا ټپه به کوی
دېرې خوږې دی دَ دې کرانې پښتونخوا سندرې

نندهیاړ — ننک ویاړ،دَ بټه کرام دَ یوې علاقې او دَ بټه کرام دَ خوږ نوم
صحرائی — قمر صحرائی
چپې — دَ نندهیاړ دَ خوږ چپې
نندهیاړ چپې — دَ قمرصحرائی دَ کتاب نوم (تذکره)



✿

چې دې ګرمې ګرمې شونډې را ته راکړلې په خولۀ کښې
کۀ نرګس دې راته کړ ګړل دَ شرابو په کاسه کښې

چې په مخ باندې دې زلفې ورانې ورانې راخپرې شی
لکه ګل چې راختلے وی دَ جرې په جاخه کښې

دَ نندهیاړ دَ ګل ورین غرونو هوا دې عنبری کړه
چې سرتوره سر ولاړه ئې باران ته په شبه کښې

چې یوه لمحه سر ستا په غېږ کښې کېږدم نو پوره ده
یؤ سجده په سلو زرو حسابیږی په کعبه کښې

چې لوَنده خوشته دې ؤنیسم دَ مینې ګرمه غېږ کښې
خدائے دې یخه پخه راکړه، دَ باران په توره شپه کښې

زرین دلته حُوره غوارۍ، مُلا هلته حُوره غوارۍ
دغه یؤ شے مشترک دے، دَ مئینو په قصه کښې

۱۶/۰۷/۱۹۸۵ خپل کور



www.pukhto.net

گرېوان چې ؤشلوي په مینه کښې وحشت ته رسي
زړهٔ چې څوک سيرې کړي، بس هغه محبت ته رسي

دا پېشه وره پيرى نهٔ منم له شرعې خلاف
په شريعت چې برابر وي، کرامت ته رسي

په ټکېدو سوزېدو جوړ شى دَ پترى نه کالې
پس ته دَ ښکلو په بدن زېب و زينت ته رسي

دلته تهٔ يؤ قدم ځې، مخکښې دَ نوکر نه، خانه!
هلته اتيا کاله به وراندې دے جنت ته رسي

عاقل کم عقل خپله وائى دَ بل کله اؤرى
چې زده کړي عقل له کم عقله، ذهانت ته رسي

دَ حق ماشومې ارزوګانې چې خپل ضد کښې راشى
على اصغر غوندې خود داره شهادت ته رسي

هر څوک چې بل له ګنى سپک، هغه پخپله سپک شى
څوک چې دَ بل کوى عزت، هغه عزت ته رسي

چې وى محنت اؤ ذهانت اؤ هم اسراف ورځخه
چې دغه درې واړه وى چا سره، دولت ته رسي

لا ئې خوانى دهٔ، شاعرى ئې لهٔ جذته ډکه
زرين به رو رو دَ مجاز نه حقيقت ته رسي



راشه جانانه! تماشه جوړه کړه!
په ما دَ زلفو توره شپه جوړه کړه!

دَ خوار تندى دَ سُور اسمان په لمن
دَ اختر مياشت را ته کړه جوړه کړه!

محراب دَ ورُوځو کړه ګلګون ټکونه
زما دَ شوندو پرې سجده جوړه کړه!

دَ هوسناکو دې سپېر سترګى چم کښې
دَ وخت لنډېړو له حجره جوړه کړه!

دَ مخ په باغ دا تور حبش اردليان
دَ دواړو څنو بدرګه جوړه کړه!

ستا له مېخوارو سترګو زهد ښاخى
يا ترې کعبه يا مېکده جوړه کړه!

دَ بې اختيار زړګى په سپينه مانى
راته جونګړه پښتنه جوړه کړه!

تهٔ پښتنه ئې، زهٔ پښتون يم، پښتو!
زهٔ به دې شال، تهٔ مې شمله جوړه کړه!

په بې اظهاره خولهٔ، خولهٔ څوک ورکوى
زرينه! تهٔ خو ورته خولهٔ جوړه کړه!



www.pukhto.net

# دا نظام

یه خدایه! زلزله کړې! دا نظام پکښې فناه کړې!
کهٔ دا نهٔ وی، نو بیا یؤ خمینی دلته پېدا کړې!

نهٔ سِکھ شوم، نهٔ هندو شوم، نهٔ انګرېز نهٔ مسلمان شوم
نهٔ دَ دین نهٔ دَ سادین،او نهٔ دَ خان نهٔ دَ جهان شوم
نهٔ مغل شومه دلته، نهٔ مرهټ اؤ نهٔ افغان شوم
زهٔ خپل په دې نظام کښې، پخپل ځان باندې تاوان شوم

یؤ ځل بیا ابدلی، خدایه! ژوندے په دې دنیا کړې
کهٔ دا نهٔ وی، نو بیا یؤ خمینی دلته پېدا کړې!

نهٔ دا جمهوریت نهٔ بادشاهت نهٔ خلافت دے
نهٔ دلته انګریزی قانون، نهٔ دلته شریعت دے
دَ چا مټ کښې چې زور وی، بس دَ هغهٔ حکومت دے
دَ هغه ملکیت دے اؤ دَ هغهٔ وراثت دے

کهٔ وی نو دَ عمرؓ غوندې عادل خلیفه را کړې!
کهٔ دا نهٔ وی، نو بیا یؤ خمینی دلته پېدا کړې!

چې تا ؤمنم خدایه! کهٔ بندیان دې ؤمنم زهٔ؟
دا ستا دا خدائی اؤ کهٔ غتان دې ؤمنم زهٔ؟
انسان دې ؤمنم اؤ کهٔ شېطان دې ؤمنم زهٔ؟
پیران دې ؤمنم اؤ کهٔ مُلیان دې ؤمنم زهٔ؟



یا دا خونړی ورک کړې، یا زما خُونه تباه کړې!
کهٔ دا نهٔ وی، نو بیا یؤ خمینی دلته پېدا کړې!

دا ورځ دَ ازادۍ ده، په اظهار پابندی نشته
دا ژبه دَ شاعر ده، په اشعار پابندی نشته
دا باغ دَ دې مالیار دے، په مالیار پابندی نشته
اقبال ؤ، کهٔ زرین دے، په ګفتار پابندی نشته

اقبال اؤ دَ خوشحال بابا خوبونه مې رښتیا کړې!
کهٔ دا نهٔ وی، نو بیا یؤ خمینی دلته پېدا کړې!

# مور

چې دَ هر ځهٔ نه خوَره ده، هغه مور ده
چې دَ مینې مجسمه ده، هغه مور ده
هغه مور ده، چې ئې پښو لاندې جنت دے
چې په زړونو کښې کعبه ده، هغه مور ده

# خوښه

کاتهٔ دې تندر دے، هم نهٔ کاتهٔ دې چړق دے اشنا!
نیولے ما ورته ځیګر دے، چې په کوم مې وولې
یؤ ته به تهٔ سر ټیټوې، بل ته به زهٔ ټیټوؤم
کانړے دې پښو کښې، ګل په سر دے، چې په کوم مې وولې

۱۶/۰۴/۱۹۹۱ مکرونة (جدة) دَ وروکی اختر شپه



www.pukhto.net

# پښتو اؤ پښتون

پښتون ښخه پښتو ده اؤ پښتو ښخه پښتون دے
دا دوه پوهې چې يؤ شی، ترې نه جوړ يؤ پوهنتون دے

اديب دے، کۀ شاعر دے، کۀ نقاد دَ پښتو ژبې
پښتون فکر ئې باز په دنګو غرونو الوَتون دے

حجاز دے کۀ فارس دے، افريقه کۀ ولايت دے
پښتون پکښې پښتون دے، خپل رواج خپل ئې قانون دے.

اورنګ ؤ کۀ پيرنګ ؤ، شوروی کۀ اتحاد دے
پښتون دَ استبداد دَ هر يؤ جبر زړۀ چاؤدون دے

جذبه دَ پښتنی احساس دَ هر ښۀ انتها ده
دَ کريکې لېونتوب دے اؤ په مينه کښې جنون دے

مېدان دَ خپلواکۍ دے تقدس کۀ دَ پښتو دے
زمونږ دَ لېونو خو يا مېړون دے، يا مرګون دے

خوارۀ وارۀ، ګر وَر، ښۀ تسنې وسنې په ملکونو
زمونږ ښۀ در په در، ښۀ بې اسرې غوندې ژوندون دے

پښتون په پت ښکره کښې، په تُوره، وفا، ننګ کښې
هر ښۀ باندې پوره دے، خو دَ رزق په لټون دے



پښتون شپېل بېل دَ کانو بُوټو دَ ځنکلو
دَ غرونو دَ ګلونو دَ خوړونو زړۀ راښکون دے

زرينه! ګل وری ده، نن دې سوی ريګستان کښې
پښتو دَ ګل ورينې ادبی تړون پوئيون دے

۲۲/۰۳/۱۹۹۳ جدة

# حمزه بابا

دَ خوشحال خان، دَ عبدالرحمان دا جل وهلے چمن
سارې اؤ دشتې دَ پښتو ئې ګلستان کړو اخر

دَ پښتنی ادب تاريخ دے حمزه خان شينواری
خان ئې بابا کړو، دَ پښتو غزل ئې خوان کړو اخر

# عقيده

په مذهب دَ عاشقۍ مې عقيده ده
ما ونيلې ستا دَ مينې کليمه ده
زرين وائی، ستا کوڅه زما جنت دے
ستا دَ تور اوربل دَ لاندې مې کعبه ده

۲۰/۰۳/۱۹۹۱ عزيزية (جدة)



www.pukhto.net

کومه لېونی چې لهٔ هر چا نه را ته ګرانه ده
اؤرم، چې هغه سبا دَ بل سره روانه ده

ستا دا دلسوزي ده خودکشي، دَ جنوني فکر
تهٔ پرې شوې لوګے پتنګه! شمع لا روښانه ده

شېخه! دَ تسپو ټکا دې، دې کوڅه کښې زياته شي
فکر دې کافر دے، خو شېخي دې مسلمانه ده

زهٔ وايم، چې "تهٔ به کړې اظهار"، تهٔ وائې، "تهٔ به کړې"
دا يوه خبره ده، چې مونږ دواړو ته ګرانه ده

ما وې، "بيا به ؤ نهٔ ښکم، چې تا په مينه راکړو جام
دا داسې مقام دے، چې توبه پکښې پښېمانه ده"

ستا دَ زلفو هر تار مې دَ ياد په سوم کښې تېرويستو
دا دَ هجر شپه به نوره تېره شي، اسانه ده

ما خخه چې څهٔ دي، دا شو ستا، رقيبه! يار زما
دا سودا دې ما زرين ته سل ځلې ارزانه ده

۱۹۸۵/۰۴/۱۹ مشاعره بټګرام



زړهٔ مې په هر چا مئينېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟
زما اختيار پرې نهٔ چلېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

ؤکړم قسم، چې بيا به يؤ ښکلي ته نهٔ ګورمه
خو اخر سترګې دې جنګېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

زهٔ کهٔ ترې هر څو کړم نفرت، خو هغه مينه کوي
مينه دَ مينې نه جوړېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

زهٔ ئې کهٔ هر څومره دَ خلقو نه کړم زړهٔ کښې پټه
هغه مې مخ باندې ښکارېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

زهٔ ورته هر څهٔ هر څهٔ وؤائيم چې څهٔ به وائي
هغه څهٔ نهٔ وائي شرمېږي زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

ما پرې دَ خپلو دَ پردو جرګې را ټولې کړلې
اوس چې هغه نهٔ پخلا کېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

په هر جومات کښې په سجدو لهٔ خدايه تا غواړمه
چې دغه سوال مې نهٔ قبلېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

واعظه! نهٔ يم زهٔ زرين، بُت پرست نهٔ يمه خو
چې سر مې ښکلو ته ټيټېږي، زهٔ به څهٔ ؤکړمه؟

۱۹۸۷/۰۷/۰۳ الرياض



www.pukhto.net

چې يؤ تهٔ وې اؤ بل زهٔ وې، په يؤ بل باندې قربان وې
نهٔ جونګړه، نهٔ محل وې، بس يؤ خوشې بيابان وې

زما لاس وې ستا په لاس کښې، دَ ځنګل په سېل وتلې
دا شېډل شېډل ګلونه، ستا ښائست ته حق حېران وې

دَ نښترو په ځنګل کښې، دَ چينې په غاړه ناست وې
زما سر ستا په ځنګون وې، ستا خوارهٔ په ما زلفان وې

نهٔ څوک خپل وې نهٔ پردې وې، دَ الفت بېله دنيا وې
دَ دنيا دَ هنګامو نه، يؤ طرف ته په امان وې

يؤې سمسته کښې مو شپه وې، په رو رو مشغولېدلې
شُومه دم وې، خاموشي وې اؤ نرې نرې باران وې

چم په چم، کلی په کلی، په ريښو ريښو جامو کښې
وږې تږې ګرځېدلې، خو چې ما سره جانان وې

تا وې غېږه کښې نيولې، ما سلګۍ درته وهلې
تا مې شونډې ښکولولې، ځنکدن به مې اسان وې

دَ جنت په پسرلو کښې، دَ زړين سره هم تهٔ وې
نهٔ ئې هلته کښې وې حُورې، نهٔ ئې هلته کښې غلمان وې

۰۴/۱۲/۱۹۹۳ الرياض



په چاپېرچل ئې تول وطن سپرلې ښکارېږي
دَ صحرا منځ دَ وُچو شګو ډېرکې ښکارېږي

دا دَ دولت طاقت ترې لرې کړه دَ بخت ورکړې!
بيا ئې را ايسته کړه، چې خان څومره سړې ښکارېږي

دَ احسانونو لاندې ژوند دَ عظمتونو دې مرګ
دَ بل جامو کښې خپل بدن پردې پردې ښکارېږي

چې په محنت وينم لوبغاړ معصوم ماشوم لاسونه
زړهٔ مې پرې ډېر خُوږېږي، ما ته خپل بچې ښکارېږي

دهقان کټلې وُخورې تهٔ، جُوته هغهٔ ته ورکړې
زرداره! سپيه! خپل محسن هم درته سپې ښکارېږي

ګيدړ دَ کلی منځ نه يؤسی، چرګ خو هم ګيدړ وی
زمرې دَ غار دننه ناست وی، هم زمرې ښکارېږي

رقيبان خپل په قوميت، خپل خپل وطن يادوی
زما وطن پښتونستان ورته هندکې ښکارېږي

دَ هر جابر جبر خلاف عاجز جمهور ويښوی
څکه زړين ورته په سترګو کښې ازغې ښکارېږي

۰۳/۰۲/۱۹۹۳ حي البوادي (جدة)



www.pukhto.net

يۀ رنګين غونډې ماښام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ
تود دَ سرو شونډو يۀ جام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

دَ پانزېب په شڼ مې مات کړه، تسلسل دَ انتظار
يۀ دَ نيمې شپې سلام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

زۀ درتلے نۀ شم دننه، تۀ بهر نۀ شې وتے
يۀ جلوه په سر دَ بام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

وطن ورانې زلزله شه چې دَ ما نه شې چاپېر
ملاقات يۀ سرِ عام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

بند کمره وے، زۀ اؤ تۀ وے، يخه شپه وے دَ باران
په ما داسې يۀ الزام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

په ډک خوَړ باندې لاهو شه! چې دې ؤنيسم په غېږ
دا خواهش مې ناتمام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

چې شی ختمه پرې دَ ژوند پرېشانی، دَ پَرېشان
ډک دَ مينې يۀ پېغام، صدَقه کړه دَ ځوانۍ

۰۷/۰۸/۱۹۹۳ جدة



ساقی باندې مئېن، نۀ مېخانې باندې مئېن دے
مېخوار اخر مېخوار دے په کاسې باندې مئېن دے

ګونګټ په شمع ځان وژلے نۀ شی، شمع وژنی
پتنګ پرې ځان ستی کړی په لمبې باندې مئېن دے

چې سترګو کښې حيا لری په زړۀ کښې مينه مينه
پښتون زړۀ مې په هاغه پښتنې باندې مئېن ے

پښتون پخپل رواج اؤ ثقافت باندې نازېږی
کميس پرتوګ څادر واسکټ شملې باندې مئېن دے

ما وې "بېګا تۀ راشه! څۀ تخفه درکوم"، راغے
بې لوَظ يار په ما نۀ، په تحفې باندې مئېن دے

دَ حُورو اؤ غلمانو خواهش اخستے شېخ دے
والله کۀ په جومات يا په کعبې باندې مئېن دے

ذاتی خواهشونه ورته ډال جوړېدے نۀ شی
پښتون خو دَ پښتو په نظرئې باندې مئېن دے

خدمت خو باچا خان زرينه! کړو په ملنګۍ کښې
رهبر نۀ دے هغه چې په عهدو باندې مئېن دے

۰۱/۱۲/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)

www.pukhto.net

مئېن زړګے مې تنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم
زما اؤ دَ خوب جنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

دَ لرې هېوادونو تورو غرونو پناه یاره!
ستا یاد مې په خنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

دَ وصل په رنګ ډکه مې دَ هجر شوګیره کړه
دا ستا دَ بنګړو شرنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

بې ضبطه خواهشونه مې دَ وخت په قېد کښې بند دي
احساس را ته ګړنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

درتلهٔ څهٔ دي محبوبې! ستا کوڅه را ته یؤ ګام دے
پښتو ده بس اؤ ننګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

وفا، مینه، خلوص، ناز و ادا، حیا زرینه!
هر رنګ کښې دَ یار رنګ دے، په دې کټ کښې اوږم راوږم

۰۳/۰۱/۱۹۹٤ جدهٔ



تړم په زنځیرونو لېونے ارمان دَ مینې
ورځې دَ یار کوڅې ته، سیرَوی ګرېوان دَ مینې

زاهده! بتخانه کښې هم کعبه ده، کهٔ نې وینې
ما هم دَ زړهٔ حرم کښې ایښی دی بُتان دَ مینې

لمن دَ پېغمبر چې زلېخې ریښې ریښې کړه
یؤ عام انسان به ؤساتی بیا څنګه ځان له مینې؟

مجنون په کاڼو سُور دا دَ لیلی کوڅه کښې وائی
"وریږی دې په ما باندې هم دا ګلان دَ مینې"

غوڅ سر دَ جلاتی دَ محبوبې په غېږ کښې خاندی
اے عشقه! مبارک دې شه! شهید ایمان دَ مینې

فرهاد خپلې محبوبې پسې اړوهٔ په غر، څوَړ
حېران ته شو حېران ګوته په خولهٔ حېران دَ مینې

ماشومه ناهیده ورته ولاړه سینه ډال وه
ګولۍ پرې وریدې، کهٔ وریدهٔ باران دَ مینې؟

فقیر شې اکا جانه! بیا زړو کوڅو ته راشې!
بې ننګه په خانګۍ کښې ؤکړو تا، تاوان دَ مینې

زرینه! وار په وار ترې نه یؤ یؤ څې جدا کیږی
لا هغسې روان دے په دې لار کاروان دَ مینې



www.pukhto.net

سر اؤ مال ننګ اؤ ناموس، هر څۀ دَ بل دَ سره خار کړي
محبت کمزوري نۀ ده، زورَوَر صلاحيت دے

دَ دنيا په مخه مخ چې په پلوْ د ما نه پټ کړي
دَ نفرت په دې پرده کښې، دې څرګند څومره الفت دے

په دولت، عزت، ښائست کښې، کوم يوْ ښۀ دے خلق وائي
چې دې درې وارو نه ښۀ دے، زۀ خو وايم محبت دے

په څپېړه دَ ظالم خو، هر مظلوم خاندي، بې وس وي
چې مظلوم ته په خندا شي، دَ انسان انسانيت دے

چې تۀ بدې ردې وائې، زما خولۀ کښې ژبه هم شته
زۀ بزدل نۀ يم کۀ چپ يم، خو په ما کښې شرافت دے

چې دَ نۀ راتلو ګيله درنه کوم، چپ شکته کورې
ستا په حال مې خندا راشي، څومره ښکلے معذرت دے

## وصال

دوه مئين په دې جهان چې يوْ ځائے شي
لکه زمکه اؤ اسمان چې يوْ ځائے شي
په حرم کښې دَ زمزم کاسې زوريږي
ستا لبان زما لبان چې يوْ ځائے شي



دَ ژوند په لاره را نه مړې شوې دَ وختونو ډيوې
دَ زړۀ په قبر بلوْم اوس دَ يادونو ډيوې

زړګيه! خيال دَ اشنا نۀ ښائي، چې تا کښې اوسي
څوک بلوي نۀ، دَ کنډر په دېوالونو ډيوې

توره تياره ده، دَ باران برېښنه شپه ده، اشنا!
راشه! بليږي درته نن دَ اسمانونو ډيوې

مينه يوْ غر دے، دَ بېلتون دَ کړهنګونو نه جوړ
راځه! چې بلې ئې په سر کړو دَ عزمونو ډيوې

خدائے خبر ولې مې زړه غواړي چې زۀ هلته کښې وے
چې چرته وينمه په خوشو مزارونو ډيوې

دَ زړۀ دنيا کښې دې زړينه! په تيارو کښې اوسه!
په دشت کښې نشته دے، دَ کليو دَ ښارونو ډيوې

## غرور

کۀ دَ وخت فرعون تۀ ئې، موسیٰ هم شته
پوهه هم شته، علم هم شته، همسا هم شته
دا متل دے، چې دَ سر دَ پاسه سر وي
شپه کۀ هر څومره تياره وي، سبا هم شته

٠٤/٠٥/١٩٩٥ الرياض

www.pukhto.net

# اختر دَ چا؟

زما دَ کلی گرېوانونه تار په تار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟
را نه چاپېره ورې تږې خوار و زار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

په داسې کلی کښې به نوې جامې څوک واچوی؟
چې دَ خولځنو جامو بوی ئې دَ کوځو نه خېژی
چې دَ حسرت اوښکې څڅېږی دَ څوانۍ په بريته
چې يخ لوګے دَ بې واکۍ دَ اسوېلو نه خېژی
دا نيازَوری خوَړ راوړی په انکار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

چې ؤچ سُوکړک دَ چا په لاس کښې خولهٔ ژوولے وينم
اختره! ستا خوږه کلچه لهٔ ما نه نهٔ تېرېږی
چې وينم زهٔ خاوړې خېچن، خېرن خېرن مخونه
څوک څهٔ خبر دی دغه وخت مې په زړهٔ څهٔ تېرېږی
دا وخت خپلی دَ کوم وخت په انتظار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

چې چم په چم په بې وسۍ باندې ويرونه کېږی
چې کور په کور کښې دی خوبونه شوګيرو کښې اودهٔ
تشه هندۍ په اور پرته وی اؤ پرته پاتې شی
چې ورې ورې ماشومان شی په نغرو کښې اودهٔ
لکه برېنډ مست ملنګان چې په مزار پراتهٔ وی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟



اے دَ جومات په مينه مستو! پخپل نوم مئېنو!
ستاسو چندو، ستاسو خرچونو څهٔ مزه وُکړله؟
چې دې رنګين جومات ته پښې ابله،اؤ برېنډ ورځمه
دې مخملينو قالينونو څهٔ مزه وُکړله؟
چې په محلت کښې مې څوک وږی څوک بيمار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

سپرليه! راشه! په هر لور وريځې اووَروه!
چې دا تېږن چمن تازه تازه ګلونه وُکړی
چې دَ ښائست پېغلوکې ناوې له ګجرې جوړې کړم
چې خوشبويانې ئې په زلفو کښې رقصونه وُکړی
زرينه! مړاوی لا ګلونه دَ بهار پراتهٔ دی
اختره! څنګه تا ته نوې جامې واچؤمه؟

۲۶/۱۱/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)

# خط

خط دې راغے، ما کړو ښکول په دواړو مخو
پکښې خور ؤ ستا اوربل په دواړو مخو

ما زرين ورته ژړل چې لؤلؤ مې
ما سره هم تا ژړل په دواړو مخو



www.pukhto.net

ستا بانهٔ، زما بانهٔ يؤ بل ته برند شوو
خدائے دې خبر کړي پښتانهٔ يؤ بل ته برند شوو

په راتلو مې ستا کوڅه کښې هنګامه شوه
ستا دَ چم واړهٔ واړهٔ يؤ بل ته برند شوو

دَ هوَس په دغه جنګ کښې څوک په حق دي
چې ياران خوارهٔ خوارهٔ يؤ بل ته برند شوو

زما مينه ستا ښائست څهٔ لېوني دي
لېوني تش په کاتهٔ يؤ بل ته برند شوو

غل کندړ مات کړو دَ پاسه پرې غل راغے
کوربه چپ پاتې شو، غلهٔ يؤ بل ته برند شوو

زهٔ په تا اؤ تهٔ چې ما باندې مئېن ئې
نو زرينه! بيا په څهٔ يؤ بل ته برند شوو

## تک

زغل مې دَ نظر مقام ته نهٔ رسي
څکه مې لا شونډې جام ته نهٔ رسي

لوړ سرونه ټيټ شي په درشل پسې
څکه چې تختې خو بام ته نهٔ رسي

۲۸/۰۴/۱۹۹۵ الرياض



سم دَ ماښامه غلبله شوه، دغه پورې په چم
دَ اختر مياشت جوړې ښکاره شوه، دغه پورې په چم

لمبه لمبه شوې په اسمان دَ سکڼ ماښام لمنې
سکنه دَ بام په سر شغله شوه، دغه پورې په چم

په لنګوټونو په توپونو ګوډې ګوډې هوسۍ
بيا دَ چندرو لوبه تؤده شوه، دغه پورې په چم

شېخ دَ کوزې په ځائے نن جام په لاس کښې منډې وهی
جوړه جومات جوړ مېکده شوه، دغه پورې په چم

لکه شپېلۍ چې دَ شپونکي په غرونو لړې لړې
زما دَ عشق قصه خوره شوه، دغه پورې په چم

نهٔ دلته غل ؤ چا نيولے، نهٔ چا غلا کړې وه
چې هره سترګه راته غله شوه، دغه پورې په چم

لکه دَ غرهٔ ټپه په غرو ټمبيرې، بېرته راځي
هره سلګۍ مې انګازه شوه، دغه پورې په چم

ستا يؤ نرے غوندې اقرار هغه دَ سترګو په څپ
جوړه ترې څهٔ لويه قصه شوه، دغه پورې په چم

په زړو پلونو چې پرون ورتېروتم زرينه!
په غمازيانو زلزله شوه، دغه پورې په چم

۱۸/۰۴/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)



www.pukhto.net

چا لـه لاسـونه دَ نکریـزو سره سرهٔ کـړی اخـتر
چا له سرې سترګې سترغلی په ژړا شُنهٔ کړی اختر

اخـتر بـې نیـازه بـې پـروا دَ غرزنګونـو فـرات
دَ کـربلا پـه سـوې تنـدې پـروا نـهٔ کـړی اخـتر

اخـتر دَ کـور محلـت دَ چـم کلـی سره جـوړېږی
دا بـې وطنـه بـې اسرې چـا سره وهٔ کـړی اخـتر؟

اخـتر ګـل فـم دے، دَ فطـرت دَ ښـکلاګانو نـاوې
دَ خـوانیمرګ شواله کفن کـهٔ نـهٔ وی څـهٔ کـړی اختر

دَ اختر شـپه ده پـه خندا خندا بـه ډېـر اُودهٔ شـی
زرینـه! ډېـر بـه پـه سلګو سلګو اودهٔ کـړی اخـتر

۱۵/۰۵/۱۹۹۰ بازارګے

## ملاقات

زهٔ ئـې لاړم ملاقـات لـه، سره غرمـه وه
دَ دیـدن ئـې را سره کـړې وعـده وه
زهٔ زریـن بهـر پـه سُرو غرمـو ولاړ وم
هغـه دنـه پـه یـخ سـیوری کـښې اُوده وه

۰۳/۰۸/۱۹۸۵ خېل کور



شـپه پـه وتـو ده، جـوړ سـره شـوه دَ بېګـا سـندره
دَ روڼ سـحر بلبلـه وائـی دَ سـبا سـندره

جـوړې تـوده ئـې شـوه چنګـوټې دَ شعور پـه ټمبل
وئېلـې کیـږی چـې پکـښې دَ پـښتونخوا سـندره

چرتـه کـښې هیـر دَ تاج هیره چرتـه دَ شپون خمچې
مینـې تـرې جـوړه پـه شـپېلۍ کـړه دَ رانجا سـندره

شـاړې مېـرې کـړه اباسـینه! ټـل پـه ټـل ګلونـه
چې ټـول وطـن کـښې دې خوَره شی دَ ښکلا سندره

پـه خـوار غریـب حرامَـوی دَ سـوال غوښـتلے سُـوکړک
مُـلا صـاحب پخپلـه وائـی پـه حلـوا سـندره

کـهٔ پـه اسـمان لاس لګـوې دَ چپـل[1] پـه سر وُخېږه!
ګنـې هنـدوانو سره وایـه پـه سـانګړه[2] سـندره

دَ یـخ سـحر، تـود مـازیګر، دَ سـوړ ماښام پـه خـاطر
دَ مینـې راز چرتـه پـه مـا نـهٔ کـړې اشـنا! سـندره

کـهٔ دَ ښائـست دَ نـاوې زلفـې شـی خپـرې زرینـه!
څهـره پـه سر بـه ورتـه وایمـه شـوالا سـندره

۰۷/۱۱/۱۹۸۷ دَ سمندر غاره (جدة)

[1] دَ دې سیمې یو لوړ غر
[2] یو وړوکے غر (بیزه) هندوان پخپل رسم کښې پرې سندرې وائی



www.pukhto.net

نن دَ حالاتو دَ وختونو سره خورم ډغرې
لکه چپې دَ ساحلونو سره خورم ډغرې

دَ زړهٔ دَ وس ملکې ووخه! بې وسې ؤګوره!
ستا دَ کوڅې دَ دېوالونو سره خورم ډغرې

ستا دَ محل په چهت کښې ږدم خپل دَ جونګړې تیلی
زهٔ لېونے دَ اسمانونو سره خورم ډغرې

غم دې دَ ډېې لاندې کښېود، پرې خوبونه کوې
پتنګه! زهٔ هم دَ اورونو سره خورم ډغرې

دَ انسانانو په هجوم کښې را نه ورک دې کړو ځان
زهٔ درته ناست لا دَ لوظونو سره خورم ډغرې

بې قدره زړهٔ مې قدرمن اشنا نه قدر غواړی
لکه خشاک دَ سېلابونو سره خورم ډغرې

ستا دَ معیار دَ نظر تله باندې نهٔ یم پُوره
لکه دَ ؤچې پانې غرونو سره خورم ډغرې

زرینه! یار په دشت دَ هجر کښې یوازې پرېښوم
یوازې ناست یم دَ خیالونو سره خورم ډغرې



# کاڼی وریږی دَ لېلا کوڅه کښې

دَ بې حسو په وطن کښې په احساس کاڼی وریږی
دَ اقرار ژبې قتلیږی، دَ اظهار ژبې غوڅیږی
دَ چمن په هره څانګه، کونګی ناست دی څهٔ به کیږی

دَ بلبلو په وطن کښې، په زاغانو ګل پاشی ده
څهٔ بې ځایه فیاضی ده، څهٔ بې خرته عیاشی ده
دَ ښائست ملوکې کوکا چې په خولهٔ کښې دَ حبشی ده

په دې فکر ور روان ؤم، دَ زردارو په چم لاړم
دَ سامراج دَ زرخریدو، دَ ورانکارو په چم لاړم
هلته ګوله هنګامه وه، دَ شوکمارو په چم لاړم

یؤ ملنګ هلته کښې ناست ؤ، سر ئې ایښے په ځنګون ؤ
خلقو کانی ورؤل پرې، دے بې غمه په سکون ؤ
څهٔ دَ صبر انتهاء وه، څهٔ دَ صبر زړهٔ چاؤدون ؤ

خلق لاړ، زهٔ ورنزدې شوم، سر ئې نهٔ پورته کولو
لېونے به وی په کاڼو باندې خلقو چې ویشتلو
کهٔ وے روغ نو سر به ئې کله دغه کاڼو ته نیولو

بیا مې وې، لېونے نهٔ دے، فلسفی را ته ښکارېږی
چرته ګرانه فلسفه ده، چې هغه ترې نهٔ جوړیږی
اوبهٔ اور یؤ ځائے کوی به اوبهٔ اور نهٔ یؤ ځائے کیږی



www.pukhto.net

یا شاعر دے چرته نظم، جوړوی په انقلاب
یا غزل دَ درخانۍ ئې دے راخستے په رباب
په هر شعر ئې دَ ښائست دَ مخ نه پورته کړو نقاب

یا عاشق دے معشوقه ئې، په دې کلی کښې اوسیږی
دَ هغې دیدن دَ پاره، کانی دهٔ باندې وریږی
هغه کور چرته اوده ده، په خوبونو نهٔ مړیږی

بیا په دغې مې زړهٔ خاص شو، ما وې یه سر په ځنګونه!
را اوچت شه! لېلا راغله، ورته وګوره په مینه
شابه! شابه! پاسه! ښهٔ ئې وګړه دیدنونه

په رو رو ئې سر اوچت کړو دَ جلال او دَ عظمت سر
ننګیالے دَ زمانې دَ پت ناموس او دَ شفقت سر
ورته ټیټ شولو زما په احترام په عقیدت سر

ما ته ئې وې چې هو! مجنون یم دا خبره دې رښتیا ده
زهٔ په دې وطن مئین یم، دا وطن زما لېلا ده
زما ژوند پښتونولی ده، زما مینه پښتونخوا ده

دلته هر بچے زما دے، هر بچے زما ولی دے
هر استاذ زما علی دے، هر شاعر زما غنی دے
هر پښتون زما خوشحال دے، هر پښتون مې ابدالی دے

ما دَ دې خوارو دَ پاره خان رسوا کړو، خان بدنام کړهٔ
په زندان کښې مې سحر کړو، په زندان کښې مې ماښام کړهٔ
ما هم دې اولس دَ پاره، سل کلیزے ژوند تمام کړهٔ



زهٔ دې خوارو غریبانو، له جنت جوړول غواړم
په نړۍ دَ اوسېدو ورله عزت جوړول غواړم
تسنې وسنې پښتنو نه یوُ ملت جوړول غواړم

خو بادار نهٔ غواړی دا چې، دَ خوارانو واک اختیار شی
دوی خو غواړی چې خواران له دې نه نور هم خواروزار شی
چې دَ دوی فرمانبردار شی، چې دَ دغو خدمتګار شی

ځکه دوی را پسې دا راپاروُلی دی، ما وولی
تهٔ هم مهٔ کړه تپوسونه، ګنې ما سره تا وولی
یوُ خبره درته وایمه، تهٔ ځه! ما دې بیا وولی

هغه دا چې خدائے دَ پاره ما له دلته دفن نهٔ کړی!
پس دَ مرګه مې په کاڼو ویشتو سیرې کفن نهٔ کړی!
بلبلان په کاڼو وُلی، خو تالا دا چمن نهٔ کړی!

خو تهٔ څوک ئې وه زلمیه! چې زما په غم اګاه ئې
په دې چم کښې دَ ګونګیانو چې دَ ما سره ګویا ئې
دغه ژبه به دې پرې شی کهٔ پرې دغسې لګیا ئې

ما وئېل چې زهٔ پښتون یمه بابا! او هم شاعر یم
ځکه ستا دَ زړهٔ دَ ځړیکو دَ دردونو نه خبر یم
ولې څهٔ وکړم؟ مجبور یمه څهٔ ستا څهٔ دَ دلبر یم

نو موسکے شو، دا خبره ئې څهٔ داسې وُوئېله
چې پښتون ئې! هم شاعر ئې! نو بیا زر شه هله هله!
ځه راواخله! دغه کاڼے، شابه! شابه! ما پرې وُله

۲۱/۱۱/۱۹۸۷ بافیل (جدة)



www.pukhto.net

دَ چا یادونه مې په زړهٔ خوارهٔ رادرومی
دَ زړکی کور ته مې ښاغلی مېلمانهٔ رادرومی

جوړې وعده دَ ملاقات چرته نزدې ماته شوه
څکه په هر لور اسویلی سارهٔ رادرومی

کهٔ دَ سوچونو ور ته دېر دَ خوب اُولونه کلک کړم
غلې شوګیرې دې راپسې په دېوالهٔ رادرومی

زما دَ زړهٔ دا حسرتونه یتیمان یتیمان
دَ یار کوځې ته وړی څی په غم مارهٔ رادرومی

دَ مینې جنګ کښې ما له ستا دَ وفا ډک ډاډونه
لړی لړی پټکی وَهلی پښتانهٔ رادرومی

کهٔ غمازان را نه هر څو مخ دَ اشنا اړوی
زرینه! مخ دَ نمر پرست په نمر خاتهٔ رادرومی

۰۲/۱۰/۱۹۹۱



وړې وړې کړه! لنډې لنډې، په سلګو خبرې
اوس به څوک راشی، را ته زر ؤکړه یؤ څو خبرې

دا ستا کوځې دی ستا دَ چم دَ غمازانو ډکې
چې ګوری ما څان کښې کوی په کنګوسو خبرې

ستا دَ بې وسه چپ جذبې دَ اظهار ژبې نه څار
تهٔ شرنګوه زهٔ ښهٔ پوهېږم دَ بنګړو خبرې

تا چې زما په کور کښې ما ته ست کړو زړهٔ دَ مینې
په سر اؤ ستا دَ سترګو مېلمنو خبرې

وخت پښه نیولے ورته شی دَ غوږ څارن کائنات
چې دوه مئېن څان کښې کوی په اشارو خبرې

زهٔ به دَ چا چا په خولهٔ لاس ږدم تول اولس ئې وائی
زما په تا اؤ ستا په ما دَ څارېدو خبرې

نن دَ اقرار چغه راځه! دَ چم په سر وهمه
زرینه! نهٔ دی دا دَ لارو دَ کوځو خبرې



www.pukhto.net

# سیاست

چې به ویاړ پرې پښتنو کړو
په هغې خلقو خازې شوې

دَ دې شنو زمرو په بڼ کښې
کـډې کډې او بیزې شوې

سیاست دَ بازیګرو
بس مزې شوې بس مزې شوې

دَ بربنډو حمامونو
اودسونو له کوزې شوې

۰۶/۰۷/۱۹۹۵ الریاض

# پردے وطن

ژوند دے په قدم قدم غلام په دې وطن کښې
احساس ته تېزندی ده ګام په ګام په دې وطن کښې

اختر پکښې پردے دے، محرم پکښې پردے دے
سحر پکښې پردے دے هم ماښام په دې وطن کښې

۰۱/۰۱/۱۹۹٤ جدة



دَ زړهٔ لهٔ دشته، بهارونه تا له زهٔ جوړوم
دَ پرهرونو نه ګلونه تا له زهٔ جوړوم

لهٔ تا تاؤ شوې قلعګانې چې کړې لُوټې لُوټې
دَ اسوېلو نه طوفانونه تا له زهٔ جوړوم

چې په سپوږمۍ ختلے فکر هلته پر نهٔ وهی
داسې الوَت لره ځانګونه تا له زهٔ جوړوم

چې دَ پانزېب دَ شڼ ښکالو دَ غر لهٔ سر تېره کړی
دَ زړهٔ درزونو نه سازونه، تا له زهٔ جوړوم

چې ئې دَ پښو لاندې جنت مې دے، دَ هغې خاورې
دَ ښائستونو جنتونه، تا له زهٔ جوړوم

چې شکل ستا وینه زما وی ځنګه یؤ شو که نهٔ
پخپلو وینو تصویرونه، تا له زهٔ جوړوم

کهٔ پرې جرګه جرګه کښېنی مې ارمانونو سره
خپلو ښو باندې بامونه، تا له زهٔ جوړوم

چې دَ دیدن منګے په سر ورته نظر راستوی
په مخ دَ اوښکو ګودرونه، تا له زهٔ جوړوم

کهٔ سُور سالُو را له کفن کړې دَ وطن ملوکې!
ستا دَ اوربل نه سنګرونه، تا له زهٔ جوړوم



www.pukhto.net

چې ستا دَ کلی هر ځلمے تا ته زرین زرین کړی
لۀ دې جونګړو محلونه، تا له زۀ جوړوم



دَ ضبط په رنځیرونو لېونے ارمان تړم
ټینګیړی په نارو نۀ، کۀ هر څو طوفان تړم

جهنډا دَ انقلاب ده هم کفن دَ سربازانو
پټکے په وینو سُور په سر دَ هر یوۀ ځوان تړم

کۀ ما څوک دَ یوې ورځې په دې وطن باچا کړی
یوۀ څو لیډران وژنم اؤ یوۀ څو مُلیان تړم

دَ سوال سیری جامه کښې ټول بدن کله پټیږی
کۀ ډېر دا تار په تار ریښې ریښې ګرېوان تړم

دَ خان جُوته خوارۀ سپی غوښې خوری دَ خواروزارو
یوۀ دغه شانتې څو لېونو سپو ته خان تړم

زرینه! کله کله جونګړوال فکر مې وائی
ورځم یوې بنګلې ته خان سره بهان تړم

٢٠/٠٢/١٩٩٥ جدة



www.pukhto.net

# ژوند

ژوند دَ لوخ لغړ پښتون دَ سرو ملبو په څړیکو دے
څنګه چې ګلونه په شپلونو غوړېدلی وی

حُورې اؤ غلمان ټول جنتونه ترې لوګے کړمه
چا چې په سنګر دَ خپلواکۍ وینې شیندلی وی

مهٔ برندوه سترګې عزرائیله! دَ مرګ هاغو ته
ژوند په اوږو بار چې ستا لټون کښې راوتلی وی

نهٔ دَ چا کجرې، نهٔ دَ څهرې نه لړه تېروځی
ډېر داسې ګلونه غرو رغو کښې ټوکېدلی وی

وینې مې دَ زړهٔ دې تا ښو داسې سرخرویه کړې
سرهٔ انقلابیان په سنګینونو چې ختلی وی



# شاعر

په رښتیا، رښتیا رښتیا، دروغ دروغ وی
ځمر په ګوته پټېدے نهٔ شی، ځمر ښکاری

تور وی تور اؤ سپین وی سپین دغه متل دے
په ایرو کښې نهٔ پټیږی، ګوهر ښکاری

خپل صفت پخپله ژبه خپل غیبت دے
ښهٔ اؤ بد پکښې دَ بل په نظر ښکاری

ائینه لکه بې رویا، بې لحاظه
دَ شاعر کلام کښې قد دَ شاعر ښکاری

# قیامت

دَ خېبر غرونه په اوښکو کښې ډوبیږی
کانی بوټی ډاګې دشتې پرې ژړیږی

قدردان دَ پښتونخوا ، فخرِ افغان خان
ننګیالے دَ زمانې ترې روانیږی

١٥/١١/١٩٩٤ جدة



www.pukhto.net

# خپل واک خپله خاوره

ستا ښائستونه دَ وطن ملوکې!
په مخ خوارهٔ وارهٔ زلفان غواړی
په اننګو دَ بودې تال رنګونه
شینکی خالونه سرهٔ لبان غواړی

ستا دَ ګردونو خاوړو کانو بُوټو
ستا دَ ازغو اؤ ستا دَ پانو خوشبو
ستا دَ کروړو غنم رنګو کوَرو
ستا دَ ګرګرو دَ ممانو خوشبو
ستا دَ نښترو چینارونو سیوری
ستا دَ کیکرو دَ بکیانو خوشبو

ستا دَ سنګار تا نه غوښتنه کوی
دَ ښېرازې نوے دوران غواړی

چې مازیګر دَ غرونو سیوری راشی
ستا دَ سپرلو دَ بهارونو منظر
دَ غرونو وېخ ته دَ کوهیو اؤ چینو
دَ کلی والو ګودرونو منظر
په سر ئې واوړې اؤ په وېخ خوَړونه
دَ کل ورینو لوَړو غرونو منظر

ګټان ګټان، چمان چمان وریځې
سیروی سر په کهکشان غواړی



ستړے کاروان، پړاؤ پړاؤ قافلې
چرته په لاره لاره پاتې نهٔ شی
دا کلکې کلکې ارادې حوصلې
دَ طوفانونو په زور ماتې نهٔ شی
دَ ځوانیمرګ کفن سودا ؤ نهٔ شی
دَ چا دَ مور اسرې میراتې نهٔ شی

دَ هغه مور چې دَ خپل ځوی په اوږو
لاس لګؤنه په اسمان غواړی

یوُ لامبوزن خودساخته فکر غواړی
چې دَ شطرنج بازیګرې نه وُځی
چې دا دَ سوال جولۍ ریښې ریښې کړی
چې دَ احساسِ کمترۍ نه وُځی
چې دَ چا برند نظر نه نهٔ ترهیږی
چې دَ نرۍ دهشتګردۍ نه وُځی

داسې خپلواکه اؤ خودسره ژوندون
نوې جذبې، نوے وجدان غواړی

دا محلونه مر مرین مر مرین
چې دی جوړ شوی، خېراتونه باندې
چې ئې تیټ کړی دی دَ ننګ سرونه
په احسانونو دَ قرضونو باندې
دا په شرابو لمبېدلې بنګلې
لمبول غواړی اوس په وینو باندې



www.pukhto.net

دَ دې جونګړو چُپياوونو تيارې
ځان ته دَ وينو چراغان غواړي

زهٔ به په خولهٔ تر هغې، خوږ وطنه!
ستا دَ ساده حسن ګرګُرې نهٔ کړم
ستا شرم ګيرې حياناکې سترګې
کهٔ خبرلوځې ژبه ورې نهٔ کړم
ستا دَ ساړو نغرو ساړهٔ اهونه
کهٔ دَ خندا په شور سندرې نهٔ کړم

لړې اوبهٔ لګی لوندو ځَتو له
زرينه ځو ځاڅکی باران غواړي

## خپل مازيګر

چې دَ غرونو سيوری راشی، مازيګر وی
دوه ياران پکښې راوتی په چکر وی

چې وطن سپرلے جانان دَ چا نصيب شی
اے زرينه! هغه خلق بختوَر وی

۲۹/۰۳/۱۹۹۰ بازارګی



سپرلے هغوی باندې ګلونه شيندی
ځوک چې دَ دار په سر سرونه شيندی

سپرلے، اختر اؤ جانان يؤ ځائے راغلهٔ
قسمت په ما نن تول رنګونه شيندی

دَ مېکدې نه دغه ځوک ؤوتهٔ
رندان په لار ورته جامونه شيندی

په وېخ خوَړونه په سر واؤرې غرونه
قدرت په مونږه ښائستونه شيندی

غرونه سَرونه ورته نهٔ ټيټوی
اسمان پرې ځکه تندرونه شيندی

مرم چې نهر پښتون دَ دمې په سر
خپل دَ خوَلو لواندهٔ نوټونه شيندی

دَ سکڼ ماښام، دَ سُور اسمان په لمن
ځوک دَ بنو په غشو زړونه شيندی

لونده خوشته ګودر نه ځوک را درومی
کهٔ ځوک په ګلو بارانونه شيندی

زرينه! زهٔ په يار شعرونه شيندم
هغه په ما باندې نازونه شيندی

۰۹/۰٦/۱۹۹۰ بازارګے



www.pukhto.net

په خمپ دَ سترګو درز په زړونو کښې ترپکې وهی
لکه غرځه په ګرز په غرونو کښې ترپکې وهی

کهٔ ده نشه، خو ده زما دَ زلمیتوب دَ ترپو
ګنې شراب کله جامونو کښې ترپکې وهی

کهٔ ډېره طمع شوګیرې لهٔ ورکوٌمه دَ خوب
لکه دَ وروړو مې ترخونو کښې ترپکې وهی

نازک مزاج چې په نازبینو ګوتو وُتخنیړی
په خندا شین ارمان په وینو کښې ترپکې وهی

دَ پېغلو مستو جینکو په چم اتڼ جوړ شهٔ
کهٔ بیانې اسپې په ډاګونو کښې ترپکې وهی

دا ستا غمونه ملاتړلی وسله بند فوځونه
زما دَ زړهٔ په بارکونو کښې ترپکې وهی

خاونده تهٔ نهٔ کړې قچر خپل دَ رشې خاوندان
مارهٔ قچر په درمندونو کښې ترپکې وهی

مُونډی غوائے غوبل کښې تینګ چې وی په زور دَ مونګی
نوکر دَ خان په زور جنګونو کښې ترپکې وهی

وخت په چابک دَ غم زرینه! ډېر تړپلے یمه
ځکه احساس مې په شعرونو کښې ترپکې وهی

۱۹۹۱/۰۵/۰٦ مکرونة (جدة)



دَ دیدن شوق مې دَ جنون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی
نور انتظار مې دَ ژوٌندون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

ستا په موسکا مې شو زړهٔ ور دَ عشق کمتره احساس
بې ضبطه زړهٔ مې دَ غوښتون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

ستا دَ پرون وعده سبا دَ نن په سر ماته شوه
دا بل سبا دَ بل پرون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

کهٔ وی ژوٌندون دواړه به بیا سره یوٌ ځائے شو اخر
دا جدائی کهٔ دَ بېلتون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

په سعودی پسې زلمو کړې زړې پېغلې جُونه
په شته مېړون کښې دَ کونتون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

زهٔ پَرېشان کړم پَرېشانه پرېشانو زلفو
زرینه! حال مې دَ مجنون لهٔ حد نه هورته نهٔ شی

۲۷/۱۱/۱۹۹۱ مکرونة (جدة)



www.pukhto.net

زما لبان ستا اننګي لېوني
ځنګه به یؤ شي؟ لېوني لېوني

ستا په اوربل اے دَ وطن ملوکې!
ځوک پرې اتڼ کوی ځوک مری لېوني

نۀ ګناه ستا، نۀ ستا دَ چم دَ خلقو
په دغه لاره کاني خوری لېوني

ستا دَ رخسار په خمارونو دے جنګ
دَ سُور پېزوان دَ تور پیکی لېوني

زما زاری، ستا انکاری ضدونه
دواړه دَ یؤ بل نۀ منی لېوني

دَ چا دَ هجر جنازه ؤوته
بلې لمبې وړی اورکی لېوني

دَ لېونی تول لېوني خویونه
لوبې کوی مې په زړګی لېوني

هلته حلال، دلته حرام کړې مُلا
چې ځوک ئې ښکی نو هغه ښکی لېوني

ستا رخسارونه دَ زرین په کتو
ځنګه تک سرۀ شول مرچکی لېوني



# دَ بم چاؤدنه

دَ ګلونو ښارېږ نه، دَ بمونو دړا خیږی
دلته ویر هلته ښادی ده، دلته شپه هلته سحر دے

چې زما دَ زړۀ په وینو ئې لاسونه شونډې سرۀ کړل
چې زما په اوښکو زلفې وینځی، ځۀ ښکلے اختر دے

نۀ په تېل کښې دَ ګلونو، نۀ په تېل کښې دَ ګودر شته
ځۀ بې رنګه پسرلے دے، ځۀ بې خونده مازیګر دے

دَ رقیب ځربه نظر اوس کله په ما سوزی
ستا دَ سترګو په ورشو کښې، ځرېدلے ئې نظر دے

په جونګړو اور بلیږی، بنګله وال ورته تؤدیږی
په دې یؤ خدایی اؤ یؤ وطن کښې دوه قسمه منظر دے

ستا دَ نۀ خلاصی خندا به دَ کوم کوم زخم مرهم کړم
مخلص زړۀ مې دَ فرېب په کاتۀ غوځ پرهر پرهر دے

تۀ اؤ زۀ برابر نۀ یو، تۀ ئې حسن زۀ یم مینه
زما غېږه ده ستا سر دے، ستا درشل ده زما سر دے

نۀ رنګونه دَ سپرلی شته، نۀ شوخی شته په اختر کښې
دا وطن بغېر لۀ تا نه، وران ویجاړ کنډر کنډر دے



www.pukhto.net

دَ اغيار دَ سترګو خار يم، خود به ما په کانو وُلی
خو چې مرم چا له هغهٔ مې په مری ايښے خنجر دے

دا ژوُندون څهٔ دے زرينه! خو دَ مرګ دَ پاره ژوند دے
زړهٔ راکښونکې ده چپه،او دَ غمونو سمندر دَے

خيل کور۱۹۸٦/۰۱/۰۱

## ديدن

دَ بورا دَ وينو سرهٔ دی په چمن کښې
هر يوُ ګل ته دَ ازغو په څُوکو لار ده
ستا کوڅه به دَ زرين په وينو سره شی
ستا ديدن ته دَ چاړو په څُوکو لار ده

۱۹۹۱/۰٦/۲۷ مکرونة (جدة)

## بتګرام

دَ بته ګرام شډل پښتانهٔ
دَ هزارې په جرنده دل پښتانهٔ

دا خو زمونږه شاعری وه ګني
زرينه! مونږ ته چا وئېل پښتانهٔ



❀

دَ کوڅې ګرد دې خپور بادونه نهٔ کړی
مْرهٔ ترې زما دَ قدم پلونه نهٔ کړی

دَ عشق اؤ حسن منځ کښې راز دے اظهار
جنون مې مات دغه حدونه نهٔ کړی

چې په اقرار کښې خپل انکار پټوی
ژبه ترې پرې کړئ چې لوظونه نهٔ کړی

دَ دنيا خلق دَ دنيا خبرې
ستا زما منځ کښې دېوالونه نهٔ کړی

مينه کښې شک دے شرک اؤ شرک دے کفر
په محبت کښې څوک شکونه نهٔ کړی

هسې ناپوهه اؤ بې ذوقه خلق
زرينه وران درله شعرونه نهٔ کړی

۱۹۸۷/۰۱/۱۷ جدة



www.pukhto.net

# اباسین

راشه اباسینه! دَ اغیار کورونه وران کړه!
پس به دې منم
راوړه انقلاب، دَ غلامۍ بندونه وران کړه!
پس به دې منم

ستا په بحر و بر کښې، خوَلې زمونږه کړې دي
ستا دَ پاره مونږه، ګرځولې په سر کړې دي
ستا په څاڅکی څاڅکی کښې زمونږ دَ وجود وینه ده
ستا چېچې چېچې سره زمونږ دَ زړونو مینه ده
ستا مینه چې نهٔ وي پکښې، هغه زړونه وران کړه!
پس به دې منم

هلته کښې دشتونه سرابونه دې ودان کړل
دلته کښې زمونږه دا اباد کلی دې وران کړل
هلته دې مانو کښې رڼا کړې چراغونه دي
دلته په جونګړو کښې زړهٔ چاوَدی تور تمونه دي
دا دَ وخت اواز دے چې دَ وخت ویشونه وران کړه!
پس به دې منم

هلته کښې چې ګورمه اوږدې اوږدې موټرې دي
دلته کښې دَ پښې ابلو خوارو تندې اؤ نهرې دي
هلته کښې چې ګورمه پولونه اؤ سړکونه دي
دلته کښې چې ګورمه جالې دی شنازونه دي
زهٔ چې پېدل ګرځم نو دا ټول سړکونه وران کړه!
پس به دې منم



ګوره دَ افسر بچی ته ګوره! چې افسر ګرځي
اؤ دې دَ خوار غریب بچی ته ګوره! چې نهر ګرځي
خپل بچے خو خان شی لؤلوَلے کالجونو کښې
بلخوا ته زما بچے بوډا شی په میلونو کښې
زهٔ چې ورکښې نهٔ شم لوستے، ټول سکولونه وران کړه!
پس به دې منم

اے دَ اباسین دَ غاړې ګرانې! پښتونخوا خاوَرې!
اے دَ باچا خان، دَ خوشحال خان، دَ احمد شاه خاوَرې!
هر څهٔ چې کوې، خو بس حاصل دې خپل حقونه کړه!
وَشلوه دَ غرونو خېټې، څیرې اسمانونه کړه!
لیک کهٔ دَ قسمت وی، دَ قسمت لیکونه وران کړه!
پس به دې منم

راوړه انقلاب، دَ غلامۍ بندونه وران کړه!
پس به دې منم
راشه اباسینه! دَ اغیار کورونه وران کړه!
پس به دې منم

۲۹/۰۵/۱۹۸۵ خپل کور



www.pukhto.net

زړهٔ مې کچه لکه شیشه ده، راشه! ماته ئې کړه!
دا ستا دَ لوبو کهلونه ده، راشه! ماته ئې کړه!

څوک وائی؟ "مینه زولنې ده، ماتېدلې نهٔ شی"
دا خو دَ ښکلو پانزېبه ده، راشه! ماته ئې کړه!

شېخ جی په خود نهٔ دے ساقی!لا ئې څَکلی نهٔ دی
دَ دهٔ په سر سوره نشه ده، راشه! ماته ئې کړه!

نهٔ تهٔ راځې، نهٔ خوب راځی، نهٔ وخت تېرېږی په ما
نهٔ ختمېدونکې شوګیره ده، راشه! ماته ئې کړه!

زما دې وران، کنډر کنډر زړهٔ کښې به څنګه اوسې؟
ستا دَ غمونو هدیره ده، راشه! ماته ئې کړه!

ما په زړګی کښې سنګارکړې ډېر په شوق سره ده
ستا دَ یادونو ګلدسته ده، راشه! ماته ئې کړه!

دَ زړهٔ تنبو باندې مې غمه! دستکونه مهٔ کړه!
دا خو ستا خپله دروازه ده، راشه! ماته ئې کړه!

زړهٔ دَ خدائےکور وی دَ خدائےکور کښې خو بس مینه اوسی
دَ زرین زړهٔ کښې ستا کعبه ده، راشه! ماته ئې کړه!

۱۴/۰۶/۱۹۹۵



# رحمت شاه سائل

سائل دے دَ رنګونو، ښائستونو، ښکلاګانو
سائل دے دَ دردونو، پرهرونو، ژړاګانو

سائل دَ پښتونخوا دَ بڼ طوطی دے چې چغېږی
سائل خپله سائل دے، هم شاعر دَ شاعرانو

سائل دَ نن اواز کښې دَ ژوند راز دے دَ پښتون
سائل یو رون سبا دے، دَ پښتو دَ سباوُن

سائل دَ وطن پېغلو، دَ زلمو زړونو کښې اوسی
سائل دَ استعمار دَ استبداد دے زړهٔ چاوډون

# فنکار

خراش اؤ تراش دَ فن دَ باریکو نزاکتونه دی
ښهٔ فنکار دَ خپل دَ فن دَ درخو نه ناوې جوړه کړی

ما په هزاره کښې ورله ښهٔ سر څنه کړې ده
اوس په نوی کهول ده چې پښتو نه ناوې جوړه کړی



www.pukhto.net

چې په مینه مینه ؤ نهٔ بانیلی خپل زړهٔ
هغه زړهٔ به څنګه ؤګټی دَ بل زړهٔ؟

ژوندون څهٔ ؤ؟ دَ کانیز غرونو سفر ؤ
پښې ابله وړے تږے ؤچې شونډې سوُل زړهٔ

څوانی څهٔ وه؟ دَ پردی دَ کلی شپه وه
دَ باران دَ بلې لاندې مې ژړل زړهٔ

مینه څهٔ وه؟ دَ لمبو په سیوری خوب ؤ
چې څهٔ نهٔ کېدل، هغه را نه غوښتل زړهٔ

چې زهٔ نهٔ ګورم تهٔ ګورې، چې زهٔ ګورم
سترګې ښکته کړې، وی دغسې دَ غل زړهٔ

ستا دیدن پسې دَ اوښکو ډکې سترګې
دَ ارمان په دروازه کښې مې کتل زړهٔ

شاعری په دې بې حسه معاشره کښې
داسې ده، لکه په غنو کښې راکښل زړهٔ

نهٔ مې ګُل ، نهٔ مې غوټۍ دَ هزارې کړو
هسې ؤ مې خوړ زرینه! په غزل زړهٔ



مهٔ خه! چې څې، نو ساه مې څی درپسې[1]
دَ غرېوه ډک زړګے مې چوی درپسې

دَ فراق فکر مې جنون لمسوی
دَ زغم لمن مې سیرَوی درپسې

دَ بې وسۍ ارمان په مخ دَ حېران
دَ حسرت اوښکې څڅوی درپسې

دَ خاموشۍ کُوکې دَ زړهٔ دَ نُوله
په وینو سرې، خُولې لکوی درپسې

ستا دَ ماشوم ذهن چاپلوسه انداز
محبتونه ګرځوی درپسې

زرینه! څنګ به ګل ورین هېره کړې؟
په هر قدم مخ اړوی درپسې

[1] زما دَ خلورو کالو بچۍ (ګل ورین) دَ جدې نه خپل وطن ته دَ تګ په وخت



www.pukhto.net

# معیار

چې هره ښته ئې لونده وي دَ مزدور په خولو
خپله جونګړه به په داسې محل څنګه ورکړم؟

دَ اوښکو ډکه، دَ غریب بچی دَ خولې نه ویستې
داسې ګمرۍ به خپل بچی ته دَ بل څنګه ورکړم؟

ګل مې راوړے ډېر په مینه دَ چا زلفو له ؤ
هغه دَ ګل نه ښائېسته ده نو ګل څنګه ورکړم؟

دَ یورپی تالا ترغه، په جوته شوی ښائست
دَ خپلې پېغلې یؤ وېښتهٔ دَ اوربل څنګه ورکړم؟

دَ واشنګټن اؤ دَ لندن په عالمی خونړو
امن پسنده پېښؤر اؤ کابل څنګه ورکړم؟

ما وې "محبوبې! څه وطن پرېږدو" نو ؤ ئې وئېل
"دَ وطن مینه دَ جانان په بدل څنګه ورکړم؟"

چې دَ خپل کور کنډر پخپله ماتوی زرینه!
دَ وطن واک په لاس دَ دغسې غل څنګه ورکړم؟

۲۱/۰۳/۱۹۹۱ مکرونة (جدة



نهٔ مې رقیب، نهٔ مې اغیار پاتې شو
یار ؤ زما، اؤ زما یار پاتې شو

دَ زاغ اؤ کاغ په سر شوې خاؤرې دَ باغ
مئېن بلبل ته شین بهار پاتې شو

دَ جام مستی شوه په نشه کښې اوبهٔ
دَ یار په سترګو کښې خمار پاتې شو

دَ زړهٔ وطن مې سو نیولے تیرا
مینې شین سوات کړو، مرغزار پاتې شو

دَ کور واکمن، دَ کلی هر یؤ غماز
دَ یار پښتو ته بې اختیار پاتې شو

زهٔ ؤم نو تهٔ نهٔ وې، چې تهٔ راغللې
وائی زرین، رانه بازار[۷] پاتې شو

[۷] زما دَ کلی نوم بازار/بازارګے



www.pukhto.net